


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# شامیلا

لیکوال

فریدالله مهاجر

**د کتاب حقوق خوندي دي**

د دې کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دی. د متن هر ډول چاپ، نقل، خپرول یا ژباړه د لیکلي اجازې پرته منع ده.

ketabton.com - The Digital Library



# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

په نوم د هغه خالق پیل کوم، چې د رحمت موجونه یې له هستۍ تر هستۍ خپاره دي، د هرې ذرې په سینه کې یې د حکمت نښهاینښودلې، او زما په زړه کې یې د پوهې او د سفر شوق راوستی. هغه رب چې موږ ته یې د فکر ځواک راکړی، د کلمې عزت یې را زده کړی، او د حق لټون یې زموږ فطرت ګرځولی دی.

# ګرانه لوستونکی

هغه پاڼې چې اوس یې لولې او اړوې یوازې خبرې یا جملې نه دي؛ دا د روح د بیدارۍ یوه وړه کیسه ده، د معرفت یو نرم ټکان، او د زړه لپاره یو لاره. په دې کتاب کې هڅه شوې چې کلمات له ریا پرته، له تکلفه لرې، خو له ژورې معنا او صفا سره وړاندې شي. داسې معنا چې زړه پرې آرام شي او فکر پرې روښانه شي.

دا اثر د دې لپاره لیکل شوی چې لوستونکی د خپل ژوند، خپل وجود او خپل رب په اړه یو ځل بیا د تأمل دریځ ته ودرېږي. هر څومره چې نړۍ بوختېږي، غږونه زیاتېږي، او فکرونه ګډوډېږي، هغومره اړتیا ډېرېږي چې انسان خپل دروني خاموشۍ ته ستن شي، او له هغه ځایه د حقیقت رڼا ووینې. دا کتاب غواړي همدا دروازه تا ته پرانیزي.

ketabton.com - The Digital Library



په دې پاڼو کې څومره چې د عقل پیغام دی، هغونه د زړه لهجې ته هم ځای ورکړل شوی. ځکه ژوند یوازې په پوهه نه سمبړي، او یوازې په احساس نه روانیږي؛ دواړه چې سره یو ځای شي، انسان بشپړ درک پیدا کوي.

هیله ده چې دا کتاب ستا د فکر په لاره کې یوه وړه رڼا شي، ستا د زړه په فضا کې یو تازه هوا، او ستا د روح لپاره یو نرم جهېل چې سکون ور وړاندې کړي. که د دې پاڼو له منځه یوازې یوه جمله، یوه کلمه، یا یو احساس هم ستا په زړه کې د خیر یو څرک وځلوی، نو د لیکوال مقصد پوره دی.

راځه، د الله په سپېڅلي نوم دا سفر پیل کړو

کېدای شي دا سفر ستا د فکر لاره بدله کړي، او ستا د روح خوا ته هغه دروازه پرانیزي چې پسې ګرځې ،

په درنښت...

ketabton.com - The Digital Library


## بسم الله الرحمن الرحيم

شروع کوم په نامه د الله چی ډیر زیات مهربان پوره رحم لرونکي دی،

**الله اکبر**

الله تعالی ډیر لوی دی ، د کائنات مالک دی ، هر څه چی پیژنم هر هغه څه چی نه پیژنم ټول د یوه برلاسي خالق مخلوق دې،

**لا إلـه إلا الله**

ژباړه:

په ټوله نړۍ کې هېڅوک د عبادت، بندګۍ، تکيې، امید او وېرې مستحق نه دي،

نه بتان، نه انسانان، نه پیریان، نه دولتونه او نه کوم بل مخلوق،

یوازې الله جل جلاله د عبادت وړ دی، ځکه یواځې هماغه خالق، رازق او مالک دی.

د عبادت حق یوازې الله ته ځانګړی دی،

هماغه یواځې د هستۍ واکمن او د انسانانو روزونکی دی.

## سورة الإخلاص

**بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ**

**قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ١ اللّٰهُ الصَّمَدُ ٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ**

**٣ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ ٤**

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه:

وو ایه(ای پیغمبرص□): الله یواځینی معبود دی، شریک او سیال نه لري.۱

هغه ذات دی چې ټول مخلوقات ورته اړتیا لري، خو هغه هیڅ چا ته اړتیا نه لری،۲

نه اولاد لري او نه د چا اولاد دی، ځکه د کمزوري او محتاجۍ ټولو نښو څخه پاک دی.۳

او هېڅوک، په هېڅ صفت، قدرت، عظمت او کمال کې د هغه ورتهوالی نه لري.۴

## سورۀ الفاتحه (حمد

**بِسْمِ اللَّٰهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ**

**الْحَمْدُ لِلَّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ٢ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ٣ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ٤ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ٥ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ**

**غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ**

**وَلَا الضَّالِّينَ٦**

ژباړه:

ستاینه او شکر یوازې هغه الله ته لائق دي، هغه چې د هستۍ ټول نظام په خپله روزي او اداره کوي۱

ketabton.com - The Digital Library


هغه رحمن دی چې رحمت يې پر ټولو خپور دی، او رحيم دی چې د مؤمنانو په حق کې ځانګړې مهرباني لري.۲ هغه د قيامت مطلق واکمن دی، هغه ورځ چې هر څوک به د خپلو عملونو حساب ورکوي.۳ ای پروردګاره! يوازې ستا بندګي کوو او يوازې له تا مرسته غواړو، ځکه بل څوک حقيقي ځواک نه لري.۴ اې خدايه! موږ نېغی، رښتينې او د نجات لارې ته هدايت کړه.۵ هماغه لاره چې پر خلکو يې نعمت کړی، د ايمان، عمل او معرفت خاوندان.

نه لاره ده هغو کسانو چې ستا غضب پر سوی ،

او نه د هغو په لاره چې د نادانۍ او ګمراهۍ له کبله بې‌لارې شوي.۶

هلک دا توری هميشه پر ژبه جاری وه،

او خپل له کورنی سره د ژړی په کمپونو کې اوسيده ، له نوی نړی سره بيخی بيګانه وو، ديني او دونياوی تعليم يې ډير کم کړی وو، يواځې هغه څه يې زده کړې وه چې پلار او مور يې ورښولی وه ، خو د مطالعې او کتاب سخت شوقی وو، داسی چی پلار به يې د کار يا روزانی لپاره قندهار ته تلی نو هلک به يواځې د کتاب د راوړلو غوښتنه کول ، پلار يې ډير ښه سړی وو يو تعليم يافته او مجاهد ، چی د سرو لښکرو د ماتې وروسته غازی ، پاته سوی وو ، او خپل د کورنۍ مشري يې کوله،

د هلک سلوک له خپلو خپلوانو او دوستانو سره ډير ښه او غوره وو،

مور پلار او د کلی خلک ترې خوشاله وه ، يوه ورځ له معمول سره سم هلک ، څو د اوبو بوشکې له ځانه سره راواخستلی او د رود د پوری غاړی له برمی

ketabton.com - The Digital Library



څخه يې اوبه راوړي، هلته يې غلام جان کاکا وليد، غلام جان کاکا چې برمی ته يې د اوبو لپاره بوشکې راوړي وی ، خو ډیر سپینږیري سوی وو له وسه يې تیره وه او په بی حوصلګي برمه وهله او بوشکې يې ډکولی، هلک ور وړاندې شو ويل غلام جان کاکا زه برمه وهم تاسو فقط بوشکې ورته نیسي چی ډکې شي، غلام جان کاکا ورته د نیکمرغي دعا وکړه، بوشکې ډکې سوی ، هلک ويل کاکا بوشکې به درسره یوسم هغه مننه وکړه ويل يا لمسیه زه يې خپله کولای سم همدومره چی دی مرسته وکړه مننه، هلک خپلی بوشکې ډکې کړې او کورته راغلی، غرمه وه د سرای په منځ کې منا ولاړه وه، ده منا په سایه کې له کورنی سره کښیناست ده کوچی ملاصاحب له کوره يې یو پتک شلومبی په لس افغانۍ اخستی وی هغه يې له شنو پیازو، وچې ډوډی، سیر، او نعناع، سره څښلي، له خوراک وروسته د منا سایې ته يې کتاب مطالعه کوي، چی زړه يې خوب یووړه،

خوب کې د یو دروازې مخکې ولاړ دی دروازه يې وټکول هیچا نه خلاصول او نه يې ږغ کوي تر ډیره ولاړ وو خو بیا هم چا دروازه خلاصه نه کړه په دې حال کې له خوبه راویښ شو ويل دا څنګه خوب وو

خو خیر په دی کی لس کاله تیر سول هلک دوی له کورنی سره ده هرات و یوی سیمی ته لاړل هلته څه موده له کورنی سره وو او بیا له هغه ځای د کار لپاره ایران ته کډه سو اوس نو هلک ځوان سوی دی او کار کوي د ځان او کورنۍ لپاره ، کله د اوستا برنا سره کار کوي کله پر فلکه او کله بیا په باغونو کې خو د مسافری او کار ژوند دی تیریږي ، په همدې کی يې د یو چا سره په

ketabton.com - The Digital Library



ویلا کی کار شروع کړی ده ویلای له رغېدو او بشپړتیا وروسته همالته ده هغی ویلا ساتونکي سو، ورځی کلونه تیریږي یوه غرمه ځوان شلومبی واخیستلي نعناع سیر شنه پیاز او یو شین تریخ مرچ ور اضافه کړی ، له نیمه کلکي بربری ډوډئ سره یی خوړلی ، له هغه وروسته آرام پریوت زړه یې خوب

یوړ خوب ویني چې یو نوی ځای نوی منطقه او نوی ماحول وی، یو داسې ځای چی ده تر اوسه نه وو لیدلی د خوبونو او رویا نړی چی ناممکن پکښی ممکن دی، خیالونو پکښې په ریښتیا بدلیږي ، ځوان ده یوه ښار دروازی ته ورسیدې ورخطا وو لکه لاره یې چې ورکه کړي وی دروازه کټ مټ هماغه وه چې د ځو کاله مخکې خوب کې لیدلی وه ،

یوه پیغله چی د حیا او عفته ډکه ښکاریده ، په مخه ورغله ځوان په ناپیژندلی انداز ورته وکتل، پیغله د دروازې مخې ته راغله د دروازې مخکې پر لوحه یو څه لیکلي وه ، ځوان یې په لیکنه پوه نه شو په بله ژبه لیکل سوی وه، زړه نازړه یې پیغلې ښخه پوښتنه وکړه هی محترمې دا کم ځای دی او پر دی لوحه څه لیکلي دي ، پیغلې په حیا ناکه بږغ د پلو تر شا ورته وویل چې پر دی لوحه لیکلي، د علم ښار ته ښه راغلاست ، ځوان حیران سو او پیغلې ښخه یې پوښتنه وکړه ایا تاسو هم په همدی ښار کی ژوند کوی ، پیغلې ځواب ورکړ هو موږ په همدی ښار کې ژوند کوو، او پیغلې دروازه وټکول د دروازې له شا ښخه بږغ وسو څوک یې پیغلې وویل شامیلا یم د میرویس لور، یو عسکر دروازه خلاصه کړه ، شامیلا ، دننه لاړه او دروازه وتړل سوه ځوان یو ګړی ده

دروازې مخې ته ولاړ وو ، خو اخر ده هم دروازه وټکول ، د دروازې له شا ږغ وسو څوک یې ځوان ویل مسافر یم لاره می ورکه کړي ده،

هغوی ویل نوم دی څه دی ده ویل ځوان ، هغوی ویل د پلار نوم دی څه دی ویل عبیدالله ، هغوی بیا وپوښتل د کوم ځای یې، ځوان ویل د افغانستان عسکر چی دا نوم واوریدې،

په تلوار یې دروازه خلاصه کړه ویل ډیر ښه راغلاست او ځوان یې په غیږ کې ټینګ ونیوه ځوان حیران سو ویل وروره څه خبره ده، عسکر ورته ویل ، چی وروره زه هم دافغانستان یم خو کلونه مخکې راغلی یم ، او دادی دلته ژوند کوم، خو له کله نه چې راغلی یم دلته عسکر یم تر اوسه می لاره نه ده پیدا کړي چی افغانستان ته ولاړ سم، ځوان حیران سو

عسکر دوام ورکړ ویل زه په یو وخت کې د افغانستان د حکومت عسکر وم ،

خپل خدمت می کوی د عسکري موده دوه کاله وه باید ما پوره کړی وای خو ما یې حوصله نه لرله له عسکري وتښتېدلم ، د غره خواته راغلم په غره کی شپه راباندې راغله ستړی هم وم او هلته ده یو غټی ډبری پر سر پریوتلم، ویده سوم کله چې راویښ شوم ددی دروازې مخکې پروت وم او دې ښار ته راغلم بل کار می نه شو کولای نو عسکر سوم دا څو کاله کیږی په دی ځای کی عسکري کوم زما او زما د کورنۍ پوښاک څښاک خوراک ټول مصارف ددی ښار حکومت راکوي او دلته ښځه بچي لرم ،

په دی ښار کی د مختلفو ملکونو مسافر زما او ستا په شان نابوبره راغلی دی ، او هر څوک په یو کار بوخت دی او دولت یې ټول مصارف ورکوي ، ځوان

ketabton.com - The Digital Library



حیران وو چی دا اوس خوب وینې که ویښ دی ، په دی حال کی عسکر ورته وویل ځوان جانه تاسو باید و سپینږیري اوستاد ته چی ددی ښار پاچا دی ورسي او کاروبار ځان ته خوښ کړی ، ځوان ویل هغه څنګه وکړم، هغه ویل دلته یا باید کار وکړي یا باید زدکړه ، که کار وکړي هم حکومت ستاسو مصارف په غاړه اخلي او که کار وکړي هم ، ځوان ویل زه سپینږیري ته څنګه او له کومه ورسم ، عسکر ویل په ښار کې پوښتنه وکړه چي د سپینږیري استاد تالار چیرې دی هر څوک یې در ښیي ، ابس ځوان راروان شو راغلی ، په ښار کې ګرځي چی هغه په دروازه کې نجلۍ یې په مخه ورغله ، ځوان ورته سلام وکړی او ستړی مشي ، هغی د سلام جواب ورکړ ، ځوان ویل مزاحمت می غرض نه دی ستاسو څخه می یو پوښتنه لرله؟ هغی ویل مهرباني وپوښتئ ، ځوان ویل ماته د دروازی عسکر ددی ښار په اړه ویلي دي ، او اوس په سپینږیري اوستاد پسی ګرځم ، که کیږی راته یې ځای راوښیاست ، شامایلی ویل زه هغی خواته ځم که تاسو خوښه وي زه به مو هغه ته ورولم، ځوان ویل بیخی می خوښه ده ، خدای دی اجر درکړي ، ابس شامیلا د مخه ، دی په پسی سو راغله د یو غټ تالار مخی ته د تالار په دروازه ورننوتل د تالار په منځ کې یو سپینږیري سړی وو شامیلا سپینږیري ته ورنږدې سوه ویل سلامونه معلم صاحب هغوی هم ځواب ورکړ ، ځوان هم سلام وکړ هغوي ځواب ورکړ ، ورسته شامایلی ټول حال اوستاد ته ووایه، استاد خوشحاله سو او په سترګو کې اوبه ډنډ سوی ویل ځوانه ډیر ښه راغلاست او ځوان یې پر تندي مچ کړ شامیلا او ځوان حیران شوه چی دا څه کیسه ده، سپینږیري ویل

ketabton.com - The Digital Library



دا ځوان زما د هیواد زما د سیمې دی ، شامایلی ویل هغه څنګه اوستاد ویل ، راځی چی دلته په دغه چوکی کښېني چی زه درته کیسه وکړم ،

## ده سپينږيري استاد کيسه

سپينږيري ويل کلونه مخکې زه چی ځوان وم د افغانستان په یوه سیمه کې اوسېدم، زما مور پلار ورونه او کورنی وه، د شوروي اتحاد یرغل پر افغانستان د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په ۲۷مه نېټه پیل شو ، هغه وخت زه ۲۲ کلن ځوان وم

په یوه کوچني کلي کې اوسیدو، د غرونو په لمنه، کی یو څو نور ځوانان هم اوسېدل چې د وطن مینه یې په زړه کې د اور په څېر بله وه. جګړه ګرمه وه او شوروي ټانکونه د هیواد پر خاورې د اشغال سیوري غورځاوه. خو د همدې سیوري تر شا د افغان ځوانانو د غیرت رڼا نه مړ کېدله.

یو له دغو ځوانانو څخه زما ملګري احمد وو یو ارام خو زړور هلک. هغه د شپې پر غونډۍ ولاړ و، د کلي څراغونه یې کتل او د خپلې مور خبرې یې په زړه کې ګرځولې:

"زویه، وطن مور ده... وطن بې له زامنو نه شي پاتې کېدای".

احمد، عبدالرحیم، عبدالکریم او نور هلکان هره ورځ له ایمان، دعا او امید سره روانېدل. وسله یې کمزورې وه، خو زړه یې پیاوړی. هغوی به د خاورې بوی ته سوګند خوړی چې خپل وطن به یرغلګرو ته نه پرېږدي.

ketabton.com - The Digital Library



یو ماښام چې جګړه سخته شوه، احمد زما لاس ونیو او ویې ویل:

"موږ د خاورې ساتونکي یو. که موږ نه شو دربېدلی، نو څوک به ودریږي؟"

ما هم ورسره نظر یو وو،

زه هم د هماغو زلمیانو له ډلې وم؛ د وطن د خاورې بوی مې په زړه کې د ایمان په شان ځای درلود. هره ورځ به له خپلو ملګرو سره د غرو په لمنو کې ګرځېدم، د سپکو وسلو او درنو دعاوو سره.

یوه ورځ جګړه ډېره سخته شوه. د غرونو له سرونو د باروتو لوخړې پورته کېدې او د ټانک غږونه به د وریځو غوندې را تاوېدل. زه د رحیم او کریم ترڅنګ روان وم چې ناڅاپه ده جیټ غږ سو او بمبارۍ یې وکړه ده بمبارۍ غږ مې هرڅه واخیستل... او بس، دنیا مې توره شوه.

په نیمه بېهوښۍ کې مې احساس کاوه چې وینه مې د لاس پر سر څڅیږي. د غرونو یخ باد مې پر مخ لګېده، خو سترګی می نه خلاصیدی.ولیدلی وم، یوازې... خو بیا داسې یو شی وشول چې هېڅکله به یې هېر نه کړم.

د باد له منځه د قدمونو یو ډېر نرم غږ را روان شو. داسې لکه د ګل پر پاڼه چې څوک روان وي. سترګې مې په زور پرانیستې؛ ما یوه نجلۍ ولیدله، سپین شال یې پر سر و، او مخ یې د غرونو د سپیدې په شان روښانه.

هغې زما ټپ ته وکتل، د اوبو یوه کوچنۍ مشکۍ یې زما څنګ ته کېښوده او په ډېر نرم غږ یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library


"ورورە، سترگې مه رپوه... الله به تا ساتي".

د هغې لاسونه یخ نه ول، تاوده ول، لکه د رحمت سیوری. زما په ټپ یې پټۍ وتړله، او زه د هغې د حضور په آرامۍ کې بیا بې‌هوښه شوم.

کله چې په هوښ کې راغلم دلته وم ددی ښار د دروازی مخې ته نه می ټپ وو نه خوږ سوی وم لکه له خوبه چی ویښ سم، بیا راغلم ښار ته ډیری هڅی می وکړی چی د بیرته تللو یو لار پیدا کړه چی تر اوسه نه یم بریالی شوی، ما دلته تعلیم وکړ او نوی ژوند می پیل کړ واده می وکړ بچیان لرم او اوس په دی ښار کی ده سپینږیري استاد په نامه پیژندل کیږم او ددی ښار خلکو خپل مشر ټاکلی یم، ځوان چی دا کیسه واورېدل وژړل یې ، ویل نو زه هم بیرته نشم کولی لاړ سم ، اوستاد تسلی ورکړه ویل څه معلومه ده شاید په دواړو یوه لاره ومومو ، ځوان لږ په ارامه سو، شامایلی له دوی څخه رخصت واخیست او لاړه، ځوان سپینږیري اوستاد ته ویل محترمه زه اوس څه وکړم ، لاره او چاره راوښیه ، استاد ورته ویل تاسو تعلیم کړی هغه ویل کړی می خو ډیر نه ، ویل ډیر ښه زه یو پیشنهاد لرم که یې قبول کړي نو نوی ژوند به دی ډیر ښه پیل سی تاسو تعلیم وکړی ځکه تعلیم د ډیرو چارو لاره ده، څه خبر یې ګوندې په همدغه وخت کې خپل کور کلی هیواد ته ورسیږي ، ځوان ویل سمه ده ، استاد ویل سبا چی شامیلا راغله له هغې سره یو ځای زدکړې پیل کړه ځکه هغه به تاسو ته ډیره مرسته وکړی ، ځوان ورسره ومنله ، سپینږیري اوستاد ویل همدلته په تالار کې تاسو ته د هستوګنې ځای شته، ځوان مننه وکړه خو خیر شپه تیره سوه دا بل سهار ځوان د تالار منځ کې د استاد او شامایلی په انتظار

ketabton.com - The Digital Library


ولاړ وو، کړی وروسته شامیلا او اوستاد راغله ، ځوان ښه راغلاست ورته وواېه ،سپین ږیري استاد وویل دلته به ستا لومړنۍ زده کړه طب او د انسان د بدن علم وي، هغه بل استاد ته چې د کتابخانې په یوه خوا کې ولاړ و غږ وکړ او ویې ویل راسه، سپین ږیري استاد له شامیلا او ځوان څخه رخصت واخیست او ولاړ.هغه بل استاد راغی او ویې ویل السلام علیکم، ځوان ژر وویل وعلیکم السلام، عالم موسکی شو او ویې ویل زه حکیم عبدالرحمن یم، دلته د طب او د انسان د بدن د علم استاد یم، ځوان حیران شو او ویې ویل طب، استاد وویل هو، انسان تر ټولو پېچلی مخلوق دی، که څوک د انسان بدن وپېژني د ژوند ډېر رازونه به درک کړي، استاد د ځوان لوری ته وکتل ویل فکر کوم تاسو ده زدکړې مینوال یاست ځوان لږ موسکی شو او ویې ویل هو خو زما پوهه او زدکړه نه شته نالوستي یم ، استاد وویل همدا د علم لومړی شرط دی، هغه څوک چې ځان عالم بولي ډېر وخت ناپوه وي، خو هغه څوک چې ځان زده کوونکی بولي ډېر ژر پوهه ترلاسه کوي، استاد ځوان ته اشاره وکړه او ویې ویل راځه نن به د انسان د بدن له لومړي راز څخه پیل وکړو، د کتابتون تر شا یوه لوی تالار وه، د تالار په منځ کې د انسان د بدن یو لوی ماډل ولاړ و،

ketabton.com - The Digital Library


# د طب زدکړه

استاد وویل ځوان د انسان بدن شاوخوا اووه دېرش تریلیونه حجرې لري، ځوان حیران شو او ویې ویل اووه دېرش تریلیونه، استاد سر وخوځاوه او ویې ویل هو، هره حجره لکه یو کوچنی ښار دی، پکښې انرژي تولیدېږي، مواد انتقالېږي او معلومات لېږدول کېږي، هغه دوام ورکړ د انسان بدن څو مهم سیستمونه لري د اعصابو سیستم، د وینې سیستم، د تنفس سیستم، د هاضمې سیستم، د عضلو او هډوکو سیستم او د دفاع سیستم، ځوان وویل نو بدن لکه یو حکومت دی چې هره اداره خپله دنده لري، استاد وخندل او ویې ویل هو بالکل، استاد د ماډل سر ته اشاره وکړه او ویې ویل دا د انسان تر ټولو مهم غړی دی

## مغز

د انسان مغز د بدن تر ټولو زیاته انرژي مصرفوي، هغه وویل مغز شاوخوا اتیا تر سل میلیارده نیورونونه لري، ځوان حیران شو او ویې پوښتل نیورونونه څه دي، استاد وویل دا هغه حجرې دي چې فکر، حافظه او احساسات کنټرولوي، هغه زیاته کړه د مغز درې مهمې برخې دي مخکنی مغز د فکر او تصمیم لپاره، منځنی مغز د حرکت او توازن لپاره او شا مغز د بدن د حیاتي فعالیتونو لپاره، ځوان وپوښتل استاد د مغز د روغ ساتلو لپاره څه کول پکار دي، استاد وویل څو مهم ټکي دي، سالمه غذا لکه ماهي، مغز لرونکي مېوې لکه بادام، جوز او پسته، سبزیجات او تازه مېوې، د غوړو فاسټ فوډ او شکرو کمول او کافي اوبه څښل، ذهني تمرین لکه مطالعه، لیکل، معما او فکري لوبې او نوې مهارتونه

ketabton.com - The Digital Library


زده کول، بدني فعالیت لکه هره ورځ لږ تر لږه دېرش دقیقې قدم وهل یا نرم ورزش چې د وینې جریان ښه کوي او مغز تازه ساتي، کافي خوب په شپه کې اووه تر اته ساعته او منظم د خوب وخت، ارام او روحي سلامتۍ ته پاملرنه لکه د سترس کمول، ژوره ساه، ذکر او دعا او د ارامۍ لنډې وقفې اخیستل، له ضررونو ځان ساتل لکه سګرټ او الکول نه کارول او د سر ساتنه، طبي کنټرول لکه د شکرې، فشار او کولیسټرول کنټرولول، ځوان وویل ډېر ښه استاد، استاد وویل آفرین، استاد د سینې برخې ته اشاره وکړه او ویې ویل،

## زړه

د انسان زړه د ژوند پمپ دی، زړه هره دقیقه شاوخوا اویا ځله ضربان کوي او په یوه ورځ کې نږدې اووه زره لیټره وینه پمپ کوي، ځوان حیران شو او ویې ویل دا خو ډېر زیاته ده، استاد وویل هو ځکه که زړه ودرېږي ژوند هم پای ته رسېږي، ځوان وویل نو دا ډېر مهم غړی دی لږ نور معلومات هم راکړئ، استاد شامیلا ته اشاره وکړه او ویې ویل تاسو کولی شئ د زړه په اړه معلومات وړاندې کړئ، هغې وویل بالکل کولی شم، بیا یې ځوان ته مخ کړ او ویې ویل ځوان جانه زړه د بدن اصلي پمپ دی، هره ورځ زرګونه ځله درزېږي او وینه ټول بدن ته لېږي، د سینې په منځ کې لږ چپ لوري ته پروت دی او څلور خونې لري دوه دهلېزونه او دوه بطینونه، دنده یې دا ده چې د بدن ټولو حجرو ته اکسیجن او غذا ورسوي او ککړه وینه بېرته سږو ته ولېږي، ځوان وویل ماشاءالله شامیلا تا ډېر ښه معلومات راکړل، شامیلا وویل هیله کوم همدې لپاره مې دلته راوستی یې، ځوان وویل د زړه د سالم ساتلو لپاره

ketabton.com - The Digital Library


څه کول پکار دي، شامیلا وویل سالم خواړه لکه سبزیجات، مېوې، کاملې دانې، زیتون غوړي، مغز لرونکي مېوې او ماهي کارول او د مالګې، غوړو، فاسټ فوډ او بورې کمول، منظم حرکت لکه هره ورځ دېرش دقیقې قدم وهل، د وزن کنټرول، د وینې فشار شکر او چربي کنټرول، له سګرټو او نشه یي موادو لرې اوسېدل، د سترس کمول، ذکر دعا او منظم خوب او منظم طبی معاینه، استاد د کالبوت پښتورګو ته اشاره وکړه او ویې ویل

پښتورګي

پښتورګی د انسان د بدن مهم غړي دي چې د ملا دواړو خواوو ته موقعیت لري او عموماً انسان دوه پښتورګي لري، پښتورګي د بدن د پاکولو او تنظیم یو مهم سیستم دی چې د وینې څخه زهرجن مواد لرې کوي، متیازې جوړوي، د بدن اضافي اوبه خارجوي، د وینې فشار کنټرولوي، د بدن املاح تنظیموي او د سري وینې حجرو د جوړېدو لپاره هارمون تولیدوي، ځوان وپوښتل استاد پښتورګی ولې مهم دي، استاد وویل که پښتورګي سم کار ونه کړي په بدن کې زهرجن مواد جمع کیږي او جدي ستونزې پیدا کیږي، ځوان وپوښتل د خرابېدو لاملونه یې څه دي، استاد وویل شکره، لوړ فشار، د درملو بې احتیاطي، انتانات، جنیټیکي ناروغۍ او د اوبو کم استعمال، ځوان وپوښتل د سالم ساتلو لارې یې څه دي، استاد وویل کافي اوبه څښل، د فشار او شکر کنټرول، د مالګې کم استعمال، بې ضرورته درمل نه کارول، متوازن غذا، د وزن کنټرول، سګرټ نه څکول او منظم طبي معاینات، استاد وروسته د معدې لور ته اشاره وکړه او ویې ویل

ketabton.com - The Digital Library


## معده

د هاضمې مهم غړی دی چې د زړه لاندې د چپې خوا په منځ کې موقعیت لري او د خوراکي موادو نرمولو او کیمیاوي تجزیې دنده لري، ځوان وویل دا هم ډېر مهم غړی دی، استاد وویل هو که معده سالمه نه وي ټول بدن اغېزمن کیږي، د معدې د سالم ساتلو لارې دا دي منظم او متوازن خوراک، د خوړو نظم، کافي اوبه، د سترس کمول، له ضررناکو موادو ځان ساتل، فزیکي حرکت او طبی معاینه، وروسته استاد د کبد یا اینې لور ته اشاره وکړه او ویې ویل

## کبد

کبد د بدن له مهمو غړو څخه دی چې د نس په ښي پورتنۍ برخه کې موقعیت لري او د خوړو مواد بدلوي، زهرجن مواد پاکوي، صفرا جوړوي او انرژي ذخیره کوي، ځوان وویل دا هم ډېر مهم غړی دی، استاد وویل هو بلکل د بدن هر غړی خپله دنده لري، ځوان وپوښتل کبد ته کومې ناروغۍ پېښېدای شي، استاد وویل هپاتیت، د کبد غوړ کېدل، سیروز او د کبد سرطان، ځوان وویل د دې نښې څه دي، استاد وویل سترېیا، د سترګو ژېړوالی، د نس درد او د اشتها کمېدل، ځوان وویل خدای دې مو له ناروغیو وساتي، استاد وویل امین، ځوان وپوښتل د کبد د سالم ساتلو لارې څه دي، استاد وویل سالم خواړه، د وزن کنټرول، له نشه یي موادو ځان ساتل، کافي اوبه، منظم ورزش او د هپاتیت B

ketabton.com - The Digital Library


واکسین، استاد وروسته وویل انسانان له څو لویو ناروغیو سره ډېر مخ دي د زړه ناروغۍ، سرطان، شکر، د سږو ناروغۍ او ذهني ناروغۍ، ځوان وپوښتل ولې دا زیاتې دي، استاد وویل درې لوی علتونه لري ناسم خوراک، کم حرکت او ذهني فشار، ځوان وپوښتل د روغ ژوند اصول څه دي، استاد وویل پاک او متوازن غذا، ورځنی حرکت، کافي خوب، ذهني ارام او اعتدال، استاد وویل اسلام هم د همدې اصولو لارښوونه کوي، شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل استاد تل وایي چې علم او دین سره مخالف نه دي، استاد وویل هو بلکل بلکې یو بل پیاوړي کوي، وروسته استاد ځوان او شامیلا د یوې الماری مخې ته راوستل او ویې ویل دا د حکمت کتابونه دي، هغه وویل

## یوناني طب

د بدن د څلورو اخلاطو نظریه لري دم، بلغم، صفرا او سودا، که دا څلور په توازن کې وي انسان روغ وي او که ګډوډ شي ناروغي پیدا کېږي، ځوان وپوښتل نو درملنه څه ده، استاد وویل درې لارې لري غذا، بوټي او د ژوند طرز بدلول، شامیلا ورو ځوان ته وکتل او موسکۍ شوه ویې ویل دا یوازې د علم پیل دی، ځوان حیران و او ویې ویل زه داسې احساس کوم لکه څو کاله مې دلته تېر کړي وي، استاد موسکی شو او ویې ویل نه دا یوازې لومړی ورځ ده.

ورځ تیره سوه دا بله ورځ راغله سهار ځوان راغلی ګوری چی شامیلا او استاد دواړه ناست وو او ویې ویل ځوان ښه راغلاست، ځوان وویل مننه

ketabton.com - The Digital Library


ډېر خوشحاله یم چې بیا هم تاسو سره وینم، هغوی وویل مونږ هم ستا انتظار کاوه، استاد وویل نن به،

## دانسان د بدن درې مهم سیستمونه

په تفصیل سره زده کړو، ځوان په شوق وویل کوم سیستمونه، استاد وویل د تنفس سیستم، د هاضمې سیستم او د بدن دفاعي سیستم، استاد د انسان د سینې د ماډل مخې ته ودرېدی او ویې ویل انسان هره ورځ شاوخوا شل زره ځله ساه اخلي، ځوان حیران شو او ویې ویل ما هېڅکله دا نه دي شمېرلي، استاد موسکی شو او ویې ویل ډېر خلک یې نه شمېرې خو ژوند پرې ولاړ دی، هغه د سږو ماډل ته اشاره وکړه او ویې ویل هر انسان دوه سږي

لري، دا نرم سپنجي غړي دي چې د هوا څخه اکسیجن اخلي، هغه دوام ورکړ کله چې انسان ساه واخلي هوا د پوزې له لارې بدن ته داخلیږي او لار یې داسې ده پوزه، ستونی، حلق، نلۍ یا تراشیا او بیا سږي، استاد وویل په سږو کې کوچني کڅوړې دي چې الویولي بلل کیږي او د انسان په سږو کې شاوخوا درې سوه میلیونه الویولي شته، ځوان وویل دا څه کوي، استاد وویل همدلته د اکسیجن او کاربن ډای اکساید تبادله کیږي، وینه اکسیجن اخلي او بدن ته یې رسوي، استاد وویل ځینې مشهورې ناروغۍ چې سږي زیانمنوي دا دي اسما یا د ساه تنګي، سینه بغل، نري رنځ یا TB او د سږو سرطان، ځوان پوښتنه وکړه د دې مخنیوی څنګه کیږي، استاد وویل پاکه هوا، تمباکو نه کارول، ورزش او

ketabton.com - The Digital Library


د بدن قوي دفاعي سیستم، وروسته استاد د بل ماډل مخې ته ولاړ شو او ویې ویل انسان د خوړو پرته ژوند نه شي کولی خو خواړه باید سم هضم شي، هغه وویل د هاضمې سیستم له خولې پیل کیږي او د هاضمې لارې دا دي خوله، مرۍ، معده، وړه کولمه او لویه کولمه، استاد وویل په خوله کې لاړې د خوړو ماتول پیلوي او په معده کې اسید او انزایمونه خواړه نور هم تجزیه کوي، ځوان پوښتنه وکړه معده څومره قوي ده، استاد وویل د معدې اسید دومره قوي دی چې فلز هم زیانمنولی شي خو معده خپل ځان د ځانګړي پوښ له لارې ساتي، استاد د بدن په ښي اړخ کې یو لوی غړی وښود او ویې ویل دا ځیګر دی، هغه وویل ځیګر د بدن تر ټولو لوی داخلي غړی دی او دندې یې د زهرو پاکول، د انرژۍ ذخیره کول، د صفرا تولید او د وینې د کیمیاوي توازن ساتل دي، ځوان وویل نو که ځیګر خراب شي بدن ته څه کیږي، استاد وویل انسان ژر ناروغ کیږي او ځینې مهمې ناروغۍ یې هیپاتایتس، د ځیګر غوړوالی او سیروز دي، وروسته استاد د بل ماډل مخې ته ودرېد او ویې ویل انسان یوازې نه دی، هره ورځ میلیونونه میکروبونه بدن ته د ننوتلو هڅه کوي، ځوان حیران شو او ویې ویل میکروبونه، استاد وویل بکتریاوې، ویروسونه او فنګسونه پر بدن حمله کوي خو بدن یو قوي پوځ لري چې دفاعي سیستم بلل کیږي، دا پوځ له څو برخو جوړ دی لکه سپینې وینې حجرې، انټي باډي او لمفاوي سیستم، استاد وویل کله چې میکروب بدن ته داخل شي سپینې حجرې پرې حمله کوي، استاد ورو وویل ځوان جانه د انسان بدن د الله تعالی له ستر قدرتونو څخه یو دی، هره حجره، هر رګ او هره ساه د یو دقیق نظام برخه ده، ځوان وویل ښکه الله اکبر، هغه د بدن ماډل ته کتل او ورو یې وویل ما مخکې یوازې ژوند کاوه

ketabton.com - The Digital Library


خو اوس پوهېږم چې ژوند څومره پېچلی دی، شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل او دا یوازې پیل دی، ځوان پوښتنه وکړه بیا به څه زده کوو، استاد وویل راتلونکې ورځ به موږ د درملو او درملنې علم زده کړو، ته به زده کړې چې څنګه تبه درملنه کړې، انتان کنټرول کړې او د زړه او شکر ناروغۍ اداره کړې، شامیلا ورو وویل کله چې دا کال پای ته ورسېږي ته به داسې علم ولرې چې ډېر ډاکټران یې هم نه لري، ځوان ژوره ساه واخیسته او د علم د دې اوږده سفر یوه بله ورځ پای ته ورسېده.شپه تیره سوه په دغه بل سهار ځوان راغلی تالار ته نژدی پارک ته

شاوخوا یې وکتل، حکیم عبدالرحمن یې په سترګو شو. هغه ورنږدې شو او ویې ویل: سلامونه. حکیم وویل: وعلیکم سلام، ښه راغلاست. حکیم ویل راسره راځه چې نن یو نوی شی در وښیم. دواړه د یو تالار پر لور روان شول. دا تالار د نورو تالارونو څخه بېل و؛ په الماریو کې درمل، بوټي، زړې نسخې او عصري وسایل ایښي وو. استاد وویل: ځوان ، نن به د طب تر ټولو مهم درس پیل کړو. ځوان وپوښتل: کوم درس؟ استاد ورو وویل:

## د ناروغیو پېژندنه او درملنه

. ځوان وویل: هو، زما هم سودا ده، ناروغي څه ده؟ استاد وویل: کله چې د بدن طبیعي توازن ګډوډ شي، ناروغي رامنځته کېږي. هغه زیاته کړه چې ناروغۍ درې لوی ډولونه لري: انتاني ناروغۍ، مزمنې ناروغۍ او جنیټیک ناروغۍ. ځوان وپوښتل: انتاني ناروغۍ څه دي؟ استاد وویل: هغه ناروغۍ

ketabton.com - The Digital Library


چې د میکروبونو له لارې خپرېږي، لکه انفلونزا، نري رنځ، ملاریا او کورونا.
ځوان بیا وپوښتل: استاد،

تبه

هم ناروغي ده؟ استاد وویل: تبه خپله ناروغي نه ده، بلکې د بدن دفاعي غبرګون دی. ځوان وویل: یعنې بدن جګړه کوي؟ استاد موسکی شو او ویې ویل: بالکل، کله چې میکروب بدن ته داخل شي، بدن خپل حرارت لوړوي تر څو میکروبونه کمزوري کړي. ځوان وپوښتل: د تبې درملنه څه ده؟ استاد وویل: استراحت، اوبه څښل او مناسب درمل. هغه زیاته کړه: خو که تبه ډېره لوړه شي، بیا باید درمل وکارول شي.

## د زړه ناروغي

وروسته استاد د زړه د یو ماډل مخې ته ودرېد او ویې ویل: د نړۍ تر ټولو ډېرې مړینې د زړه د ناروغیو له امله کېږي. مهم علتونه یې د وینې لوړ فشار، زیات غوړ، سګرټ او کم حرکت دي. ځوان وپوښتل: د زړه ساتنه څنګه کېږي؟ استاد وویل: څلور مهم اصول لري؛ ورزش، کمه مالګه، متوازن غذا او ذهني ارام. ځوان وویل: استاد،

## شکر

څنګه ناروغي ده؟ استاد وویل: شکر هغه ناروغي ده چې د وینې شکر لوړ شي. دا ناروغي د انسولین له ستونزې سره تړاو لري. انسولین هغه هورمون دی چې شکر د حجرو دننه رسوي. که انسولین کم شي یا کار ونه کړي، شکر

ketabton.com - The Digital Library


په وينه کې پاتې کيږي. ځوان وپوښتل: ايا شکر ځانګړې نښې لري؟ استاد وويل: هو، مهمې نښې يې زياته تنده، زيات ادرار، ستړيا او د وزن کمېدل دي. ځوان وويل: ايا دا درملنه لري؟ استاد وويل: په بشپړ ډول درملنه نه لري، خو کنټرول کېدای شي. لارې يې صحي غذا، ورزش، درمل او کله کله انسولين دي. ځوان بيا وپوښتل:

## سرطان

څنګه ناروغي ده؟ تالار ناڅاپه ډېر چوپ شو. استاد وويل: سرطان هغه ناروغي ده چې حجرې بې کنټروله وده وکړي. ځوان وپوښتل: ولې داسې کيږي؟ استاد وويل: کله د جينونو د بدلون له امله او کله د چاپېريال له امله. مهم عوامل يې تمباکو، کيمياوي مواد، اشعې او ځينې ويروسونه دي. خو استاد وويل چې اوس ساينس ډېر پرمختګ کړی. د درملنې لارې يې جراحي، کيموتراپي، اشعوي درملنه او نوې معافيتي درملنه ده. په همدې وخت کې ځوان شاميلا ته متوجه شو. شاميلا د يوې الماریٔ څخه څو ډوله بوټي راوايستل. ځوان وپوښتل: دا څه دي؟ شاميلا وخندل او ويې ويل: طبيعت هم يو لوی درملتون دی. ځينې مهم درمليز بوټي لکه زنجبيل چې د هاضمې لپاره ډېر ښه دی، هوړه چې د زړه لپاره ګټوره ده، شات چې د بدن دفاع قوي کوي او تور زعفران چې د مزاج لپاره ګټور دی. استاد وويل: هو، خو بوټي بايد د علم له مخې وکارول شي. بيا استاد ځوان ته مخه کړه او ويې ويل: ځوان ، يو حقيقي طبيب يوازې درمل نه ورکوي، هغه رحم، صبر او حکمت هم لري. ځوان وپوښتل: ولې؟ استاد وويل: ځکه ناروغ يوازې د بدن درد نه لري، کله کله د زړه يا روحي

ketabton.com - The Digital Library



درد هم لري. شاميلا وويل: همدا دلیل دی چې استاد تل وايي طب یو عبادت دی. څوان ژور فکر کې لاړ. هغه احساس کاوه چې د علم دا نړۍ یوازې د معلوماتو نه ده، بلکې د انسانیت نړۍ هم ده.

## رياضي ښنار

سهار وختي چې لمر د ختیځ له غرو ورو ورو پورته کېده، شاميلا د څوان ترخنګ ولاړه وه او په نرم غږ یې ورته وويل: څوان جانه، نن به تا د هغه ښار لیدو ته یوسم چې د عقل او نظم ښار بلل کېږي. څوان په حیرانتیا وويل: دا به کوم ښار وي؟ شاميلا موسکۍ شوه او ویې ویل: دا د رياضي ښار دی. بیا هغې د رڼا یوه دروازه پرانیسته او څوان ، شاميلا او استاد عبدالرحمن د علم یوې نوې نړۍ ته داخل شول. کله چې څوان خپلې سترګې شاوخوا واړولې، حیران شو؛ ځکه د ښار ټولې ودانۍ په دقیق تناسب جوړې شوې وې، کوڅې سمې وې، زاویې برابرې وې، او حتی د باغونو بوټي هم داسې منظم اینودل شوي وو لکه د حساب د کتاب په پاڼه کې چې لیکل شوي وي. څوان ورو وويل: شاميلا ، دا ښار ولې دومره منظم ښکاري؟ استاد عبدالرحمن په مهربانۍ وويل: زویه، ځکه دا ښار د رياضي پر قانون ولاړ دی. رياضي د نظم ژبه ده. هر ځای چې اندازه، حساب او ترتیب وي، هلته رياضي موجوده وي.

د ښار په منځ کې یوه لویه تخته ولاړه وه. استاد څوان ته اشاره وکړه او ویې ویل: دلته د شمېرونو نړۍ پیلېږي. عددونه د نړۍ د اندازه کولو او د شیانو د پوهېدلو وسیله ده. انسان له عددونو پرته نه شي کولای چې نړۍ په سمه توګه وپېژني. بیا استاد د عددونو ساده لړۍ داسې بیان کړه: یو، لس، سل، زر، لس

ketabton.com - The Digital Library



زره، سل زره، میلیون، میلیارد، ټریلیون او کوادریلیون. هغه وویل چې یو د شمېر پیل دی، لس د یوې ډلې بشپړوالی ښیي، سل د لوی شمېر پیل دی، زر د پراخو شمېرونو بنسټ دی، میلیون د غټې کچې شمېر لپاره کارول کیږي، میلیارد د لویو اقتصادونو د شمېر لپاره، او ټریلیون او کوادریلیون بیا د ساینس او کایناتو په لویو شمېرنو کې کارېږي. ځوان په حیرت وویل: نو عددونه بې پای دي؟ استاد موسک شو او ویې ویل: هو ، عددونه د عقل یوه اوږده او نه ختمېدونکې لاره ده.

وروسته استاد د حساب بنسټیز اصول وروښودل. هغه وویل که دوه منې ولرې او درې نورې درکړل شي، نو ټولې پنځه کیږي، دې ته جمع وایي ځکه شیان یو ځای کیږي. او که له پنځو درې لرې شي، دوه پاتې کیږي، دې ته تفریق وایي ځکه شمېر کمیږي. بیا استاد د ضرب او تقسیم مثال ورکړ. هغه وویل که درې صندوقونه وي او په هر صندوق کې څلور کتابونه وي، نو ټول دولس کتابونه کیږي، دې ته ضرب وایي ځکه یو شمېر څو ځله تکرارېږي. او که دولس کتابونه په درې کسانو ووېشل شي، هر کس ته څلور کتابونه رسیږي، دې ته تقسیم وایي ځکه شیان په برابر ډول وېشل کیږي. ځوان وویل: نو دا حساب د ژوند په ټولو کارونو کې کارېږي. استاد وویل: بالکل، د بازار سودا، د سفر فاصله، د وخت حساب او د کار اندازه ټول د ریاضي برخه ده.

بیا دوی د اندازې تالار ته ننوتل. هلته د واټن او فاصلې واحدونه لیکل شوي وو. استاد وویل چې کوچنۍ اندازه له میلي‌متره پیلیږي، وروسته سانتي‌متر راځي، بیا متر چې د انسان د قد او د خونې د اوږدوالي لپاره کارېږي، بیا

ketabton.com - The Digital Library


کیلومتر چې د ښارونو او لارو د واټن لپاره کارېږي. هغه زیاته کړه چې کله انسان له ځمکې پورته فضا ته وګوري نو واټنونه ډېر لوی شي، نو ساینسپوهان د نوري کال په نوم واحد کاروي. نوري کال هغه فاصله ده چې رڼا یې په یو کال کې وهي، او د ستورو او کهکشانونو ترمنځ واټن په همدې اندازه کېږي.

بیا دوی د وزن تالار ته لاړل. استاد وویل چې د جامدو شیانو وزن د څو واحدونو په وسیله معلومېږي. کوچنی واحد مثقال دی چې زیاتره د سرو زرو او قیمتي شیانو لپاره کارول کېږي. وروسته ګرام دی چې د خوراکي موادو او درملو لپاره کارېږي. له هغه وروسته کیلوګرام دی چې د ورځنیو شیانو وزن پرې اندازه کېږي. د لویو توکو لپاره قنطار او بیا ټن کارېږي، او یو ټن د ډېر دروند وزن لپاره کارول کېږي لکه ماشینونه او فلزات. بیا استاد د مایعاتو په اړه هم وضاحت ورکړ او ویې ویل چې مایع شیان اکثره د حجم له مخې اندازه کېږي، ځکه هغوی شکل بدلوي. د دې لپاره واحدونه لکه میلی لیتر، لیتر او متر مکعب کارول کېږي. مثلاً اوبه، شیدې او تیل په لیتر اندازه کېږي، او که ډېر لوی مقدار وي نو متر مکعب کارول کېږي. ځکه یو لیتر تقریباً د یو کیلوګرام اوبو سره برابر وزن لري.

وروسته شامیلا ځوان د ښار هغې برخې ته بوتلو چې د هندسې په نوم یادېده. هلته ودانۍ د مختلفو شکلونو په بڼه جوړې شوې وې. ځینې مربع وې، ځینې مثلثي برجونه وو، ځینې ګرد تالارونه وو او ځینې شپږ کونجه باغونه وو. استاد وویل چې هندسه د شکلونو او فضا علم دی او معماران، انجنیران او نقشه جوړونکي ټول له همدې علم څخه کار اخلي. هغه وویل چې هر شکل له یوې

ketabton.com - The Digital Library


نقطې پیلېږي. نقطه یوازې یو ځای ښیي خو اندازه نه لري. کله چې دوه نقطې سره وصل شي نو کرښه جوړېږي. که څو کرښې سره یو ځای شي لیکی جوړوی او له لیکو شکلونه جوړېږي. مثلث د درې کرښو څخه جوړېږي، مربع څلور مساوي خواوې لري، مستطیل دوه اوږدې او دوه لنډې خواوې لري، او دایره هغه شکل دی چې ټولې نقطې یې له مرکز څخه په یوه اندازه فاصله کې وي.

استاد وویل چې د زاویو پوهه هم د هندسې مهمه برخه ده؛ ځینې زاویې کوچنۍ وي چې تیزه زاویه بلل کېږي، ځینې پراخې وي چې ګونګه زاویه بلل کېږي، او هغه زاویه چې نولس درجې وي نېغه زاویه بلل کېږي. د همدې علم په مرسته انسان پلونه جوړوي، کورونه ډیزاین کوي او ښارونه منظم جوړوي.

کله چې ورځ پای ته ورسېده، ځوان د ریاضي ښار له یوې لوړې غونډۍ ښار ته کتل. هغه ورو وویل: نن پوه شوم چې ریاضي یوازې عددونه نه دي، بلکې دا د نظم، فکر، اندازه، او د نړۍ د سم درک کولو علم دی. استاد عبدالرحمن موسک شو او ویې ویل: څوک چې ریاضي زده کړي، هغه د عقل دروازې پرانیزي. شامیلا هم ورو وویل: او دا لا د علم د اوږدې لارې پیل دی.

استاد ورو وویل: اوس وخت راغلی چې ته بل علم ته لاړ شې. ځوان وپوښتل: کوم علم؟ استاد موسکی شو او ویې ویل: هغه علم چې د انسان ژوند ساتي... د ځمکې علم، کرنه. خو نن شامیلا پرېږده چې آرام وکړي او زه هم لږ کار لرم، بل وخت به بیا خبرې وکړو. ځوان وویل: څنګه چې ستاسو خوښه وي. خو خیر ورځ او شپه تیره شوه دا بل سهار ځوان .

ketabton.com - The Digital Library


# دکرنی او زرعت تالار

ته راغلی د تالار په منځ کې یو اوږد میز ایښی و او د میز پر سر څو ډول خاورې، تخمونه او کوچني بوټي ایښي وو. استاد موسکی شو او ویې ویل: ډاکټر ځوان ، ښه راغلاست. ځوان وخندل او ویې ویل: مننه استاد، تاسو ډېر شوخ طبیعت لرئ. استاد وخندل او ویې ویل: راځه چې دا لږ وخت یوځای تېر کړو، ګوندې له خپل علم نه درته یو څه د تحفې په ډول در زده کړم. ځوان وویل: په ویاړ به یې زده کړم.

کرنه زرعت

استاد وویل: ځوان ، انسان یوازې د طب د علم په وسیله ژوند نه کوي، د انسان ژوند د ځمکې له خاورې سره تړلی دی. که خاوره ژوندۍ وي، انسان هم ژوندی وي. شامیلا هم هلته ولاړه وه. هغې د کړکۍ له لارې دباندې اشاره وکړه. له کړکۍ بهر یو ستر باغ ښکاره کېده، د میوو ونې، د غنمو پټي، د اوبو ویالې او زرغون چمن. استاد وویل: دا د علم ښار د کرنې ښوونځی دی. دلته به ته د ځمکې له خاورې تر حاصل پورې هر څه زده کړې. ځوان حیران و. هغه وویل: زما په وطن کې ډېر خلک کرنه کوي، خو ډېر وخت حاصل ښه نه وي، ولې داسې کېږي؟ استاد لږه خاوره په لاس کې واخیسته او ویې ویل: ځکه چې ډېر خلک د خاورې علم نه لري. هغه زیاته کړه چې کرنه درې اساسي شیان لري: خاوره، اوبه او لمر. بیا یې وویل: خو تر ټولو مهمه خاوره ده.

ketabton.com - The Digital Library



خاوره درې اساسي ډولونه لري: شګنه خاوره، ختینه خاوره او منځنۍ یا لومي خاوره. شګنه خاوره نرمې ذرې لري او اوبه ژر ترې تېرېږي. ختینه خاوره کلکه وي او اوبه ساتي. خو غوره خاوره هغه ده چې دواړه ځانګړتیاوې ولري، هغې ته لومي خاوره وايي. استاد ځوان ته وویل: که ته د ښه حاصل غوښتنه لرې، باید د خاورې درې مهم مواد وپېژنې. هغه پر تخته ولیکل: نایتروجن، فاسفورس او پوتاشیم. دا درې مواد د نباتاتو د ژوند اساس جوړوي. ځوان وپوښتل: که خاوره دا مواد ونه لري، نو څه باید وکړو؟ استاد وویل: دوه لارې شته. لومړۍ طبیعي سرې دي او دوهمه کیمیاوي سرې. طبیعي سرې لکه د حیواناتو سرې، کمپوست او د نباتاتو پاتې شوني دي. دا سرې خاوره ژوندۍ کوي. خو کیمیاوي سرې باید په اندازه وکارول شي، ځکه چې ډېر استعمال یې خاوره کمزورې کوي. شامیلا د باغ په لور روانه شوه او ځوان یې هم له ځان سره بوتلو. د باغ په منځ کې یوه باریکه ویاله روانه وه. شامیلا وویل: کرنه د اوبو پرته ناممکنه ده، خو ډېرې اوبه هم زیان لري. د اوبو درې مهم سیستمونه دي: سیلابي اوبه، څاڅکي اوبه او باراني سیستم. سیلابي اوبه هغه دي چې ټول پټی پرې ډکېږي. دا پخوانۍ طریقه ده خو اوبه ډېرې ضایع کوي. څاڅکي سیستم عصري طریقه ده، په دې کې اوبه د پایپونو له لارې مستقیم د بوټي ریښو ته رسېږي. باراني سیستم د باران په شان اوبه شیندي. ځوان حیران شو او ویې ویل: که دا طریقه زموږ په وطن کې وي، ډېر حاصل به پیدا شي. په همدې وخت کې استاد وویل: همدا ستا د راتلونکي ماموریت یوه برخه ده. د باغ په منځ کې یوه ستره ونه ولاړه وه. استاد وویل: اوس د نبات د ژوند راز واوره. نباتات د لمر له انرژۍ نه غذا جوړوي، دې عمل ته فوتوسنتز وايي.

ketabton.com - The Digital Library



په فوتوسنتز کې درې شیان مهم دي: لمر، اوبه او کاربن ډای اکساید. نبات دا درې شیان اخلي او له هغې نه غذا او اکسیجن جوړوي. استاد وویل: له همدې امله ځنګلونه د ځمکې سږي بلل کیږي. وروسته استاد د تخم په اړه خبرې پیل کړې. هر حاصل له یو کوچني تخم پیلیږي. هغه د غنمو یو تخم پورته کړ او ویې ویل: ښه تخم باید درې ځانګړتیاوې ولري: روغتیا، قوي جین او مناسب اقلیم. ځوان ورو ورو پوهېده چې کرنه یوازې بیل او کجوره نه ده، بلکې یو لوی علم دی. شامیلا موسکی شوه او ویې ویل: ځوان ، ته به دلته یوه ورځ د کرنې ټول رازونه زده کړې. هغې د لرې غرونو په لور اشاره وکړه او ویې ویل: هلته د علم ښار ستر فارمونه دي. ته به هلته د دې شیانو زده کړه وکړې: د غنمو کرنه، د مېوو باغونه، د سبزیجاتو تولید، د خاورې ساتنه او د اقلیم د بدلون سره مقابله. ځوان د باغ په منځ کې ودرېد. هغه د شنو پټو، د اوبو ویالو او د میوو ونو ته کتل. هغه پوه شو چې د انسان راتلونکی د خاورې سره تړلی دی او دا د هغه د زده کړې یوازې پیل وو.

د علم ښار د باغونو تر شا پراخې کروندې پرتې وې. کله چې ځوان او شامیلا له استاد سره هلته ورسېدل، ځوان ته داسې ښکاره شوه لکه یو لوی زرغون سمندر چې د ځمکې پر سر خپور وي. استاد وویل: ځوان ، اوس به د کرنې تر ټولو مهم پړاو زده کړې، او هغه د تخم نه تر حاصل پورې سفر دی. هغه د غنمو یوې کوچنۍ کروندې ته ورننوت. استاد وویل د هر فصل لپاره لومړی باید خاوره چمتو شي. د خاورې چمتو کول څو مرحلې لري: لومړی قلبه کول، دوهم نرمول، دریيم سطحه برابرول. قلبه کول هغه وخت کیږي چې خاوره په

ketabton.com - The Digital Library


ژوره توګه واړول شي. دا کار د دې لپاره کېږي چې هوا خاورې ته ورسېږي او زاړه واښه له منځه لاړ شي. استاد وویل که خاوره ژوره قلبه نه شي، د نبات ریښې سمه وده نه کوي.له قلبی وروسته خاوره نرمېږي تر څو تخم په اسانه وکرل شي.

ځوان پوښتنه وکړه: تخم باید څومره ژور وکرل شي؟ استاد موسکی شو او ویې ویل: دا د تخم په ډول پورې اړه لري، خو عمومي قاعده دا ده چې تخم باید د خپل اندازې دوه یا درې چنده ژور وکرل شي. هغه وویل د غنمو تخم معمولاً درې تر پنځه سانتي متره ژور کرل کېږي. د کرلو وروسته تر ټولو مهم شی اوبه دي، خو اوبه باید په اندازه ورکړل شي. که اوبه کمې وي نبات وچېږي او که ډېرې وي د هغه ریښې خرابېږي. شاميلا د پټي پر سر یو باریک پایپ وښود. هغې وویل: دا د څاڅکي اوبو سیستم دی، دا طریقه تر ټولو اقتصادي او اغېزمنه ده. ځوان د پایپ نه راوتونکو کوچنیو څاڅکو ته کتل. هغه حیران شو او ویې ویل: یعنې هر بوټي ته جلا اوبه ورکول کېږي؟ شاميلا وویل: هو، دا طریقه تر اویا سلنه پورې د اوبو سپما کوي. استاد بیا وویل: اوس د نبات د ودې مرحلې واوره. نبات معمولاً پنځه پړاوونه لري: د ټوکیدو مرحله، د پاڼو جوړېدو مرحله، د ودې مرحله، د ګل کېدو مرحله او د حاصل پخېدو مرحله. هغه وویل په هره مرحله کې نبات مختلفو غذايي موادو ته اړتیا لري. د مثال په ډول نایتروجن د پاڼو وده زیاتوي، فاسفورس د ریښو وده پیاوړې کوي او پوتاشیم د نبات مقاومت زیاتوي. ځوان د پټي په منځ کې یو بوټی ولید چې پاڼې یې ژیړې وې. هغه وویل: استاده، دا ولې داسې دی؟ استاد وویل: دا د

ketabton.com - The Digital Library



نایتروجن د کمښت نښه ده. هغه وویل کروندګر باید د نبات نښې وپېژني. نباتات خبرې نه کوي خو خپلې ستونزې ښکاره کوي. وروسته استاد ځوان د مېوو باغ ته بوتلو. هلته د مڼو، انارو، انځرو او زردالو ونې ولاړې وې. استاد وویل: باغداري د کرنې تر ټولو ګټوره برخه ده، خو باغدار باید درې مهم کارونه وکړي: قلمه کول، شاخه‌بري او د آفتونو کنټرول. شاخه‌بري د ونې هغه زاړه او بې‌ګټې ښاخونه پرې کول دي چې ونه پیاوړې شي، چې ارس هم ورته وایي. استاد وویل که ونه سمه شاخه‌بري ونه شي حاصل کمېږي. ځوان پوښتنه وکړه: آفتونه څنګه کنټرول کېږي؟ استاد وویل: آفتونه د کرنې لوی دښمنان دي. ځینې مهم آفتونه دا دي: ملخان، شته، سپږې او فنجي ناروغۍ. خو استاد وویل هر وخت کیمیاوي دوا کارول ښه نه وي. هغه وویل تر ټولو ښه طریقه طبیعي کنټرول دی. د مثال په ډول ځینې مرغان آفتونه خوري او ځینې حشرات د نورو حشراتو دښمنان وي. شامیلا وویل: په علمي کرنه کې دې ته بیولوژیک کنټرول وایي. وروسته استاد د اقلیم په اړه خبرې وکړې. هغه وویل اقلیم د کرنې سرنوشت ټاکي. تودوخه، باران او باد د نبات په ژوند مستقیم اغېز لري. هغه وویل د اقلیم بدلون د نړۍ د کرنې لویه ستونزه ده. د دې لپاره درې مهمې لارې شته: د وچکالۍ پر وړاندې مقاوم تخمونه، د اوبو سپما سیستمونه او د خاورې ساتنه. د خاورې ساتنه هم ډېره مهمه ده. استاد وویل که خاوره له منځه ولاړه شي انسان هم له منځه ځي. د خاورې ساتنې لارې دا دي: د ونو کرل، د پټو تر منځ وابنه ساتل او د باد ماتونکي کمربندونه جوړول. ځوان د دې ټولو خبرو په اوربدو فکر کې ډوب شو. هغه ته داسې ښکاره شوه چې کرنه یوازې یو کار نه دی بلکې یو علم دی چې د انسان د ژوند بنسټ جوړوي. ځوان د

ketabton.com - The Digital Library


زرغونو پټو په لور وکتل. هغه پوه شو چې د ځمکې هره دانه خاوره یو راز لري او هغه لا د دې رازونو د زده کړې په پیل کې وو.

## د وچکالۍ او د خاورې د ساتنې علم

.د علم ښار د کرنې فارمونه ډېر پراخ وو. د غرونو تر لمنو پورې زرغونې کروندې خپرې وې، خو د هغو تر څنګ داسې ځمکې هم وې چې وچې او خړې ښکارېدې. ځوان د هغې خړې ځمکې په لور وکتل او پوښتنه یې وکړه: استاده، ولې ځینې ځمکې حاصلخیزې دي خو ځینې داسې وچې ښکاري؟ استاد لږ چوپ شو او بیا یې وویل: دا د خاورې د خرابېدو ستونزه ده. که خاوره سمه ونه ساتل شي، ورو ورو خپله ځواک له لاسه ورکوي. هغه د وچې ځمکې نه یو موټ خاوره پورته کړه. خاوره په اسانه د باد سره والوتله. استاد وویل: دې ته د خاورې تخریب وایي. د خاورې تخریب درې مهم لاملونه لري: د باد له خوا تخریب، د اوبو له خوا تخریب او د انسان ناسم استعمال. کله چې ونې پرې شي، خاوره بې ساتونکي پاتې کېږي، باد یې وړي او باران یې هم وینځي. شامیلا وویل: په ځینو سیمو کې هر کال زرګونه ټنه خاوره له منځه ځي. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې خاوره هم له منځه ځي؟ استاد وویل: هو. خاوره په زرګونو کلونو کې جوړېږي، خو په څو کلونو کې له منځه تللی شي. بیا استاد ځوان د یوې بلې کروندې خواته بوتلو. هلته د پټو تر منځ د ونو اوږده کرښه ولاړه وه. استاد وویل: دا د باد ماتونکي کمربندونه دي. هغه تشریح کړه چې کله باد ډېر تېز وي، دا ونې د باد زور کموي او خاوره له الوتلو ژغوري. وروسته استاد وویل: اوس د وچکالۍ په اړه خبرې کوو.

ketabton.com - The Digital Library


# وچکالي

هغه وخت رامنځته کېږي کله چې د اوږدې مودې لپاره باران کم شي. دا د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې یوه لویه ستونزه ده. استاد وویل: خو علم د دې ستونزې لپاره هم حل لارې لري. لومړی حل د وچکالۍ مقاوم تخمونه دي. دا داسې تخمونه دي چې په لږو اوبو کې هم ژوند کولی شي. دوهم حل د اوبو سپما سیستمونه دي، لکه د څاڅکي اوبه چې مخکې مو ولیدل. درېیم حل د خاورې د رطوبت ساتنه ده. د دې لپاره کروندګر د خاورې پر سر واښه یا د نباتاتو پاتې شوني اچوي. دې ته ملچ وایي. ملچ د خاورې رطوبت ساتي او د اوبو تبخیر کموي. ځوان وویل: دا طریقه علمی ده نو پلی کول یې اسانه دی. استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، که علم له عمل سره یو ځای شي، ډېرې ستونزې حل کېږي. وروسته استاد د کرنې د عصري ټکنالوژۍ په اړه خبرې پیل کړې. هغه وویل: په عصري نړۍ کې کرنه یوازې د بیل او قلبې پورې محدوده نه ده. نن سبا په کرنه کې دا وسایل کارېږي: کرنیز ماشینونه، سپوږمکۍ معلومات او هوښیار سنسرونه. استاد وویل ځینې فارمونه داسې سنسرونه لري چې د خاورې رطوبت اندازه کوي. کله چې خاوره وچه شي، سیستم په خپله اوبه ورکوي. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې ماشین پخپله پټي ته اوبه ورکوي؟ شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: هو، دې ته سمارټ کرنه وایي. استاد دوام ورکړ او ویې ویل: همدارنګه سپوږمکۍ د ځمکې انځورونه اخلي او کروندګرو ته ښیي چې د پټي کومه برخه کمزورې ده. ځوان د علم ښار پراخو فارمونو

ketabton.com - The Digital Library


ته کتل. هغه پوه شو چې د انسان راتلونکی د علم او طبیعت تر منځ په توازن کې دی. استاد ورو وویل: ځوان ، که انسان د ځمکې قدر ونه کړي، ځمکه هم د انسان ملاتړ نه کوي

## د حیواناتو روزنه او د کرنې بشپړ نظام.

د علم ښار د کرنې په ستر فارم کې د ونو او پټو تر څنګ یو بل لوی ځای هم و چې له لرې نه د حیواناتو غږونه اورېدل کېدل. ځوان د هغه ځای په لور وکتل او ویې پوښتل: استاده، هلته څه دي؟ استاد وویل: کرنه یوازې نباتات نه دي، د حیواناتو روزنه هم د کرنې مهمه برخه ده. هغوی هغه ځای ته ورغلل. هلته د غواوو، پسونو، وزو او چرګانو لوی فارمونه وو او هر حیوان په منظم ډول ساتل کېده. استاد وویل: دې ته د حیواناتو د روزنې علم یا مالداري وایي. هغه د یوې قوي غوا خواته ودرېد او ویې ویل: غوا د انسان لپاره درې مهمې ګټې لري: شیدې، غوښه او سره. ځوان وویل: سره هم؟ استاد وویل: هو، د حیواناتو سره د خاورې لپاره ډېرې ګټورې دي او دا د طبیعي سرې تر ټولو مهمه سرچینه ده. وروسته استاد وویل: خو حیوانات هم علمي پاملرنې ته اړتیا لري. هغه درې مهم اصول بیان کړل: صحتمنده غذا، پاک چاپېریال او وترنري درملنه. که حیوان ښه غذا ونه لري، شیدې او غوښه به یې هم کمزورې وي. د حیواناتو غذا معمولاً له دې شیانو جوړېږي: واښه، غنم یا جوار، پروټیني خوراک او منرالونه. استاد وویل: په پرمختللو فارمونو کې حیواناتو ته داسې غذا ورکول کېږي چې ټول غذایي مواد پکې برابر وي. ځوان د چرګانو فارم ته ورننوت، هلته زرګونه چرګان وو. استاد وویل: چرګان د نړۍ تر ټولو مهمه

ketabton.com - The Digital Library


د پروټین سرچینه ده. هغه تشریح کړه چې یو چرګ په کال کې تر دوه سوه پورې هګۍ ورکولی شي، خو دا یوازې هغه وخت ممکنه ده چې مناسبه غذا، مناسبه تودوخه او پاک ځای موجود وي. شامیلا بیا ځوان د بل کوچني باغ خواته بوتلو. هلته کوچني لرګي صندوقونه ایښي وو او د مچیو شور اورېدل کېده. ځوان حیران شو او ویې ویل: دا څه دي؟ شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: دا

## د شاتو مچیو

فارم دی. استاد وویل: مچۍ د طبیعت یو حیرانوونکی مخلوق دی. هغه وویل: مچۍ یوازې شات نه جوړوي، بلکې د نباتاتو د ګرده افشانۍ مهم کار هم ترسره کوي. ګرده افشاني هغه عمل دی چې د نبات د ګل نه ګرده بل ګل ته انتقالېږي او د مېوې د جوړېدو سبب کېږي. استاد وویل: په حقیقت کې د نړۍ د ډېرو میوو تولید د مچیو له کار سره تړلی دی. هغه زیاته کړه: که مچۍ له منځه ولاړې شي، د نړۍ د خوراکي نظام یوه لویه برخه به له خطر سره مخ شي. ځوان د مچیو الوتو ته کتل. هغه پوه شو چې حتی کوچني مخلوقات هم د طبیعت په لوی نظام کې مهم رول لري. وروسته استاد د کرنې د اقتصاد په اړه خبرې وکړې. هغه وویل: یو بریالی کروندګر یوازې د کرلو علم نه لري، بلکې د بازار علم هم پېژني. هغه درې مهم اصول بیان کړل: د محصول کیفیت، د بازار اړتیا او د ذخیرې او انتقال سیستم. ځینې وخت کروندګر ښه حاصل ترلاسه کوي، خو ځکه تاوان کوي چې بازار ته د رسولو سیستم سم نه وي. استاد وویل: د همدې لپاره عصري کرنه د سړو خونو، ټرانسپورټ او بازار له علم سره

ketabton.com - The Digital Library


تړلې ده. وروسته استاد د کرنې يو بل مهم راز بيان کړ. هغه وويل: په طبيعت کې هر څه له يو بل سره تړلي دي. د نباتاتو پاتې شوني د حيواناتو غذا کېږي، د حيواناتو سره د خاورې غذا کېږي او خاوره بيا نباتاتو ته غذا ورکوي. دې ته د طبيعت دوره يا ايکوسيستم وايي. ځوان د فارم په منځ کې ودرېد. هغه ته داسې ښکاره شوه چې ټول ژوند د يو لوی نظم برخه ده.

شاميلا ورو وويل: ځوان ، کله چې انسان دا نظم درک کړي، نو کولی شي طبيعت ته زيان ونه رسوي. د لمر وړانګې ورو ورو د فارم پر سر خپرېدې. استاد وويل: د کرنې علم يوازې د حاصل لپاره نه دی، بلکې د انسان د بقا لپاره دی. ځوان پوه شو چې د ځمکې سره مينه کول د انسان د راتلونکي ساتنه ده. او د علم ښار د کرنې ښوونځی د هغه د پوهې يو بل ستر باب خلاص کړی و، خو د هغه د علم سفر لا پای ته نه و رسېدلی.

## د تخمونو علم او د نبات د نسل اصلاح

.استاد ځوان او شاميلا د کرنې د علم ښار يوې بلې برخې ته بوتلل. هلته لويې شيشې ودانۍ ولاړې وې چې دننه يې بېلابېل نباتات کرل شوي وو. ځوان حيران شو او ويې پوښتل: استاده، ولې دا نباتات په شيشې ودانيو کې کرل شوي دي؟ استاد وويل: دې ته شنې خونې يا ګرين هاوسونه وايي. په شنه خونه کې د نباتاتو لپاره مناسب چاپېريال جوړېږي. تودوخه، رطوبت او رڼا ټول د انسان له خوا تنظيمېږي. استاد وويل: په داسې ځايونو کې کروندګر کولی شي په هر موسم کې نباتات وکري. ځوان د روميانو، بادرنګو او مرچو بوټو ته وکتل چې ډېر سالم او شين ښکارېدل. استاد بيا وويل: خو د کرنې تر ټولو مهم شی

ketabton.com - The Digital Library


تخم دی. هغه د تخمونو یو کوچنی بکس راوویست او ویې ویل: هر لوی فصل د یوه کوچني تخم نه پیل کیږي. استاد تشریح کړه چې یو ښه تخم باید درې ځانګړتیاوې ولري: قوي جنیټیک جوړښت، د ناروغیو پر وړاندې مقاومت او لوړ حاصل. ځوان وویل: دا څنګه معلومیږي چې کوم تخم ښه دی؟ استاد وویل: د همدې لپاره د نباتاتو د نسل اصلاح علم رامنځته شوی. د نسل اصلاح یا بریډینګ هغه علم دی چې پکې ساینسپوهان د نباتاتو غوره ډولونه جوړوي. استاد وویل: ساینسپوهان دوه قوي نباتات سره یو ځای کوي تر څو یو نوی نبات رامنځته شي چې د دواړو ښه ځانګړتیاوې ولري. د بېلګې په ډول یو نبات چې د وچکالۍ پر وړاندې قوي وي او بل نبات چې ډېر حاصل ولري. کله چې دا دواړه سره یو ځای شي، نوی نسل پیدا کیږي چې هم قوي وي او هم ډېر حاصل ورکوي. ځوان وویل: دا خو ډېر هوښیار کار دی. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: همدا د علم ځواک دی. استاد بیا د تخم ساتنې په اړه خبرې وکړې. هغه وویل: د نړۍ په ځینو ځایونو کې د تخمونو ستر بانکونه جوړ شوي دي. هلته د زرګونو نباتاتو تخمونه ساتل کیږي تر څو که په نړۍ کې کومه ستونزه رامنځته شي، نباتات له منځه ولاړ نه شي. استاد وویل: د تخم ساتنه د انسان د راتلونکي د خوراک ساتنه ده. وروسته استاد د کرنې د راتلونکي په اړه خبرې وکړې. هغه وویل: د نړۍ نفوس هر کال زیاتیږي او انسانان ډېر خوراک ته اړتیا لري. د همدې لپاره ساینسپوهان هڅه کوي چې په لږه ځمکه ډېر حاصل ترلاسه کړي، په لږ اوبو کرنه وکړي او د چاپېریال ساتنه هم وکړي. ځوان د شنې خونې له کړکۍ نه بهر پراخو کروندو ته کتل. هغه وویل: زه اوس پوه شوم چې کرنه یوازې کار نه دی، بلکې یو لوی علم دی. استاد سر وخوځاوه او

ketabton.com - The Digital Library


ويې ويل: هو ځوان ، که انسان د ځمکې علم زده کړي، نو کولی شي د میلیونونو انسانانو ژوند وساتي. د لمر وړانګې د شیشې له دیوالونو تېرېدې او د نباتاتو پاڼې یې روښانه کړې

## د اوبو ساتنه او د راټولونکې کرنه

د ورځې په وروستیو ساعتونو کې استاد ځوان یو بل مهم ځای ته بوتلو. هلته لوی حوضونه او د اوبو کانالونه جوړ شوي وو. ځوان وویل: استاده، دا ځای د څه لپاره دی؟ استاد وویل: دا د اوبو د مدیریت مرکز دی. هغه ورو وویل: په راټولونکې نړۍ کې تر ټولو مهمه شتمني اوبه دي. استاد ځوان د یوې لویې نقشې مخې ته ودراوه. په نقشه کې د نړۍ بېلابېل هېوادونه ښودل شوي وو. ځینې سیمې شنې وې او ځینې بیا سورې. استاد وویل: شنې سیمې هغه ځایونه دي چې اوبه ډېرې لري، او سورې سیمې هغه دي چې د اوبو له کمښت سره مخ دي. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې د اوبو کمښت هم دومره لویه ستونزه ده؟ استاد وویل: هو، که اوبه کمې شي، کرنه هم له ستونزو سره مخ کیږي. بیا استاد د اوبو د ساتنې درې مهم اصول بیان کړل: د اوبو سپما، د باراني اوبو ذخیره او د اوبو د ضایع کېدو مخنیوی. هغه د باران د اوبو د راټولولو یو سیستم وښود. د ودانیو له چتونو نه اوبه د پایپونو له لارې حوضونو ته راتلې. استاد وویل: دا اوبه وروسته د کرنې لپاره کارول کیږي. شامیلا وویل: په ځینو هېوادونو کې کروندګر د باران هره څاڅکه ساتي. وروسته استاد د راټولونکې کرنې په اړه خبرې وکړې. هغه وویل: راټولونکې کرنه به له

ketabton.com - The Digital Library


ټکنالوژۍ سره یو ځای وي. هغه څو بېلګې ورکړې: ډرون الوتکې چې پټي څاري، روبوټونه چې حاصل راټولوي او هوښیار سیستمونه چې اوبه او سرې تنظیموي. ځوان وویل: یعنې انسان به لږ کار کوي او ماشینونه به ډېر کار کوي؟ استاد وویل: انسان به لا هم مهم وي، خو علم به یې کار اسانه کړي. وروسته استاد ځوان د کرنې د علم ښار وروستي برج ته بوتلو. هلته د ښار ټول فارمونه له پاسه ښکاره کېدل. شنې کروندې، باغونه، فارمونه او د اوبو کانالونه ټول یو لوی ژوندی نظام ښکارېده.

استاد وویل: ځوان ، ته اوس پوه شوې چې کرنه د ژوند بنسټ دی. ځوان ورو وویل: هو... که کرنه نه وي، انسان هم ژوند نشي کولی. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: همدا د دې علم تر ټولو مهم درس دی. د لمر وروستۍ وړانګې د کروندو پر سر خپرېدې. استاد وویل: د علم ښار د کرنې ښوونځی دلته پای ته رسېږي. ځوان د زړه له کومې مننه وکړه. هغه پوه شو چې د ځمکې، اوبو او طبیعت درناوی د انسان د راتلونکې ساتنه ده. خو د علم ښار لا ډېر رازونه لرل. شامیلا د لرې ښار لور ته اشاره وکړه. هلته د لوړو برجونو، ځلېدونکو سکرینونو او برېښنایي رڼاګانو ښار ښکاره کېده. هغې ورو وویل: ځوان ... سبا به موږ د علم ښار بل ستر ځای ته ولاړ شو. ځوان پوښتنه وکړه: چېرته؟ شامیلا وویل: د ټکنالوژۍ ښار ته. هلته به ته د برېښنا، ماشینونو، کمپیوټرونو، انټرنېټ او مصنوعي ځیرکتیا نړۍ ووینې. ځوان د اسمان ستورو ته وکتل. هغه پوه شو چې د علم سفر یې اوس له ځمکې نه د ټکنالوژۍ نړۍ ته داخلېږي او دا سفر به د هغه ژوند بدل کې، خو خیر شپه تیره سوه سهار سو ځوان د

ketabton.com - The Digital Library


شامایلی او استاد ځنګه راغلی ، دوی په موټر کی سپاره وه ځوان ته یې ویل مهرباني وکړئ تاسو هم زموږ سره سپور سی، ځوان همداسې وکړه موټر روان سو، ځوان ورو په شیشه پورې وکتل او په ژوره ساه اخیستو یې وویل: دا خو بل ډول ښار ښکاري. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: دا

## د ټکنالوژۍ ښار

دی. کله چې هغوی د ښار دروازې ته ورسېدل، لویه دروازه په اوتومات ډول خلاصه شوه. د دروازې پر سر لیکل شوي وو: د ټکنالوژۍ مرکز. ځوان چې ښار ته دننه شو، حیران پاتې شو؛ هر ځای رڼاګانې ځلېدې، لوی سکرینونه په دیوالونو لګېدلي وو، او په لارو کې کوچني روبوټونه په منظم ډول تګ راتګ کاوه. هغه په حیرانتیا وویل: دا کوچني ماشینونه څه دي؟ استاد په خوږ غږ وویل: دا روبوټونه دي، زویه. روبوټ هغه ماشین دی چې انسان ورته یو کار وروښیي، او هغه بیا هماغه کار ترسره کوي؛ ځینې شیان انتقالوي، ځینې پاکاري کوي او ځینې داسې هم شته چې ډېر پیچلي کارونه ترسره کوي. ځوان وویل: یعنې ماشین هم کار کولی شي لکه انسان؟ استاد وویل: هو، خو دا هر څه د انسان د عقل نتیجه ده. هغوی د یوې سترې ودانۍ مخې ته ودریدل چې پر سر یې لیکل شوي وو: د بریښنا مرکز. ځوان بېاختیاره پوښتنه وکړه: بریښنا څه شی ده؟ استاد ورو وویل: بریښنا د انرژۍ یو ډول دی چې زموږ د عصري ژوند بنسټ جوړوي. هغه زیاته کړه: بریښنا هغه ځواک دی چې څراغونه بلوي، ماشینونه چلوې، کمپیوټرونه فعاله کوي او ټول ښارونه روښانه

ketabton.com - The Digital Library


ساتي. استاد ځوان يوې لويې خونې ته بوتلو؛ هلته غټ غټ جنراتورونه په ځواکمن غږ. تاوېدل. استاد وويل: برېښنا په مختلفو لارو توليدېږي. بيا يې ورسره شمېرلې: د اوبو بندونه، د باد توربينونه، لمريزې تختې او د سون مواد. ځوان د يوې لويې پردې مخې ته ودرېد چې په هغې کې د اوبو بند ښکاره کېده. استاد وويل: کله چې اوبه له لوړ ځايه ښکته راځي، توربين تاوېږي او برېښنا توليدوي. ځوان وويل: يعنې اوبه هم انرژي جوړولی شي؟ استاد په سر خوځولو وويل: بالکل، طبيعت د انرژۍ يوه ستره خزانه ده. وروسته هغوی بل مرکز ته ولاړل. هلته سلګونه کمپيوټرونه په منظم ډول ايښي وو. ځوان وپوښتل: دا ماشينونه څه کوي؟ استاد وويل: دا کمپيوټرونه دي؛ کمپيوټر هغه وسيله ده چې معلومات ساتي، حسابونه کوي او ستونزې حل کوي. هغه زياته کړه: نن سبا بانکونه، روغتونونه، ښوونځي او حکومتونه ټول له کمپيوټرونو کار اخلي، ځکه دا د انسان د فکر يوه قوي وسيله ده. ځوان د يوه سکرين مخې ته ودرېد؛ رنګين شکلونه او شمېرې ښکارېدې. ځوان وويل: دا څنګه پوهېږي چې څه وکړي؟ استاد وويل: د پروګرامونو له لارې. پروګرام هغه لارښوونې دي چې انسان کمپيوټر ته ورکوي، او کمپيوټر هماغه لارښوونې تعقيبوي. وروسته شاميلا ځوان د يوې بلې خونې لور ته بوتلو. هلته لوی سرورونه ولاړ وو، څراغونه يې چرپک چروک بلېدل. شاميلا وويل: دا د انټرنيټ مرکز دی. ځوان پوښتنه وکړه: انټرنيټ څه شی دی؟ استاد وويل: انټرنيټ د نړۍ د کمپيوټرونو ترمنځ يوه لويه شبکه ده؛ د همدې شبکې له لارې خلک معلومات شريکوي، خبرې کوي، زده کړه کوي او کاروبار کوي. ځوان په حيرانتيا وويل: يعنې د نړۍ خلک د همدې شبکې له لارې يو بل سره اړيکه نيسي؟ استاد وويل: هو، انټرنيټ

ketabton.com - The Digital Library



نړۍ نړدې کړې ده. شامیلا ورو وویل: خو د ټکنالوژۍ ښار تر ټولو حیرانوونکی علم لا پاتې دی. ځوان پوښتنه وکړه: کوم علم؟ شامیلا غږ ورو او خوږ کړ، ویې ویل: مصنوعي ځیرکتیا. د هغې خبرې د ځوان ذهن نور هم حیران کړ؛ داسې یې احساس کاوه لکه د علم ښار تر ټولو ستر راز چې همدا اوس د هغه په وړاندې پرانیستل کیږي

ځوان د شامیلا خبرې ته حیران پاتې شو او ویې ویل: مصنوعي ځیرکتیا؟ دا څه شی دی؟ شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: دا هغه علم دی چې ماشینونو ته د فکر کولو وړتیا ورکوي. ځوان وویل: یعنې ماشین فکر کولی شي؟ استاد ورو وویل: ماشین د انسان په شان فکر نه کوي، خو د معلوماتو له لارې زده کړه کولی شي. هغوی د ټکنالوژۍ ښار یوې لویې ودانۍ ته داخل شول. د ودانۍ پر سر لیکل شوي وو: د مصنوعي ځیرکتیا مرکز. کله چې دروازه خلاصه شوه، دننه یو لوی تالار ښکاره شو. هلته ګڼ شمېر سکرینونه، کمپیوټرونه او عجیبه ماشینونه ایښي وو. ځینې روبوټونه د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ورکول او ځینې کمپیوټرونه د انسان غږ پیژندل. ځوان حیران شو او ویې ویل: دا ماشینونه څنګه پوهیږي چې انسان څه وایي؟ استاد وویل: دا د مصنوعي ځیرکتیا یوه برخه ده چې د غږ پیژندنه بلل کیږي. هغه زیاته کړه: ماشین د زرګونو جملو او غږونو مثالونه زده کوي او بیا ورو ورو د انسان خبرې درک کولی شي. ځوان وویل: یعنې دا هم زده کړه کوي؟ استاد وویل: هو، دې ته د ماشین زده کړه ویل کیږي. ماشین زده کړه هغه پروسه ده چې کمپیوټر د معلوماتو له لارې تجربه ترلاسه کوي. استاد د یوې بلې پردې مخې ته ودرېد. په پرده کې

ketabton.com - The Digital Library


یو کمپیوټر د انسان د مخ تصویر ته کتل. استاد وویل: دا د مخ پېژندنې سیستم دی. ځوان وویل: دا څنګه پوهېږي چې دا څوک دی؟ استاد وویل: کمپیوټر د زرګونو مخونو تصویرونه زده کوي او بیا د هغو د بڼو له مخې خلک پېژني. شامیلا وویل: نن سبا دا ټکنالوژي په امنیت، موبایلونو او بانکونو کې کارول کېږي. ځوان ورو وویل: دا خو رښتیا هم حیرانوونکې ده. وروسته هغوی یوې بلې خونې ته ولاړل. هلته یو لوی روبوټ ولاړ و چې د انسان په اندازه قد یې درلود. ځوان ورته وکتل او ویې ویل: ایا دا هم مصنوعي ځیرکتیا لري؟ استاد وویل: هو، دا یو هوښیار روبوټ دی. روبوټ د ځوان پر لور وکتل او په ارامه غږ یې وویل: سلام، ښه راغلاست. ځوان حیران شو او ویې ویل: دا خو خبرې هم کوي! استاد موسکی شو او ویې ویل: دا د ژبې د پروسس ټکنالوژي ده. ماشین د انسان ژبه تحلیلوي او مناسب ځواب ورکوي. ځوان د څو شېبو لپاره چوپ شو. هغه احساس کاوه چې نړۍ تر هغه ډېره لویه ده چې دی یې تصور کولی شي. شامیلا ورو وویل: خو مصنوعي ځیرکتیا یوازې ګټې نه لري. ځوان حیران شو او ویې ویل: ولې؟ استاد وویل: هر ځواک که سم ونه کارول شي، ستونزې هم رامنځته کولی شي. هغه زیاته کړه: که انسان له اخلاقو پرته ټکنالوژي وکاروي، نو دا خطرناک کېدای شي. شامیلا وویل: له همدې امله علم باید له حکمت او اخلاقو سره یو ځای وي. ځوان سر وخوځاوه او ویې ویل: اوس پوه شوم، علم یوازې ځواک نه دی بلکې مسؤلیت هم دی. استاد وویل: بالکل همداسې ده. د ټکنالوژۍ ښار د یوه لوړ برج له سر څخه ټول ښار ښکاره کېده. ماشینونه، روبوټونه، کمپیوټرونه او د انرژۍ مرکزونه ټول په ګډه کار کول. ځوان د اسمان پر لور وکتل. هغه احساس کاوه

ketabton.com - The Digital Library


چې انسان د علم له لارې د طبیعت ډېر رازونه موندلي دي، خو لا هم ډېر رازونه پاتې دي. شامیلا ورو وویل: ځوان ... د علم ښار لا نورې برخې هم لري. ځوان موسکی شو او ویې ویل: زه چمتو یم. هغه پوه شو چې د علم سفر لا هم اوږد دی ،

د مصنوعي ځیرکتیا له مرکز څخه د وتلو وروسته، شامیلا ځوان د ټکنالوژۍ ښار یوې بلې برخې ته بوتلو. هلته ډېر لوړ برجونه ولاړ وو او د برجونو پر سر لوی انتنونه او د ځراغونو حلقې ښکارېدې. ځوان پوښتنه وکړه: دا برجونه د څه لپاره دي؟ استاد وویل: دا د اړیکو برجونه دي. هغه زیاته کړه: د همدې برجونو له لارې د موبایل او انټرنیټ سیګنالونه لېږدول کیږي. ځوان وویل: یعنې کله چې خلک له موبایل نه خبرې کوي، دا سیګنالونه د همدې برجونو له لارې ځي؟ استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، د انسان غږ لومړی په برېښنایي سیګنال بدلیږي او بیا د همدې برجونو له لارې بل ځای ته رسیږي. شامیلا وویل: همدا ټکنالوژي ده چې انسانان یې یو بل ته نږدې کړي دي. وروسته هغوی د یوې لویې خونې لور ته ولاړل. هلته د سپوږمکیو انځورونه او لویې پردې موجودې وې. استاد وویل: دا د سپوږمکۍ د څارنې مرکز دی. ځوان حیران شو او ویې ویل: سپوږمکۍ هم د ټکنالوژۍ برخه ده؟ استاد وویل: هو، سپوږمکۍ هغه ماشینونه دي چې انسان یې فضا ته لیږي. هغه زیاته کړه: دا د ځمکې شاوخوا ګرځي او مهم معلومات راټولوي. ځوان پوښتنه وکړه: کوم معلومات؟ استاد وویل: د هوا حالت، د ځمکې نقشې، د سمندر څارنه او د اړیکو سیګنالونه. شامیلا وویل: حتی د کرنې او طبیعي آفتونو د څارنې لپاره هم

ketabton.com - The Digital Library


سپوږمکۍ کارول کېږي. ځوان ورو وویل: نو ټکنالوژي یوازې د ښارونو لپاره نه ده، بلکې د طبیعت د ساتنې لپاره هم کار کوي. استاد موسک شو او ویې ویل: بالکل همداسې ده. وروسته هغوی د ټکنالوژۍ ښار تر ټولو لوړ برج ته وختل. له هغه ځایه ټول ښار ښکاره کېده؛ د انرژۍ مرکزونه، د کمپیوټر شبکې، د روبوټ فابریکې او د مصنوعي ځیرکتیا لابراتوارونه ټول په ګډه کار کول.

استاد وویل: ځوان ، ته اوس د عصري نړۍ درې مهم بنسټونه زده کړل. هغه خپلې ګوتې پورته کړې او ویې ویل: انرژي، معلومات او ټکنالوژي. ځوان سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، که برېښنا نه وي، ماشینونه کار نه کوي، او که معلومات نه وي، کمپیوټر بې ګټې دی. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: او که عقل نه وي، ټکنالوژي بې مانا ده. د لمر وروستۍ وړانګې د ښار پر شیشو ولګېدې او ټوله فضا لکه د سرو زرو په شان وځلېده. ځوان احساس کاوه چې د علم ښار هره برخه د انسان د عقل یوه لویه لاسته راوړنه ده

وروسته هغوی له هغه ځایه په موټر کې روان شول او ورو ورو له ټکنالوژۍ ښار څخه لېرې کېدل. کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د ټکنالوژۍ ښار لوړو برجونو ته وروستۍ ځل وکتل، د هغې ځلېدونکې نړۍ ورو ورو د دوی له شا نه ورکه شوه او پر ځای یې د یوې بلې نړۍ بڼه ښکاره شوه. دا نړۍ له لرغونو ودانیو، مزینو دروازو، زاړه څراغونو او د وخت له لرغوني بوی څخه ډکه وه. ځوان په حیرانتیا وویل: دا خو داسې ښکاري لکه د سلګونو کلونو پخوانی ښار! شامیلا ورو وخندل او ویې ویل: ته یوې ډېرې د حیرانتیا وړ نړۍ ته

ketabton.com - The Digital Library



ننوتې، ځوان . دلته هره تیږه، هره کوڅه او هر انځور د انسان د زرګونو کلونو تاریخ لري. د ښار دروازه په عجیب ډول خلاصه شوه او پر هغې داسې لیکل شوي وو:

## د تاریخ او تمدن ښار، د انسان د سفر موزیم

هغوی موټر د ښار د دروازې مخې ته پریښود او استاد، شامیلا او ځوان دننه لاړل. د ښار فضا حیرانوونکې وه. رنګارنګ تالارونه موجود وو او هر یو د یو لوی تمدن استازیتوب کاوه. په ځینو تالارونو کې د مصر د هرمونو انځورونه وو، په بل کې د یونان ستنې او مجسمې، په بل کې د چین د لوی دیوال تاریخي نقشې، او په یوه لوی تالار کې د اسلامي تمدن د زرینې دورې ښکلي خطاطي شوي اثار ښکارېدل. استاد ورو وویل: ځوان ، د تاریخ زده کړه یوازې د تېر وخت کیسې نه دي، بلکې تاریخ د انسان د عقل، مبارزې، تېروتنو او بریاوو لوی کتاب دی. شامیلا د یوې ودانۍ لور ته اشاره وکړه او ویې ویل: راشه، لومړی به د انسان د تمدن د پیل تالار وګورو. کله چې تالار ته داخل شول، ځوان د ځمکې یوه لویه مجسمه ولیده چې شاوخوا یې د انسان د ژوند پخواني پړاوونه ښکارېدل؛ د ډبرو زمانه، د اور موندل، د کرنې پیل، د لومړنیو ښارونو جوړېدل، د لیک او ژبې اختراع، او د لومړنیو سلطنتونو رامنځته کېدل. استاد وویل: د انسان تمدن هغه وخت ریښتیا پیل شو چې انسان لیک زده کړ، ځکه لیک د فکر د دوام وسیله ده. ځوان د مصر په تالار کې یو لوی صندوق ولید او پوښتنه یې وکړه: دا څه دي؟ استاد وویل: دا د مصر د فرعونانو د تابوت په شان یو موزیمي نمونه ده. دا تمدن له زرګونو کلونو

ketabton.com - The Digital Library


راهیسې د ریاضیاتو، ستورپوهنې او طب یو مهم مرکز و. وروسته هغوی د اسلامي تمدن تالار ته ننووتل. هلته د بنوموسی ورونو ماشینونه، د ابن هیثم د رڼا تجربې، د جابر بن حیان کیمیاوي وسایل او د پخوانیو طبیبانو زړې کتابچې موجودې وې. ځوان په تعجب وویل: نو اسلامي نړۍ هم دومره لوړې زده کړې لرلې؟ استاد وویل: هو ځوان ، تر ټولو لویه علمي رڼا هغه وخت وي چې انسان د علم په وړاندې عاجز وي، خو د زده کړې په وړاندې تږی وي. شامیلا غږ وکړ: ځوان ، په دې ښار کې به ته د انسان سفر له لرغونې زمانې څخه تر نن ورځې پورې ووینې؛ د تمدنونو جګړې، د سولې هڅې، د امپراتوریو جوړېدل او ړنګېدل، او په پای کې به پوه شې چې ولې انسان تل د علم په لټه کې دی. ځوان د تالار په منځ کې ودرېد، د نړۍ نقشه یې وکتله چې د زماني کرښو په بڼه روانه وه. هغه ورو وویل: زه د بشر کیسه اورېدلو ته چمتو یم. او د تاریخ ښار ورو ورو خپل رازونه د هغه مخې ته پرانستل

## د تاریخ او تمدن ښار د انسان د کیسې پیل

د تالار په منځ کې د ځمکې یو لوی شفاف ګلوب ولاړ و. کله چې استاد خپل لاس پرې کېښود، ناڅاپه د ګلوب شاوخوا رڼاګانې راوګرځېدې او د زمانې کرښه ورو ورو ښکاره شوه. استاد وویل: ځوان ، د انسان کیسه یوازې څو زره کاله نه ده، د ځمکې تاریخ میلیونونه، بلکې میلیاردونه کاله اوږد دی. ځوان په حیرانتیا وویل: یعنې انسان ډېر وروسته پیدا شوی؟ استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، راځه چې له ډېر پخواني وخت څخه پیل وکړو. ګلوب ورو ورو

ketabton.com - The Digital Library


بدل شو او د ځمکې پخوانی بڼه پکې ښکاره شوه. استاد وویل: میلیونونه کاله مخکې د ځمکې پر مخ داسې مخلوقات اوسېدل چې موږ یې ډیناسوران بولو. د تالار پر دیوالونو د ستر قد لرونکو ژوو انځورونه څرګند شول، ځینې دومره لوی وو چې د څو کورونو هومره لوړوالی یې درلود. ځوان حیران شو او ویې ویل: دا به څومره لوی ژوي وو! استاد وویل: ځینې یې تر دیرشو مترو پورې اوږده وو او شاوخوا یو سل او شپېته میلیونه کاله یې د ځمکې پر مخ ژوند وکړ. شامیلا زیاته کړه: خو شاوخوا شپېته تر پنځه شپېته میلیونه کاله مخکې یو ستر طبیعي بدلون راغی.

ځوان وپوښتل: کوم بدلون؟ استاد وویل: د ځمکې اقلیم بدل شو او یوه لویه اسماني ډبره د ځمکې سره ټکر شوه، چې له امله یې ډیناسوران ورو ورو له منځه لاړل. وروسته ګلوب بیا بدل شو، کوچني ژوي، بوټي او نوي حیوانات څرګند شول. استاد وویل: له همدې وروسته د تی لرونکو حیواناتو زمانه پیل شوه. ځوان په ډېر غور غوږ نیولی و. استاد دوام ورکړ: خو د انسان د روحاني تاریخ کیسه بیا د دین له روایتونو سره تړلې ده.

## کائنات

استاد وویل: ځوان ، د کایناتو د پیدایښت په اړه علما او عارفان داسې روایت کوي چې په پیل کې هېڅ شی نه و، یوازې الله جل جلاله و. الله تعالی ازلي او ابدي دی او د هر څه خالق دی. د روایتونو له مخې، الله تعالی لومړی نورِ

ketabton.com - The Digital Library


محمدي پیدا کړ، چې یو ډېر عظیم او روحاني نور و او ویل کېږي چې دا نور د ټول علوي او سفلي عالم نه هم لوی و. کله چې الله تعالی د رحمت نظر پرې وکړ، دا نور د الهي جلال له اثره په لطافت او خوځښت کې راغی او په څو برخو وویشل شو. د دې نور اصلي برخه، چې نورالانوار یا نور محمدي بلل کېږي، د الله تعالی د قرب په مقام کې پاتې شوه، او له نورو برخو څخه بیا مختلف مخلوقات پیدا شول. د روایت له مخې، له یوې برخې څخه عرش اعظم پیدا شو، له بلې برخې څخه پاکې اوبه پیدا شوې، لکه څنګه چې قرآن کریم فرمایي: «وَكانَ عَرشُهُ عَلَى الماء». له نورو برخو څخه عقول، ارواح، نفوس، فرښتې، جنت، دوزخ، لوح محفوظ، قلم او کرسي پیدا شول، همدارنګه ثابت ستوري او سیارې هم له همدې نوراني عالم څخه رامنځته شول. وروسته له بلې برخې څخه یو ډېر لوی اور پیدا شو، چې **د الله** په حکم پر اوبو غالب شو. کله چې اور او اوبه سره یو ځای شول، له دې تعامل څخه تودوخه، رڼا، لمبې، لوګی او باد پیدا شول. له لطیف لوګي څخه چې پورته شو، الله تعالی اووه آسمانونه پیدا کړل، له درونده لوګي څخه د دیوانو اصل پلار پیدا شو چې په روایتونو کې یې مارِج بولي، د اور له لمبو څخه د جنیانو پلار جان پیدا شو، او د اور له رڼا څخه ځینې نوري فرښتې پیدا شوې چې ملائکه ناریه بلل کېږي. له اوبو، ځمکې او د هغوی له خوځښت څخه ځمکه او غرونه پیدا شول. وروسته الله تعالی د کایناتو نظام ترتیب کړ او هر مخلوق ته یې د هغه د طبیعت او مرتبې مطابق ځای ورکړ. په لوړ عالم کې عقول، ارواح، فرښتې، جنت، دوزخ، لوح او قلم، ستوري او سیارې ټول په خپل مناسب مقام کې ځای پر ځای شول، او په ټیټ عالم کې څلور بنسټیز عناصر پیدا شول: اوبه، خاوره، هوا او اور.

ketabton.com - The Digital Library


الله تعالی دغو عناصرو ته داسې منظم نظام ورکړ چې له هغوی څخه درې ډوله مخلوقات پیدا شول: جمادات لکه ډبرې او غرونه، نباتات لکه بوټي او ونې، او حیوانات لکه څاروي، الوتونکي او خزنده‌ګان. وروستی او تر ټولو بشپړ مخلوق، چې اشرف المخلوقات دی، انسان و. د روایت له مخې، الله تعالی دا ټول علوي او سفلي نظام په شپږو ورځو کې کامل کړ، لکه څنګه چې قرآن کریم هم بیانوي، تر څو بندګانو ته وښیي چې که څه هم الله هر څه په یوه لحظه کې کولی شي، خو تدریج، نظم او صبر د حکمت لاره ده. استاد وویل: الله تعالی فرښتې پیدا کړې چې د رڼا مخلوقات دي او د هغه امرونه پوره کوي. ځوان ورو وویل: او پېریان؟ شامیلا ځواب ورکړ: پېریان د اور له لمبو پیدا شوي مخلوقات دي، هغوی عقل لري او له انسانانو نه مخکې پیدا شوي دي. استاد وویل: په اسلامي روایتونو کې ویل کېږي چې پېریان د انسان له پیدایښت نه مخکې پر ځمکه اوسېدل. ځوان لږ سوچ وکړ او ویې ویل: نو انسان وروسته پیدا شو؟ استاد وویل: هو، د انسان کیسه له حضرت آدم علیه السلام څخه پیل کېږي. د تالار په منځ کې د یو باغ انځور ښکاره شو. استاد په درناوي وویل: الله تعالی آدم علیه السلام د خاورې څخه پیدا کړ او هغه یې د انسانانو لومړی پلار وګرځاوه. شامیلا زیاته کړه: وروسته حضرت حوا پیدا شوه، دوی په جنت کې اوسېدل، خو د شیطان په فریب ځمکې ته راښکته شول، او له هماغه ځایه د انسان نسل پیل شو. د زمانې کرښه بیا مخ ته ولاړه. استاد وویل: له آدم علیه السلام وروسته انسانان په بېلابېلو سیمو کې خپاره شول، ښکار یې کاوه، اور یې وکاراوه او ورو ورو یې کرنه زده کړه. ځوان وپوښتل: ښارونه کله جوړ شول؟ استاد وویل: شاوخوا لس زره کاله مخکې انسانانو دایمي کلي او

ketabton.com - The Digital Library


ښارونه جوړ کړل، او همدلته تمدن پیل شو. د تالار پر دیوالونو د لومړنیو تمدنونو انځورونه ښکاره شول: د مېسوپوتامیا تمدن، د مصر تمدن، د چین تمدن او د هند لرغونی تمدن. استاد وویل: له همدې ځایه لیک، قانون، تجارت او علم پرمختګ وکړ. شامیلا د تالار پای ته اشاره وکړه، هلته د نړۍ یوه لویه نقشه ځلېده. هغې وویل: ځوان ، د انسان تاریخ د جګړو، سولې، علم او تمدن اوږده کیسه ده. ځوان د نقشې مخې ته ودرېد او ورو یې وویل: زه اوس پوه شوم چې انسان یوازې د نن ورځې مخلوق نه دی، بلکې د میلیونونو کلونو د سفر پایله ده. استاد موسک شو او ویې ویل: او د تاریخ راتلونکې پاڼې لا هم لیکل کیږي.

ځوان احساس کاوه چې د تاریخ ښار یوازې یو موزیم نه دی، بلکې دا د بشر د حافظې لوی کتاب دی

په تالار کې د زماني اوږده کربښه ورو ورو مخته ولاړه. د لرغونو تمدنونو له صحنو وروسته په دیوال رابښکاره شوه: «د انسان د هدایت دورې». استاد په درناوي وویل: ځوان ، د بشر تمدن یوازې د ښارونو او وسایلو په جوړېدو نه پوره کیږي. انسان ته روحاني رڼا هم پکار وه... او دا رڼا د پیغمبرانو په وسیله راغله. په تالار کې نرم رڼا خپره شوه او د یو ستر سیلاب انځور څرګند شو. استاد وویل: دا د حضرت نوح علیه السلام زمانه ده؛ د انسان د بیدارۍ لومړنی سیلاب. هغه وخت انسانان په ځمکه خپاره شوي وو، خو په ډېرو کې نافرماني، ظلم او شرک خپور شوی و، نو الله تعالی نوح علیه السلام مبعوث کړ چې خلکو ته د حق لار وښيي. په دیوال د یوې سترې بېړۍ انځور ښکاره شو. شامیلا

ketabton.com - The Digital Library


وویل: نوح علیه السلام ډېر کلونه خلکو ته دعوت ورکړ، خو ډېر لږ خلک ایمان راوړ. ځوان پوښتنه وکړه: او بیا سیلاب راغی؟ استاد وویل: هو، هغه یو لوی طبیعي پېښه وه چې د انسان د یوې دورې پای یې راوست. بېړۍ د اوبو په لمنو کې ورو ورو پورته روانه وه، او د انسان نوی فصل پیلېده. استاد وویل: نوح علیه السلام د نوې انسانیت د بیا جوړېدو پیل و. د تالار بله برخه روښانه شوه. هلته د بین النهرین ښارونه، د کعبې زاړه انځورونه او د ستورو ښکلي نقشې ښکارېدې. استاد وویل: دا د ابراهیم علیه السلام زمانه ده؛ هغه د عقل د بیدارۍ، د توحید د رڼا او د تمدن د بنسټ اېښودونکي په توګه پېژندل کېږي. ځوان ورو پوښتنه وکړه: هغه څنګه د تمدن بنسټ اېښودونکی شو؟ استاد ځواب ورکړ: ابراهیم علیه السلام په درې لویو سیمو کې ژور اغېز پرېښود: بین النهرین، شام او مکه. له ده وروسته د بنی اسماعیل او بنی اسرائیل قبیلو د تاریخ په جوړېدو کې ستر رول ولوباوه. د تالار رڼا بېرته بدله شوه او د سینا د غره منظر څرګند شو. استاد وویل: دا د موسی علیه السلام زمانه ده؛ د قانون او اخلاقو انقلاب. موسی علیه السلام د ظلم په مقابل کې د مبارزې سمبول دی. هغه بنی اسرائیل د فرعون له ظلم نه د آزادۍ لور ته بوتلل او د اخلاقو او قانون بنسټ یې ټینګ کړ. ځوان وویل: یعنې تاریخ یوازې جنګونه نه دي؟ استاد موسک شو او ویې ویل: نه ځوان ... تاریخ د عدالت د لټون اوږده مبارزه ده. د تالار بله خوا روښانه شوه او د قدس زاړه کوڅې، د بیت اللحم منظر او د رحمت نرمې اسماني رڼاګانې ښکاره شوې. استاد وویل: دا د عیسی علیه السلام زمانه ده؛ هغه انسان ته د مهربانۍ، زغم، پاکۍ او روحي صفا درس ورکړ. د هغه پیغام د دنیا ډېرو خلکو ته د اخلاقو او روحانیت لاره روښانه کړه. شامیلا

ketabton.com - The Digital Library


زیاته کړه: د هغه دعوت داسې نرمه رڼا وه چې د سختیو په تیارو کې هم زړونه نرمول. ځوان د تالار په منځ کې ولاړ و او د تاریخ د روحاني سفر ژورتیا یې په ځان کې احساسوله. وروسته یو ستر تالار بشپړ روښانه شو. په منځ کې د مکې زاړه نقش، د مدینې نقشه، د بدر ډګر او د قرآن ښکلي خطاطي شوي آیتونه ښکاره شول. استاد په خورا درنښت وویل: دلته د بشر د تاریخ یو ستر انقلاب رامنځته کیږي... دا د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زمانه ده. ځوان د تالار رڼا ته ودرېد. استاد وویل: هغه وخت نړۍ د جهل، ظلم، نابرابرۍ او جګړو ډکه وه، خو محمد صلی الله علیه وسلم د توحید، عدالت، علم، اخلاق، مساوات او انسانیت داسې رڼا راوړه چې د بشریت مخ یې بدل کړ. شامیلا ورو زیاته کړه: د قرآن رڼا د انسان د فکر، عقل او تمدن لپاره نوې دروازې پرانیستې. په دیوال د اسلامي تمدن د زرینې دورې نقشې څرګندې شوې: بغداد، اندلس، بخارا، هرات، قاهره او دمشق. استاد وویل: له دې ځایه علم، طب، فلسفه، جغرافیه، ریاضي، ستورپوهنه او هنر د نړۍ په هر لور خپاره شول. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې د نړۍ ډېرى علمي پرمختګ د همدې زمانې نه پیل شوی و؟ استاد وویل: بالکل همداسې... اسلامي تمدن د نړۍ د علم ستنې بیا پورته کړې. د تالار رڼا ورو ورو کمه شوه. ځوان په ځان کې سوچ وکړ: نو د انسان سفر یوازې د ښارونو جوړول نه دي... دا د هدایت، عقل، مبارزې او علم سفر هم دی. استاد وویل: اوس چې د تاریخ د روحاني سفر دا برخه هم درته روښانه شوه... راتلونکې برخه به د اسلامي تمدن د زرینې دورې په اړه وي. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: ځوان ، چمتو شه... د علم هغه دروازې به پرانیستل کیږي چې د انسان عقل یې حیران کړی

ketabton.com - The Digital Library


## د حکمت کور

د تالار په پای کې یوه لویه دروازه ورو ورو خلاصه شوه چې ورباندې لیکل شوي وو: «بیت الحکمه» (د حکمت کور). کله چې ځوان ، شامیلا او استاد دننه شول، هغوی داسې یو ستر کتابتون ولید چې پای یې نه معلومېده، د کتابونو الماریٰ تر چت پورې رسېدلې وې او د تالار په منځ کې د علم د سترو عالمانو یادګاري مېزونه ولاړ وو. استاد په ارام غږ وویل: ځوان ، دا د هغه وخت انځور دی کله چې په بغداد، اندلس، بخارا او نیشاپور کې د علم ډیوې بلې وې، دا د اسلامي تمدن زرینه دوره وه.

شامیلا د یوې لویې نقشې مخې ته ودرېده چې د اسمان ستوري او د هغوی حرکتونه یې ښودل. هغې وویل: په داسې حال کې چې د اروپا ډېری برخې په تیارو کې ډوبې وې، مسلمانو عالمانو د ستورو حرکتونه څېړل او د ځمکې قطر یې اندازه کاوه. ځوان یو میز ته ورنږدې شو چې پرې عجیبه ریاضیکي نښې لیکل شوې وې. استاد وویل: دا د محمد بن موسی الخوارزمي میز دی، هغه د الجبر پلار بلل کېږي. که الخوارزمي نه وای، نن به کمپیوټر او پروګرامینګ هم نه وای، ځکه د «الګوریتم» کلمه د ده له نوم څخه اخیستل شوې ده. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې د نننۍ ټکنالوژۍ بنسټ یو مسلمان ایښی دی؟ استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: هو، بالکل همداسې ده. وروسته هغوی بل میز ته لاړل چې د انسان د سترګو د جوړښت یو ماډل پرې ایښی و. استاد وویل: دا د ابن الهیثم برخه ده، هغه د نوري علومو بنسټګر بلل کېږي. ده ثابته کړه چې

ketabton.com - The Digital Library


رڼا له شیانو څخه سترګو ته راځي، نه دا چې له سترګو څخه شیانو ته ولاړه شي. د کمرې اختراع هم د ده د «قمره» یا تورې خونې له تجربې څخه الهام اخیستی دی. شامیلا ځوان د طب یوې برخې ته بوتلو، هلته یو پنډ او درونډ کتاب ایښی و. هغې وویل: دا کتاب «القانون فی الطب» دی چې ابن سینا لیکلی دی. دا کتاب تر څو پېړیو پورې په اروپا کې د طب تر ټولو مهمه سرچینه وه. ابن سینا نه یوازې یو لوی طبیب و، بلکې فیلسوف او ستورپوه هم و. ځوان د یو بل عالم نوم په یوه لویه لوحه ولید: جابر ابن حیان. استاد وویل: جابر ابن حیان د کیمیا پلار بلل کېږي. هغه لومړی کس و چې په لابراتوار کې یې د موادو د تصفیې او تقطیر طریقې رامنځته کړې. د نننۍ عصري کیمیا ډېر بنسټونه د ده له کارونو څخه سرچینه اخلي. ځوان د تالار په منځ کې د یوې لویې نقشې مخې ته ودرېد. استاد وویل: دا د البیروني نقشه ده. هغه په خپل وخت کې د ځمکې د محیط اندازه په حیرانوونکي دقت سره محاسبه کړې وه. او هلته وګوره، هغه د ابن خلدون برخه ده، هغه عالم چې د ټولنپوهنې او د تاریخ د علم بنسټ یې کېښود. ځوان د حیرانتیا او ویاړ په احساس وویل: استاده، دا خو یوازې یو تاریخ نه دی، دا خو د علم یو لوی سمندر دی. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: او دا هر څه له یوې خبرې پیل شوي وو: «اقرأ»؛ یعني ولوله. کله چې مسلمانانو د علم په لټه سفر پیل کړ، نړۍ بدله شوه. استاد په نرم غږ وویل: خو ځوان ، تاریخ یوازې د پرمختګ کیسه نه ده، بلکې د لوړو او ژورو سفر هم دی. موږ باید پوه شو چې ولې دا تمدن د زوال سره مخ شو او څنګه کولای شو چې بیا د علم او تمدن په ډګر کې نوې رڼا خپره کړو. ځوان د تاریخ له دې ستر تالاره داسې ووت چې د پښوا په پرتله یې خپل

ketabton.com - The Digital Library


مسؤلیت ډېر دروند احساس کړ. هغه پوه شو چې د ده په قلم کې باید د همدې ستر تمدن رڼا انعکاس ومومي. استاد ورو وویل: اوس به موږ د رنسانس، یعنې د نوي ژوند دورې، او د معاصرې نړۍ د بدلونونو برخې ته ولاړ شو، تر څو وپوهېږو چې نړۍ څنګه تر نننۍ حالت پورې راورسېده

کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د بغداد د زرینې دورې له تالاره ووتل، د تالار رڼا ورو ورو بدله شوه او په فضا کې د ساعتونو د عقربو غږ څو ځله تکرار شو، لکه چې زمانه بېرته تاوېږي. استاد نرمه موسکا وکړه او ویې ویل: اوس موږ د هغه پړاو لور ته روان یو چې انسان د علم د دوهم ځل بیدارۍ شاهد شو، دا هغه دوره ده چې د «رنسانس» یا «نوي ژوند» په نوم یادیږي. تالار ورو ورو روښانه شو او څلور لور ته نوې صحنې څرګندې شوې: د لیونارډو داوینچي ښکلي انځورونه، د ګالیلیو ستورپوهنیز دوربینونه، د چاپ لومړنۍ ماشین او د سمندرونو سترې نقشې. استاد وویل: رنسانس په اروپا کې هغه وخت پیل شو کله چې د اسلامي تمدن علمي میراث د اندلس له لارې اروپا ته ورسېد. مسلمان پوهانو د یوناني، هندي او فارسي علومو ژباړې کړې وې او هماغه کتابونه وروسته د اروپا د علمي بیدارۍ الهام وګرځېدل. ځوان له حیرته وویل: نو دا رڼا لا هم د اسلامي تمدن له مشعل څخه بلېده؟ استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: هو ځوان ، د اندلس پوهې ډېر اروپایي عالمانو ته نوی افق پرانیست. وروسته د تالار بله برخه بدله شوه او د یوه علمي لابراتوار صحنه راڅرګنده شوه، شیشې، تلسکوپونه، ساعتونه او کتابونه هر ځای لیدل کېدل. استاد وویل: په دې دوره کې انسان د طبیعت رازونه څېړل پیل کړل. د

ketabton.com - The Digital Library


کوپرنیک، ګاليليو، نيوټن او بويل څېړنو د طبيعي علومو نوی باب پرانيست. شاميلا زياته کړه: د نيوټن د حرکت قوانينو انسان ته وښودله چې کاينات تصادفي نه دي، بلکې د نظم او سنجش يو ستر سيستم دی. ځوان موسک شو او ويې ويل: يعنې انسان د خدای د تخليق نظم وپېژاند، خو په علمي ژبه. تالار بيا پراخ شو او نوې صحنه راښکاره شوه: د صنعتي انقلاب نړۍ. د بخار انجنونه، اورګاډي، فابريکې، د اوسپنې پلونه او د کارخانې لوی ماشينونه هر لور ته ښکارېدل. ځوان حيران شو، دا د شور، خوځښت او بدلون نړۍ وه. استاد وويل: په اتلسمه پېړۍ کې انسان داسې وسايل اختراع کړل چې د توليد بڼه يې بدله کړه.

کار، تجارت، ښارونه او حتی د خلکو د ژوند نظم بدل شو. شاميلا په لږ انديښنه وويل: خو له علم سره قدرت هم راځي، ځينې خلکو علم د خير پر ځای د زور لپاره وکاراوه. ځوان ورو وويل: نو دا د انسان ازموينه وه، سمه ده؟ علم يوازې وسيله ده، نيت يې لوری ټاکي. استاد په درنښت سر وخوځاوه او ويې ويل: بالکل همداسې ده، له همدې ځايه د معاصر تمدن د اخلاقو، فلسفې او سياست نوې پوښتنې راپورته شوې. وروسته دروازه بله معاصره فضا ته خلاصه شوه. په ديوالونو ستر سکرينونه، فضايي سپوږمکۍ، کمپيوټرونه، روبوټونه او مصنوعي ځيرکتيا ښکاره شول. ځوان داسې احساس کاوه لکه د فکري انقلاب په منځ کې ولاړ وي. استاد وويل: اوس د بشر ذهن د هر وخت په پرتله ډېر ځواکمن شوی، خو له دې سره يې مسؤليت هم ډېر شوی دی. ټکنالوژي، مصنوعي ځيرکتيا، ژنتيک، فضا او د اقليم علم د انسان عقل ته نوې

ketabton.com - The Digital Library


ازموینې وړاندې کوي. شامیلا زیاته کړه: خو د علم تر ټولو لوړ هدف باید دا وي چې انسان ته خدمت وکړي، نه دا چې هغه له اخلاقو بېل کړي. ځوان ژور سا واخیست او ویې ویل: ما په دې سفر کې یو مهم درس زده کړ... تمدن یوازې ښارونه او ماشینونه نه دي، بلکې روح هم پکې ژوندی وي. استاد موسک شو او ویې ویل: هو ځوان ، ته اوس پوه شوې چې علم بې له اخلاقو نه شي کولی تمدن جوړ کړي، او هر ملت چې علم، ښوونه او وجدان یو ځای وساتي، تلپاتې پاتې کېږي. د تالار رڼا ورو ورو کمه شوه او د زمانې دروازه بنده شوه. رڼا د ځوان پر سترګو ولګېده او هغه احساس وکړ چې مخې ته به یې یو نوی ښار، نوی فصل او نوې پوښتنې انتظار باسي. استاد ورو وویل: اوس به موږ د جغرافیې ښار ته ولاړ شو، هلته به د ځمکې، بحرونو او حتی فضا د اسرارو لیدنه وکړو. شامیلا موسکۍ شوه او ویې ویل: نو بیا به زموږ سفر له خاورې نه تر کایناتو پورې وغځېږي. ځوان سر وخوځاوه او په زړه کې یې وویل: زما دا سفر یوازې د پوهې سفر نه دی، بلکې د خالق د نښو د پېژندلو سفر هم دی

کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د تاریخ له تالاره ووتل،

## د جغرافیې ښار

د دېوالونو د سرو زرو رنګ ورو ورو بدل شو او پر ځای یې د ځمکې رنګین نقشې راڅرګندې شوې. په شاوخوا کې د ځمکې د بېلابېلو قارو او سمندرونو درېبعدي ماډلونه ورو ورو څرخول کېدل. استاد په درنښت وویل: ځوان ، له

ketabton.com - The Digital Library


تمدنونو وروسته باید د هغه کور په اړه هم پوه شو چې دا ټول تمدنونه پکې وده کوي. دا د جغرافیې او د ځمکې د علم ښار دی. شامیلا یو ستر هوښیار ماډل ته اشاره وکړه چې د ځمکې ژوندی انځور یې ښود. هغې وویل: دا زموږ کور دی، خو په دې کې لا هم ډېر رازونه پټ دي. لږ وروسته تالار بدل شو او د ځمکې د دنني جوړښت درې‌بعدي بڼه ښکاره شوه. د ځمکې قشر، منتل او هسته د رڼا په بېلابېلو رنګونو کې څرګند شول. استاد وویل: د ځمکې په دننه کې د تودوخې او فشار کچه دومره لوړه ده چې لکه د اور یوه ستره نړۍ ښکاري. همدا تودوخه د اورغورځوونکو غرونو، زلزلو او د ځمکې د حرکتونو لامل ګرځي. ځوان د دېوال پر لور وکتل چې پکې د اورغورځوونکو غرونو انځورونه ښکارېدل او ویې ویل: له دې ځواک څخه انسان څنګه ګټه اخلي؟ استاد ځواب ورکړ: د اورغورځوونکو غرونو خاوره د نړۍ له تر ټولو زرخېزو خاورو څخه ده او ځینې سیمې د ځمکې له همدې تودوخې څخه د انرژۍ د تولید لپاره هم ګټه اخلي، خو که دا ځواک کنټرول نه شي، لوی خطر هم رامنځته کولای شي. وروسته د تالار په منځ کې د ځمکې ستره نقشه راښکاره شوه. استاد وویل: ډېر پخوا ټولې وچې په یوه ستره وچه کې سره نښتې وې چې «پانجیا» بلل کېده. د وخت په تېرېدو سره دا وچه په بېلابېلو قارو ووېشل شوه. د «پلېټ ټېکټونیکس» د نظریې له مخې دا قارې لا هم ورو ورو حرکت کوي، همدا حرکتونه غرونه جوړوي او سمندرونه پراخوي. شامیلا د سمندر د نقشې یوې برخې ته اشاره وکړه او ویې ویل: د سمندر ژورې برخې، لکه سمندري خندقونه، لا هم د ځمکې له لږو څېړل شوو ځایونو څخه دي. د اقیانوسونو لاندې عجیبه ژوي، ناآشنا چاپېریال او د اوبو هغه جریانونه شته چې

ketabton.com - The Digital Library


د ځمکې د اقلیم په تنظیم کې مهم رول لري. لږ وروسته د تالار فضا بدله شوه او د بادونو، توپانونو او د نړۍ د اقلیمي کمربندونو انځورونه ښکاره شول. استاد وویل: جغرافیه یوازې د ځمکې بڼه نه ده، بلکې د هوا او اقلیم بدلونونه هم پکې شامل دي. د کاربن ډای اکساید د زیاتېدو او د «ګلخانې اغېز» د پیاوړتیا له امله د نړۍ اقلیم بدلېږي او دا د راتلونکې لپاره یوه جدي ننګونه ده. ځوان په فکر کې شو او ویې ویل: دا موضوع باید په راتلونکو فصلونو کې لا ژوره وڅېړل شي، ځکه چې د کرنې، اوبو او د انسان د ژوند پر ټولو برخو اغېز لري. ناڅاپه د تالار چت لوړ شو او د ځمکې انځور له فضا څخه ښکاره شو. شامیلا په خوښۍ وویل: اوس زموږ سفر له ځمکې هاخوا هم روانېږي. استاد وویل: د انسان د جغرافیې لټون له ځمکې څخه پیل شو، خو اوس فضا ته رسېدلی دی. سپوږمۍ، مریخ او د کهکشانونو نړۍ د راتلونکو څېړنو نوې دروازې دي.

د دیوال پر سکرینونو د هابل او نورو ځواکمنو تلسکوپونو انځورونه څرګند شول. استاد ورو وویل: دا وسایل موږ ته ښیي چې ځمکه د خدای جل جلاله په ستر کاینات کې یوازې یوه کوچنۍ سیاره ده. ځوان د دې پراخې منظرې په وړاندې ودرېد او احساس یې وکړ چې پوهه څومره پراخه ده او انسان څومره لا ډېر څه زده کولای شي. هغه شامیلا ته وکتل او ویې ویل: موږ د کرنې، ټکنالوژۍ او تاریخ په اړه ډېر څه زده کړل، اوس د ځمکې د جوړښت رازونه هم رابرسېره کېږي. داسې ښکاري چې دا ټول علوم یو له بل سره تړلي دي. استاد موسک شو او ویې ویل: همداسې ده، ځکه د علم ټولې څانګې په پای کې

ketabton.com - The Digital Library


د انسان د ژوند د ښه کولو او د نړۍ د سم درک لپاره کار کوي. بیا یې ورو لاس پورته کړ او ویې ویل: زموږ راتلونکی سفر به د اقلیم، طبیعي سرچینو او د انسان او طبیعت د اړیکو په اړه وي، هلته به ته درک کړې چې د ځمکې ساتنه د انسان تر ټولو ستر مسؤلیت دی

کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د جغرافیې له پراخ ښار څخه ووتل، د دوی مخې ته یو بل ښار راڅرګند شو چې له پخوانیو ښارونو څخه بېخي توپیر درلود

## حکومت

.دلته غرونه او سیندونه نه ښکارېدل، بلکې لویې محکمې، شوراګانې، د خلکو جرګې او د قانون تالارونه ولاړ وو. استاد ورو وویل: ځوان ، که ځمکه د انسان کور وي، نو حکومت د همدې کور نظم دی. پرته له نظم څخه ټولنه د بېچلوونکې بېړۍ په څېر ده چې هره څپه یې بل لوري ته وړي. ځوان شاوخوا وکتل، خلک په منظم ډول کار کاوه، قاضیان د خلکو خبرې اورېدې او په یوه پراخه میدان کې د خلکو شورا روانه وه. شامیلا وویل: دا د حکومت او عدالت ښار دی، هغه ځای چې د انسان د ګډ ژوند اصول پکې ټاکل کېږي. استاد د ښار یوې لوړې ودانۍ ته اشاره وکړه چې پر دېوالونو یې د تاریخ بېلابېلې صحنې انځور شوې وې: قبایلي مشران، پاچاهان، جمهوریتونه او د خلکو شوراګانې. هغه وویل: د انسان ټولنې له پیل څخه د نظم اړتیا لرله. کله چې خلک زیات شول، نو د ګډ ژوند لپاره قانون او مشرتابه ته اړتیا پیدا شوه. ځوان پوښتنه

ketabton.com - The Digital Library



وکړه: خو ښه حکومت کوم دی؟ استاد ځواب ورکړ: هغه حکومت چې درې بنسټیز شیان وساتي؛ عدالت، امنیت او د خلکو حقونه. ناڅاپه د تالار په منځ کې د عدالت یوه لویه ترازو ښکاره شوه. استاد وویل: عدالت د هر حکومت بنسټ دی. که عدالت نه وي، قانون یوازې زور ګرځي. شامیلا ورو زیاته کړه: په ډېرو تمدنونو کې عدالت ته لوړ مقام ورکړل شوی، خو په اسلامي تمدن کې دا یو الهي امر ګڼل شوی. استاد وویل: الله تعالی امر کوي چې عدالت وکړئ، حتی که د خپل ځان پر ضد هم وي. ځوان ژور فکر وکړ او ویې ویل: نو عدالت یوازې قانون نه دی، بلکې اخلاق هم دي. وروسته د دېوالونو پر سکرینونو د نړۍ بېلابېل حکومتي نظامونه ښکاره شول؛ پاچاهي، جمهوریت، پارلماني نظام او د شورا پر بنسټ حکومتونه. استاد وویل: هر قوم د خپل تاریخ او کلتور له مخې د حکومت ډول ټاکلی، خو یو اصل هر ځای یو شان پاتې شوی دی؛ حکومت د خلکو د خدمت لپاره دی، نه د خلکو د غلامولو لپاره. ځوان وویل: نو که حکومت د خلکو خدمت ونه کړي، خپله موخه له لاسه ورکوي. وروسته د تالار یوه برخه د اسلامي تاریخ صحنو ته واوښته. مدینه منوره، د خلفای راشدینو شوراګانې او د قضا د عدالت صحنې ښکاره شوې. استاد وویل: په اسلامي تاریخ کې حکومت د اخلاقو او قانون پر ګډ بنسټ ولاړ و. د مدینې تړون د نړۍ له لومړنیو ټولنیزو قراردادونو څخه ګڼل کېږي. شامیلا وویل: هلته مسلمانان، یهودان او نور قومونه د یوه قانون لاندې ژوند کول. ځوان حیران شو او ویې ویل: یعنې عدالت یوازې د یوه قوم لپاره نه و، بلکې د ټولو لپاره و. لږ وروسته تالار ورو ورو د معاصرې نړۍ ښه خپله کړه. د پارلمان ودانۍ، نړیوال سازمانونه او د رسنیو مرکزونه ښکاره شول. استاد وویل: په

ketabton.com - The Digital Library


نننی نړۍ کې د حکومت تر ټولو لویه ننګونه دا ده چې د ټکنالوژۍ، اقتصاد او نړیوالو اړیکو تر منځ توازن وساتي. شامیلا زیاته کړه: همدارنګه د انسان حقونه، د چاپېریال ساتنه او نړیواله همکاري د معاصر حکومت مهمې موضوعګانې دي. ځوان وویل: یعنې حکومت یوازې د یوې سیمې موضوع نه ده، بلکې د ټولې نړۍ له حالاتو سره تړاو لري. کله چې دوی د ښار له مرکزه تېرېدل، ځوان احساس وکړ چې د تمدن ځواک یوازې په علم کې نه دی، بلکې په عدالت کې هم پټ دی. هغه ورو وویل: که علم انسان ته ځواک ورکړي، نو عدالت هغه ځواک سم لوري ته رهبري کوي. استاد موسک شو او ویې ویل: همدا د تمدن ریښتینی مفهوم دی؛ کله چې علم، اخلاق او عدالت یو ځای شي، انسانیت وده کوي. د ښار په پای کې یوه بله لویه دروازه ښکاره شوه چې پرې لیکل شوي وو: «د اقتصاد او کرنې ښار». استاد وویل: په راتلونکي فصل کې به موږ د انسان د ژوند یو بل بنسټیز اړخ وڅېړو؛ خواړه، کرنه او اقتصاد. شامیلا ځوان ته وکتل او ویې ویل: هر تمدن چې ځواکمن شوی، لومړی یې خپله کرنه او اقتصاد پیاوړي کړي دي. ځوان موسک شو او ویې ویل: نو زموږ بل سفر به ده اقتصاد وی،

## اقتصاد

کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د عدالت له ښار څخه ووتل، د دوی مخې ته یو پراخ شین افق پرانېستل شو. په هوا کې د خاورې خوږ بوی خپور و، د باد نرمې مستۍ او د اوبو خوږ غږونه اورېدل کېدل. د اسمان له لورې د باران څاڅکي ورو ورو د ځمکې پر سینه لوېدل، لکه د ژوند یو الهي سوغات. استاد

ketabton.com - The Digital Library


موسک شو او ویې ویل: ښه راغلاست د خاورې ښار ته؛ دا هغه ځای دی چې د انسان تمدن له تخمه پیل شوی دی. د تالار په منځ کې یو ستر تخم ښکاره شو چې ورو ورو یې شنه ښاخونه راټوکېدل. استاد وویل: د انسان لومړنی منظم ژوند د کرنې پر محور ولاړ و. کله چې انسان د خاورې اداره زده کړه، هماغه وخت یې تمدن جوړ کړ. شامیلا زیاته کړه: کله چې تخم په خاوره کې کېښودل شو، له هغه سره علم هم وزېږېد؛ د اوبو اندازه، د کښت وخت، د هوا بدلونونه او د فصلونو نظم ټول د علم اصول شول. ځوان د خاورې یوه مټه راواخیسته او د خپلو ګوتو تر منځ یې ورو ورو وڅنډله او ویې ویل: نو دا کوچنۍ خاوره څومره لوی راز لري. استاد موسک شو او ویې ویل: هو ځوان ، له همدې خاورې خدای تعالی انسان پیدا کړ او له همدې خاورې یې انسان ته رزق ورکړ. لږ وروسته د تالار پر دېوالونو د لرغونو تمدنونو انځورونه راڅرګند شول؛ د نیل سیند شنې غاړې، د بین النهرین پراخې کروندې، د سند د درې شنې ځمکې او د ایران د پخوانیو باغونو منظرې. استاد وویل: د نړۍ ډېر تمدنونه د سیندونو پر غاړو راټوکېدلي دي، او هر کله چې سیندونه وچ شوي، تمدنونه هم ورسره کمزوري شوي دي. شامیلا زیاته کړه: نو د اوبو هوښیار مدیریت د تمدن د ژوند راز دی. ځوان ورو وویل: د خاورې ارزښت باید د سرو زرو په څېر وساتل شي. وروسته استاد د یوه شفاف تالار دروازه خلاصه کړه. هلته د اوبو جریانونه د ښیښو تر منځ روان وو او د لرغونو بندونو، کانالونو او د اوبو د وېش د قوانینو انځورونه ښکارېدل. استاد وویل: اوبه د ژوند رګونه دي او د تمدن د دوام اساس ګڼل کېږي، خو کله کله انسانان دا الهي نعمت د سیاست او زور وسیله ګرځوي. شامیلا په ارام غږ وویل: په اسلامي تعلیماتو کې د اوبو

ketabton.com - The Digital Library


وېش د عدالت پر بنسټ ولاړ دی، هر څوک د اړتیا له مخې حق لري، نه د زور له مخې. وروسته تالار بدل شو او د مدینې منورې بازارونه، د سوداګرو کاروانونه او د بیت المال صندوقونه ښکاره شول. استاد وویل: اسلامي اقتصاد د عدالت، امانت او شفافیت پر بنسټ ولاړ دی. دلته مال هدف نه دی، بلکې د خیر، آبادۍ او د خلکو د سوکالۍ وسیله ده. ځوان پوښتنه وکړه: نو د سود مسئله ولې دومره مهمه ګڼل شوې؟ استاد ځواب ورکړ: ځکه سود د ظلم سرچینه ګرځي، خو اسلامي اقتصاد د مشارکت، مضاربت او زکات له لارې داسې نظام وړاندې کوي چې شتمني د خلکو تر منځ عادلانه وګرځي. شامیلا زیاته کړه: یعنې په اسلامي اقتصاد کې برکت د نیت، عدالت او د ګټې د عادلانه وېش له توازن څخه رامنځته کېږي. وروسته انځور بدل شو او د صحرا له لارې د کاروانونو اوږدې قافلې ښکاره شوې چې د عطرونو، مسالو، ورېښمو او سرو زرو تجارت یې کاوه. استاد وویل: تجارت د ملتونو تر منځ د اړیکو پُل دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم تاجر و او د صداقت له برکته یې تجارت ته برکت ورکړ. ځوان وویل: نو د تجارت اصلي روح صداقت دی، نه فریب. شامیلا زیاته کړه: او د نننۍ نړۍ د ډېرو اقتصادي ستونزو یو لامل دا هم دی چې اخلاق له بازار څخه لیرې شوي دي. لږ وروسته د تالار پر دېوال د معاصر اقتصاد بېلابېل نظامونه ښکاره شول؛ پانګوالی، اشتراکیت، مخلوط اقتصاد او اسلامي اقتصادي نظام. استاد وویل: دا ټول نظامونه د انسان د فکر او تجربې پایلې دي، خو اسلامي اقتصاد د اخلاقو او ایمان پر بنسټ ولاړ دی چې پکې عدالت، اعتدال او د انسان خدمت اساسي ارزښتونه دي. وروسته د نړۍ د اقتصادي بحرانونو، پورونو، انفلاسیون او بې عدالتۍ صحنې ښکاره شوې.

ketabton.com - The Digital Library



ځوان په ژور فکر کې وویل: که انسان اخلاق له اقتصاد څخه جلا کړي، نه به ریښتینی رزق ومومي او نه به ارام پیدا کړي. استاد ځواب ورکړ: همداسې ده، ځکه نړۍ یوازې د شمېرو او معادلو پر بنسټ نه چلېږي؛ وجدان، رحمت او عدالت هم د هغې برخه دي. شامیلا بیا یوې شنې کروندې ته اشاره وکړه او ویې ویل: خو په پای کې دا هر څه له یوه کوچني تخم څخه پیلېږي. ځوان د خاورې بوی واخیست او ورو یې وویل: انسان چې له خاورې پیدا شوی، د همدې خاورې خدمت هم کوي. که نیت پاک وي، کرنه هم د عبادت یوه بڼه ګرځي. استاد موسک شو او ویې ویل: ځکه مېوه له خاورې راټوکېږي، خو برکت د نیت له پاکوالي څخه پیدا کېږي. په همدې وخت کې د تالار په پای کې د رڼا یوه نوې دروازه ښکاره شوه او له هغې نه د ماشینونو او برېښنا غږونه اورېدل کېدل. پر دروازه لیکل شوي وو: «د ټکنالوژۍ ښار». استاد وویل: زموږ راتلونکی سفر د هغه ځواک په اړه دی چې د کرنې، اقتصاد او د انسان د ژوند بڼه یې بدله کړه؛ د ماشینونو، تخنیک او نوښت نړۍ. شامیلا موسک شوه او ویې ویل: یعنې له خاورې څخه د وسایلو تر رڼا پورې سفر.

ځوان ورو وویل: او همدا هغه لاره ده چې انسان یې د اسانتیاوو تر څنګ له نویو مسؤلیتونو سره هم مخامخ کوي

کله چې د اقتصاد او کرنې ښار ورو ورو د ماښام په نرمې رڼا کې ډوبېده، ځوان ، شامیلا او استاد د ښار د وروستۍ غونډۍ سر ته وختل. له هغه ځایه لاندې پراخې شنې کروندې ښکارېدې او د باد له لګېدو سره د غنمو څپې لکه د سمندر د امواجو په څېر خوځېدې. ځوان د اوږدې چوپتیا وروسته ورو

ketabton.com - The Digital Library



وویل: عجیبه ده، انسان له خاورې نه رزق اخلي، خو خپله کیسه د کلمو له لارې ژوندۍ ساتي. استاد موسک شو او د اسمان لور ته یې وکتل او ویې ویل: بالکل همداسې ده ځوان ، کرنه د انسان د بدن بقا ده، خو ژبه د انسان د روح بقا ده. شامیلا د لرې پر افق د یوه بل ښار پر لور اشاره وکړه. هلته د رڼاګانو یو بل ښار ځلېده، خو دا ځل د فلز او ماشینونو شور نه اورېدل کېده، بلکې د انسان د غږونو انعکاس پکې خپور و؛ د شعر نغمه، د کتابونو د پاڼو شرنګ، او د قلم د لیکو نرم اواز. هغې ورو وویل: هغه ښار وینې؟ ځوان خپلې سترګې ور واړولې او ویې ویل: هو، خو دا ښار د نورو ښارونو نه بېخي بل ډول ښکاري. استاد ورو ځواب ورکړ: ځکه دا د وسایلو ښار نه دی، دا د فکر ښار دی. دوی درې واړه ورو ورو د هغه ښار پر لور روان شول. داسې احساس کېده لکه له هر ګام سره چې د کلمو انعکاس اورېدل کېږي؛ حکایتونه، کیسې، شعرونه او د تاریخ اوږدې کیسې. ځوان په زړه کې احساس وکړ چې د انسان تر ټولو ستره اختراع نه ماشین دی او نه لوی ښارونه، بلکې کلمه ده. هغه ورو وویل: شاید همدا کلمه ده چې تمدنونه جوړوي او کله کله یې ورانوي هم. استاد سر وخوځاوه او ویې ویل: همدا وجه ده چې د تاریخ هر لوی بدلون د یوې کلمې له اغېزه پیل شوی دی. شامیلا موسک شوه او ویې ویل: نو راځه چې د کلمې ښار ته داخل شو.

ketabton.com - The Digital Library



# ادبيات

د ښار دروازه ورو ورو پرانیستل شوه او پر دروازه لیکل شوي وو: «د ژبې او ادب ښار». له هماغې شیبې د قلم، فکر او کلمو یو نوی سفر پیل شو

کله چې ځوان ، شامیلا او استاد داخل شول،

استاد ځوان ته وویل ،

" ښه راغلاست د ژبې او ادب ښار ته، ځوان ... دا هغه ښار دی چې تمدنونه پکې زیږي، جګړې پکې رامنځته کیږي، زړونه پکې رغیږي، او انسان پکې خپل روح ځرګندوي".

لومړی تالار د ژبې د پیدایش په اړه و. د ښار په لومړۍ ځنډه کې یو لوړ برج ولاړ و چې د رڼا له ځپو جوړ شوی و. د برج پر دېوالونو د نړۍ د بېلابېلو ژبو کلمې ښکارېدې؛ عربي، لاتیني، یوناني، سانسکرت، پښتو، دري، عبري، چینایي او نورې.

شامیلا د عربي لیک مخې ته ودرېدله او ویې ویل"همدا ژبه ده چې د وحی د نازلېدو لوښی شوه.

استاد زیاته کړه:

" ژبه یوازې د خبرو وسیله نه ده. ژبه د فکر جامه ده؛ د انسان د زړه له احساسه تر خدای پورې د سفر پُل ، ځوان ورو پوښتنه وکړه:

" خو ژبه ولې دومره ځواک لري؟ "

ketabton.com - The Digital Library



استاد ځواب ورکړ

" څکه کلمه د خدای د فرمان برخه ده؛ 'کُن' یوه کلمه وه، او کاینات پیدا شول".

د ښار په منځ کې د رڼا یو لوی تالار و. پر دېوالونو یې د قرآن کریم آیتونه د روښانۍ په څپو کې ځلېدل، او هر آیت لکه د زړه په تل کې چې یو نرم ټکان پیدا کړي.

شامیلا په درناوي سر ټیټ کړ.

" دا هغه کلمې دي چې د بشر د ژبې او فکر ستره معجزه ده." استاد وویل: ځوان ، که د تاریخ ټول ادب په یوه لوري کې کېږدو او د قرآن یو سورت په بل لوري کې، د توازن ترازو به د آسماني کلمو له درانه وزن څخه خامخا ټیټه شي.

ځوان د آیتونو تر منځ د رڼا څپو ته کتل او د زړه په تل کې یې یو عجیب سکون احساس کړ.

" داسې ښکاري چې دا کلمې یوازې خبرې نه دي... دا د انسان روح ته خطاب کوي.

استاد موسک شو.

" هو، څکه کله چې کلمه له آسمانه راکوزه شي، د انسان سینه بدلوي، نه یوازې فکر.

ketabton.com - The Digital Library


# شعر

په بل تالار کې د شعر نړۍ پرانیستې وه. هلته د احساس نسیم چلېده. د حافظ د غزلونو بوی، د رحمان بابا د صفا نسیم، د خوشحال خان د غیرت طوفان، د مولانا د عشق ځراغونه، او د فردوسي د حماسې غرونه ټول یو ځای راټول شوي وو.

ځوان په حیرانتیا وویل:

" دا څه ښار دی چې هره کلمه یې په زړه کې ځای نیسي!

استاد ځواب ورکړ:

" شعر هغه ژبه ده چې عقل نه، بلکې روح پرې خبرې کوي".

شامیلا زیاته کړه:کله چې انسان د درد، مینې یا خوښۍ په حالت کې وي، عادي جملې بسنه نه کوي.

ځوان موسک شو:

" نو شعر د احساس ترجمان دی".

د ادب ښار په بله څنډه کې یوه ستره کتابخانه ولاړه وه. زرګونه کتابونه پکې ایښي وو؛ د بابل د ختو لوحې، د مصر پخواني طومارونه، د یونان فلسفي لیکنې، او د اسلامي تمدن زرین آثار.

استاد یوه کتاب ته اشاره وکړه او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library



“ دا د وخت له سیلابه ژغورل شوې روحونه دي. کله چې انسان مري، د هغه خبرې یوازې په کتاب کې ژوندۍ پاتې کېږي”.

ځوان  وویل:نو کتاب د انسان د دوهم ژوند په څېر دی.

شامیلا  موسک شوه:او لیک د انسان د فکر لپاره خدای ورکړې حافظه ده.

خو د ښار یوه برخه تیاره هم وه. هلته د دروغو، فریب، نفرت، غیبت او افتراء تورې کلمې د رڼا څراغونه مړه کول.استاد جدي شو.

“  ځوان ، کلمه که رڼا وي، روح ژغوري؛ خو که زهر وي، ملتونه ورانوي. ځوان  ورو وویل:نو ژبه د انسان تر ټولو خطرناکه وسله هم ده. شامیلا  ور وکتل او ویې ویل:خو هم د زړه تر ټولو نرمه درملنه هم ده”.

د ادب ښار په وروستي پله کې یوه لوړه تختي ولاړه وه چې پرې لیکل شوي وو:ژبه د انسان پېژندنه ده.

که کلمه پاکه وي، انسان پاک وي.

استاد  ځوان  ته وکتل او ویې ویل:ته ښار په ښار وګرځېدې؛ له تاریخ نه تر جغرافیې، له حکومت نه تر اخلاقو، له کرنې نه تر اقتصاد، او له هغه ځایه تر ژبې او ادب پورې... خو لا ښارونه پاتې دي.

ځوان  حیران شو.

کوم ښارونه؟استاد ورو ځواب ورکړ ،د روح ښار،

ketabton.com - The Digital Library



د حکمت ښار، او د لمانځه ښار ،

ځوان  ژوره ساه واخیسته.“نو سفر مې لا پای ته نه دی رسېدلی”.

شامیلا  په نرمه موسکا وویل:“اصلي سفر همدا اوس پیلېږي”.

## د روح ښار

کله چې ځوان ، شامیلا  او استاد د ژبې او ادب له ښار نه ووتل، د دوی مخې ته یو بل ښار راڅرګند شو؛ داسې ښار چې پکې د نور له څپو او د باد له نغمو نه روح ژور احساس کېده.

په دې ښار کې د مادي شیانو شور نه و. دلته د آرام، سکون، دعا، مراقبې او ذکر فضا خپره وه. داسې ښکاره کېده لکه هره ساه چې د یاد او تفکر برخه وي.استاد ورو وویل:“ښه راغلاست د روح ښار ته، ځوان ... دلته انسان له خپل بدن، مال، مقام او حتی له کلمې نه هم لوړې مرتبې ته داخلیږي. روح د الله له امره دی، نو دلته د انسان اصلي حقیقت څرګندیږي.د ښار په لومړۍ څنډه کې یو ساده تالار و. هلته نه انځور و، نه شور او نه هم کوم ظاهري ښکلا؛ یوازې یو ژور سکون و. د زړه د تپش، د دعا د آه، او د مراقبې د خاموشۍ یو نرم غږ پکې اورېدل کېده.

ځوان  په فکر کې ډوب شو او ویې ویل:“دلته بدن نه محسوسیږي، حتی کلمه هم بې اغېزې ښکاري... نو ښایي روح د انسان حقیقي جوهر وي.

ketabton.com - The Digital Library



استاد سر وخوځاوه او ویې ویل:"هو، ځوان . روح د الله له امره دی؛ نه لیدل کېږي، نه وزن لري، خو د انسان ټول اعمال پرې اغېز کوي".

شامیلا ورو زیاته کړه:"روح د محبت، رحم، عاجزۍ، امید او ښېښې سرچینه ده".

د ښار په بل تالار کې د دعا او مراقبې فضا لا ژوره وه. خلک په خاموشه عبادت، تلاوت او تفکر کې ډوب وو. ځوان په حیرانتیا وویل:"دا خو د کلمو ښار نه، بلکې د سکوت ښار دی".

استاد موسک شو:"ځینې وخت سکوت د روح لپاره تر هرې فلسفې زیات اغېز لري".

شامیلا ورو وویل:"د روح له الهام نه علم پیدا کېږي، اخلاق پیدا کېږي، شعر، هنر او حتی تمدن هم له همدې سرچینې راټوکېږي".

د ښار په منځ کې د زړو ونو لاندې د مجلس ځای و. هلته د عارفانو، صوفیانو، زاهدانو او د دیني عالمانو حکایتونه بیانېدل.

استاد وویل:"حقیقتونه د روح له ژورو راټوکېږي. د اخلاق اصل د روح په پاکوالي کې دی. که روح پاک وي، عمل پاک وي؛ او که روح مړ شي، علم بې ګټې کېږي او ادب بې اثره. ځوان موسک شو او ویې ویل:نو د تمدن اصلي بنسټ نه یوازې علم دی او نه مال، بلکې روح دی".

ketabton.com - The Digital Library



په یوه اوږده تالار کې د اسمان نرمې رڼاګانې ښکته راتلې. خلک په خاموشه دعا کې لاسونه پورته کړي وو. شامیلا ورو وویل:"د الله ج سره د انسان حقیقي اړیکه له روح نه پیلیږي. دعا د روح تغذیه ده، او الهام د انسان د عروج راز".

استاد زیاته کړه:"روح ساتل کیږي، خو تربیه غواړي. دا تربیه د تلاوت، مراقبې، سکوت، ذکر، محبت او عاجزۍ له لارې ممکنه ده. همدا د روح تمدن دی".

د روح ښار په پای کې یوه لوړه تختې ولاړه وه چې پرې لیکل شوي وو:"د بدن فنا ده، خو د روح بقا ده.علم بې اخلاقه، ادب بې معنویت، او عمل بې نیت ټول بې روح دي.

ځوان ژوره ساه واخیسته. هغه استاد ته وکتل او ویې ویل:"ما احساس کړه چې روح اصل دی، او نور هر څه فرع. د انسان سفر او تمدن که روح ونه لري، مقصد ته نه رسیږي.

شامیلا موسک شوه:همدا راز باید د خپل سفر له پایلو سره یو ځای وساتې.

استاد ورو وویل: ځوان ، اوس څو ښارونه لا پاتې دي: د حکمت ښار د عقل، علم او سم فکر ښار؛ او د لمانځه ښار،

ځوان موسک شو، سترګې یې روښانه شوې.

زه چمتو یم "...

ketabton.com - The Digital Library


کله چې ځوان ، شامیلا او استاد د روح له ښار څخه راووتل، فضا بدله شوه.دلته هم سکوت و، خو دا د مراقبې سکوت نه و؛ دا د تفکر او ژور فکر سکوت و.

د دوی مخې ته یو ښار ولاړ و چې د سپینو ډبرو له لوړو منارو جوړ شوی و. په هر برج کې کتابونه، تجربې، نظریې او د تمدنونو کیسې پرتې وې. داسې ښکارېده لکه د بشري عقل ټول تاریخ چې دلته راټول شوی وي.استاد ورو وویل:ښه راغلاست د حکمت ښار ته… دلته انسان یوازې زده کوونکی نه وي، بلکې د پوهې کاروونکی وي.

ځوان د ښار برجونو ته په حیرانتیا وکتل او ویې ویل:نو حکمت له علم نه لوړ مقام لري؟

استاد موسک شو او ویې ویل:علم د حقیقت پېژندنه ده، خو حکمت د حقیقت سم استعمال دی.

شامیلا وویل:

ډېر خلک علم لري، خو حکمت نه لري.

ځوان حیران شو:دا څنګه ممکنه ده؟

استاد ځواب ورکړ:علم ذهن ډکوي، خو حکمت انسان ته توازن ورکوي.

هغه زیاته کړه:حکمت درې بنسټونه لري: علم، تجربه او اخلاق.د ښار په یوه لوی تالار کې د تاریخ د لویو حکیمانو خبرې لیکل شوې وې. هلته د سقراط

ketabton.com - The Digital Library


فلسفه، د افلاطون نظريات، د ارسطو منطق، د ابن سينا طب، د فارابي حکمت، د امام غزالي معرفت او د ابن رشد عقل ښودل کېدل.

ځوان په حيرانتيا وويل:د نړۍ ډېر تمدنونه د همدې خلکو له فکر نه اغېزمن شوي دي.

استاد وويل:هو، خو ياد ولره: تر ټولو لوی حکمت د وحی له سرچينې راځي. شاميلا د قرآن يوه آيت ته اشاره وکړه او ويې ويل:الله تعالی فرمايي:

**يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ**

الله چا ته چې وغواړي حکمت ورکوي.

د حکمت ښار يوه برخه د مشورو، تدبير او تصميمونو ځای و. هلته د قومونو مشران، قاضيان، مفکران او مشاورين د ستونزو د حل لارې لټولې.

استاد وويل:حکمت يوازې په کتاب کې نه وي؛ حکمت د ژوند په ستونزو کې ځرګندېږي.

ځوان وويل:يعني کله چې انسان ستونزه په عدل، عقل او صبر حل کړي هغه حکمت دی.

استاد موسک شو:بالکل همداسې ده.

د ښار په بله څنډه کې يو ښکلی باغ و. په هغه کې د تواضع، صبر، عدالت او حلم سمبولونه لکه د ونو او ګلونو په څېر ښکارېدل.

ketabton.com - The Digital Library


شامیلا وویل:حکمت که له اخلاقو بېل شي، خطرناک کېږي. ځوان پوښتنه وکړه:"ولې؟ "

استاد ځواب ورکړ:"ځکه چې عقل که د اخلاقو تابع نه وي، ظلم جوړوي.هغه ورو زیاته کړه:"نو حقیقي حکمت دا دی چې انسان علم ولري، خو عاجزي هم ولري.د ښار په وروستي برج کې یوه لویه کړکۍ وه. له هغې نه لرې یو بل ښار ښکاره کېده.

استاد ویل ، ځوان سبا به له خیره سره هغه ښار ته ځي خو هو سبا جمعه ده پاکې جامې واغونده او لږ په ځان ګوته مته ووهه، ځوان موسکی شو او لاړ ، شپه تیره سوه سهار سو ځوان غسل وکړ او پاکې نوی جامې یې واغوستې ، او تالار ته راغلی ، د تالار مخکې شامیلا ، او استاد ولاړ وه ورسره یو ځای سو ، استاد ویل راځی چی د لمانځه ښار ته ورسو،

## د لمانځه ښار

شامیلا په ورو ورو قدمونو ورسره روانه وه او استاد د سپین رنګه ګنډل شوې کالی اغوستي وه ډېر ارام ښکاره کېده، استاد په نرمه لهجا ورته وویل: ځوان ، نن زموږ سفر د عباداتو د ښار په زړه کې پیلیږي، هغه ځای چې د بندګي هر ذره، د هر نیت قصد او د هر قدم حرکت پکښې بندګي عبادت دی ، موږ د مسجد دروازې ته ورسېدو، هغه دروازه داسې ځلېده لکه آسمانی رڼا، استاد راته وویل: دلته چې موږ ننوځو باید د ادب، طهارت، وقار او خالص نیت لباس مو

ketabton.com - The Digital Library


په تن وي، ځکه دا د الله کور دی، او د الله کور ته د داخلېدو لپاره لومړی دروازه د زړه نیت دی، نیت د عبادت روح دی او هر عمل د نیت په میزان سنجول کیږي.

ځوان د مسجد د دروازې ترڅنګ ودرېد، شامیلا ورو ورته وویل: دلته به داسې دعا وایې: «اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ»، ځکه هر څوک چې د مسجد دروازې ته ورشي او دا دعا ووايي د رحمت دروازې ورته خلاصیږي، او چې وځي نو به وایې: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»، ځکه مسجد ته د ننوتلو ځای د رحمت دی او د وتلو ځای د فضل دی. استاد وویل: ځوان ، په حنفي فقه کې مسجد ته ننوتل مستحب دی، په مسجد کې د طهارت حالت سنت دی، په مسجد کې لوړ غږ مکروه دی، د دنیا خبرې مکروه تنزیهي دي، د شخړې او جګړې راوړل مکروه تحریمي دي، د نجاست راوړل حرام دي، او د مسجد احترام واجب دی.

موږ مسجد ته ورننوتو، هلته هر قدم داسې احساس لاره لکه د سجدې په نرمو وزرو د انسان روح د آرام په هېواد کې ځغلي، استاد په اشاره وویل: ځوان ، مسجد له ټولو ځایونو نه افضل ځای دی، په مسجد کې اذکار، د قرآن تلاوت، لمونځ، د علم حلقې، اعتکاف، خاموشي، تقوی او د زړه پاکوالی د خیر په درجې کې راځي، او داسې کارونه چې د مسجد له روح سره مناسب نه وي لکه

ketabton.com - The Digital Library


سوداګري، صراخ، شخړې، بد بوی، د خلکو د صف ماتول، دا ټول مکروهات دي، ځینې یې مکروه تنزیهي دي، ځینې مکروه تحریمي.

موږ د طهارت د حوض پر لور روان شو، استاد وویل: ځوان ، طهارت د عبادت بنیاد دی، فرض، واجب، سنت، مستحب، مکروه او مباح ټول په طهارت کې ځای لري، کله ناکله ځوک ورته پام نه کوي نو عبادت یې برهیچ وی ، نو ښه یې زده کول مهم دي، د بدن پاکوالی واجب دی، د جامو پاکوالی فرض دی، د ځای پاکوالی شرط دی، او که د بدن یا جامو یا ځای په هره برخه کې هغه نجاست وي چې د عفو نه وي، نو لمونځ نه قبلیږي، دا ځکه چې د لمانځه د شرطونو څخه یو د طهارت حالت دی، چې پرته له دې لمونځ نه کیږي.

## طهارت

موږ د اودس د حوض ترڅنګ ودرېدو، استاد وویل: ځوان ، اودس څلور فرضونه لري: لومړی د مخ مینځل، دویم د لاسونو تر څنګلو پورې مینځل، درېیم د سر د یوې برخې مسح، څلورم د پښو تر ګوتو پورې مینځل، دا فرضونه د اودس د صحت بنیادونه دي، که په دې کې یو هم پرېښودل شي اودس باطل دی، او اودس کی سنتونه هم شته لکه د مسواک کول، د لاسونو لومړی درې ځل مینځل، د خولې او پوزې پاکول، د مخ درې ځل مینځل، د غاړی مسح، د غمزو مینځل، دا ټول سنتونه دي او د اجر اسباب دي، او مستحبات لکه د قبلې لور ته کښېناستل، بسم‌الله ویل، په ارام سره اودس کول، په ښي پښې پیل کول، دا ټول د اودس ښکلا ده، ځوان ورته وویل: استاد، که څوک د اودس په منځ

ketabton.com - The Digital Library



کې خبرې وکړي؟ استاد ډېر په ارام وويل: دا مباح دي، مکروه نه دی، خو د ادب خلاف دی، د عبادت د روح له ښکلا سره مناسب نه دی.

ځوان چې اودس پيل کړ، شاميلا ورته وويل: ځوان ، د اودس په هره برخه کې دعا شته، خو په حنفي فقه کې هغه دعاوې چې خلک د هر غړي د مينځلو سره وايي لکه په سر کې «بسم الله» او په آخر کې «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ...» ويل دي: «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ.«

## غسل

موږ د غسل د تالار په لور روان شو، استاد وويل: غسل درې فرضونه لري: لومړی د خولې پاکول، دويم د پوزې پاکول، دريم د ټول بدن لوندول، او د غسل سنتونه ډېر دي لکه د لاسونو مينځل، د نجاست پاکول، د اودس کول، د اوبو په درې ځل بدن لوندول، په ښي اړخ پيل کول، دا سنتونه د غسل ښکلا ده، او هغه غسلونه چې فرض وي لکه د جنابت غسل، د حيض غسل، د نفاس غسل، دا د بدن طهارت شرطونه دي، پرته له دې لمونځ نه کيږي.

## تيمم

شاميلا وويل: ځوان ، که اوبه نه وې يا د استعمال ضرر وي، نو تيمم بديل دی، د تيمم طريقه دا ده: نيت کوې، دواړه لاسونه په پاکې خاورې وهې، مخ پرې مسح کوې، بيا لاسونه وهې او له څنګلو پورې يې مسح کوې، استاد وويل:

تیمم د ضرورت په وخت کې د فرض بدیل دی، مباح دی چې د سختۍ د لرې کولو لپاره وکارول کیږي، خو که اوبه موجودې وي تیمم مکروه دی، ځکه شریعت د ستونزو د کمولو لپاره دی، نه د اسانتیا د غفلت لپاره.

## نجاست

موږ د نجاست د میدان پر لور روان شو، هلته استاد وویل: ځوان ، نجاست دوه ډولونه دي: نجاست حقیقي لکه وینه، شاشې، غایطه، شراب، مردار، او نجاست حکمي چې د اودس او غسل د فرض کېدو سبب کیږي، نجاست حقیقي یې د کمو او ډېرو تقسیمات لري، که لږ وي عفو دی، که ډېر وي پاکول یې واجب دی،

## وختونه

موږ د وختونو د برج تر سیوري لاندې کیناستو، استاد وویل: د لمانځه وخت د لمانځه شرط دی، که څوک له وخته مخکې لمونځ وکړي لمونځ یې باطل دی، او په داسې وختونو کې لمونځ کول مکروه تحریمي دي لکه د لمر د ختلو درې دقیقې، د لمر د زوال شېبه، د لمر د لوېدو شېبه، او د لمر مخې ته لمونځ کول مکروه دی، او د جنازې لمونځ په دې وختونو کې جائز نه دی.

ځوان په حیرت وویل: استاد، دا ټول د لمانځه بنسټونه دي؟ استاد په موسکا وویل: نه، دا یوازې د عبادت بیلګه ده، اصلي سفر هغه وخت پیلیږي چې موږ د فرض لمانځونو په زړه کې قدم ږدو، شامیلا وویل: نو استاد، به موږ د

ketabton.com - The Digital Library


فرض او سنت لمانځونو تفصیل ته بوزي؟ استاد په نرم آواز وویل هو، موږ د فجر له لومړی رڼا د عشا تر وروستۍ دعا پورې

په اوږد سفر ځو.کله چې د فقه ښار په لمریني انګړ کې د سهار هوا نرمېده او د وړانګو په شان د نور نري تارونه له ګنبزو راښکته کېدل، استاد موږ د عبادت د ښار اصلي تالار ته بوتلو، هلته چې د لمانځه حقیقت د زمان او مکان له محدوده پورته پورته روان ښکاري، ځوان د حیرت په غوغا کې ولاړ و او استاد ورته وویل: ځوان ، د عبادت ښار زړه دلته دی، دلته چې موږ قدم ږدو، د بندګي ټول اسرار به د یو بل پسې درته پرانیستل کېږي، نن زموږ درس د لمانځه د اصل جوړښت دی، هغه ستنې چې لمونځ پرې ولاړ دی، هغه نیت چې د عبادت شروع ده، هغه قیام چې خلوص دی، هغه تکبیر چې د دروازې د خلاصېدو نښه ده، هغه قرائت چې د روح غذا ده، هغه رکوع چې د عاجزۍ کوږوالی دی، هغه سجود چې د انسان عبادت دی، هغه قعده چې د روح استراحت دی او هغه سلام چې د عبادت مهر دی.

موږ د تالار په منځ کې ودرېدو، استاد وویل: ځوان ،

## نیت

د لمانځه لومړی شرط نیت دی، او نیت د زړه قصد دی، ژبه یې نه شرط ده نه یې پرېښودل لمونځ فاسدوي، په زړه کې وایي چې فجر دی یا ظهر دی یا عصر دی، په زړه کې ټاکي چې فرض دی یا سنت دی یا وتر، په زړه کې ټاکي چې د امام شاته دی که یوازې، د نیت دا پټ غږ د عبادت د ټولو دروازو تر ټولو

ketabton.com - The Digital Library



لومړۍ ده، خو که څوک وغواړي په ژبه يې هم ویلای شي، لکه: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلَّهِ تَعَالَى فَرْضَ الظُّهْرِ»، خو دا لازم نه دي، سنت هم نه دي، مباح دي، ځکه په حنفي مذهب کې نیت یوازې د زړه قصد دی.

ځوان وویل: استاد، کله چې نیت کیږي، بیا څه؟ استاد وویل: بیا د لمانځه لومړی رکن د تکبیر تحریمه ده، هغه جمله چې انسان د دنیا له خبرو جلا کوي، او د عبادت په تقدس کې يې ننباسي، تکبیر داسې ویل کیږي: «اللَّهُ أَكْبَرُ»، د حنفي فقه مطابق لاسونه د غوږونو تر نرمیو پورته کیږي، ګوتې خلاصې وي، مخ د قبلې خواته وي، استاد په نرمه موسکا وویل: دا پورته کول سنت دي، خو د تکبیر تلفظ فرض دی، ځوان لاسونه پورته کړل او تکبیر يې وویه، شامیلا ورته وویل: ځوان ، د تکبیر سره دی نیت تازه شو، له دې وروسته د دنیا خبرې شاته پریږده، ځکه دې ته وایي تکبیر تحریمه ـ هغه تکبیر چې په ځینو شیانو تحریم راولي، لکه خبرې، خوراک، حرکتونه، دا ټول چې مخکې مباح وو اوس حرام دي تر سلام پورې.

## قیام

ځوان قیام ونیوه، ځوان ودرېد لکه د یوې نرۍ ستنې په شان چې د آسمان رڼا پرې لګیږي، استاد ورته وویل: قیام په فرض لمانځه کې فرض دی، په سنت کې سنت دی، په نفل کې که څوک نه شي کولای ناست هم کولای شي، خو په فرض کې د قدرت او سلامتیا لرلو سره په نه درېدو سره لمونځ نه سمیږي، لاسونه د نامه لاندې نیول کیږي، ښی لاس به د چپ پر مټ اوښتې

ketabton.com - The Digital Library


وي، شاميلا ورو وويل: په حنفي فقه کې د سينى پر ځاى د نامه لاندې نيول سنت دي.

## ثناء

استاد وويل: اوس به ثناء ويل کيږي، د لمانځه لومړى ذکر:

»سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ«

دا سنت دى، پرېښودل يې لمونځ نه فاسدوي، خو د لمانځه ښکلا کمه کړي.

وروسته ځوان وويل: استاد، قرائت څه وخت فرض دى؟ استاد وويل: ځوان ، په فرض لمانځه کې د امام شاته قرائت کول مکروه تحريمي دي، مقتدى بايد چوپ وي، امام به په پټه يا په لوړ غږ لولي، د قيام په حالت کې په هغه لمانځه کې چې يوازې کوې يا امام يې يې، نو د حمد تلاوت فرض دى، پرته له «الفاتحه» نه لمونځ نه کيږي، او د سورت لوستل په دوو لومړيو رکعتونو کې واجب دي، له الفاتحې وروسته ويل کيږي، ځوان د زړه په هيبت سره وويل: استاده، ترتيب يې څه دى؟ استاد ورته وويل: د قرائت سنت ترتيب دا دى چې لومړى ووايي: «أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ» بيا: «بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ» وروسته الفاتحه: «الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ...» تر «وَلَا الضَّالِّينَ» پورې، په اخر کې «آمِينَ» په چپه ويل سنت دى، او وروسته به يو سورت يا درې آيتونه وايي لکه: «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ»، دا واجب دى په دوو لومړيو رکعتونو کې.

ketabton.com - The Digital Library


# رکوع

مور رکوع ته لاړو، استاد وويل: د رکوع نيت نه کيږي، بلکې تکبير سره هغه ته ځي، او د رکوع ذکر واجب دی، چې وايي: «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ» درې ځلې، او د ملا برابرول واجب دی، ځوان چې رکوع وکړ د ملا خط يې سم شو، استاد وويل: ځوان ، د رکوع دا کوږوالی د عاجزۍ نښه ده، که څوک لږ ټيټ شي نه سميږي، که ډېر ټيټ شي بيا دا سجده ته نږدې کيږي، نو ميانه سنت دی.

# د رکوع قيامه

مور له رکوع نه پورته شو، استاد وويل: دا قيام وروسته له رکوع سنت دی، اذکر يې دا دی: «سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» د امام لپاره، او مقتدی وايي: «رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ»،

# سجده

بيا مور سجدی ته لاړو، د سجود په وخت استاد وويل: د سجدی ځای د لمانځه زړه دی، او ذکر يې واجب دی، چې وايي: «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى» درې ځلې، په سجده کې شپږ غړي بايد ولګيږي: تندی، پوزه، دواړه لاسونه، دواړه زنګونونه او د پښو ګوتې، که قصداً نه ولګيږي سجده نه کيږي، او د ښځې سجده په نرمه او راټوله ښه سنت ده.

ketabton.com - The Digital Library



# قعده

موږ قعدې ته کيناستو، استاد وويل: قعده دوه دي، لومړۍ واجبه ده، دوهمه فرض ده، په لومړۍ قعده کې تشهد ويل کيږي:

»اتَّحِيّاتُ للهِ والصَّلَواتُ والطَّيِّباتُ،

السَّلامُ عَلَيکَ أيُّهَا النَّبِيُّ ورَحمَةُ اللهِ وبَرَکاتُهُ،

السَّلامُ علَينَا وعَلی عِبادِ اللهِ الصّالِحينَ،

أشهَدُ أن لا إلهَ إلّا اللهُ، وَأشهَدُ أنَّ مُحَمّدًا عَبدُهُ ورَسولُهُ«

او په آخري قعده کې وروسته له تشهد درود ويل سنت دی:

»اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ آلِ مُحَمَّدٍ،

كَمَا صَلَّيْتَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَعَلَىٰ آلِ إِبْرَاهِيمَ،

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلَىٰ آلِ مُحَمَّدٍ،

كَمَا بَارَكْتَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَعَلَىٰ آلِ إِبْرَاهِيمَ،

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

او وروسې دعا ويل سنت دی:

»اللَّهم رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً،

ketabton.com - The Digital Library


وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً،

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

یا هره مشروع دعا، خو په عربي ژبه، ځکه د لمانځه په دننه کې غیرعربي دعا د حنفي فقه مطابق لمونځ فاسدوي.

## سلام

د لمانځه مهر د سلام سره کیږي، چې وایي: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ» د ښي او بیا د چپ لوري ته، لومړی سلام واجب دی، دوهم سنت دی.

## سجده سهوه

ځوان په حیرت وویل: استاد، که څوک تېروتنه وکړي؟ استاد وویل: د سهوی سجده دی وکړی، دا واجب ده که څوک د واجب ترک وکړي یا په فرض کې کوچنی خطا وکړي، طریقه دا ده چې په آخري قعده کې له تشهد وروسته په دوو سجدو لمونځ بشپړیږي، ذکر یې د سجود په شان دی او وروسته بیا تشهد او سلام ویل کیږي.

## هغه شیان چې لمونځ خرابوي

شامیلا وویل: استاد، کوم شیان لمونځ خرابوي؟ استاد په نرمه لهجه وویل: ډېرشیان دی، لکه خبرې، قهر، خوراک، اوبو څښل، په خندا خندل، د قبلې پرېښودل، په قصدي توګه درې مسلسل عملونه کول، او همدارنګه د عورت ښکاره کېدل، د نجاست لیدل، دا ټول مبطل دی.

ketabton.com - The Digital Library



# هغه شیان چې مکروه دي

او کوم شیان مکروه دي؟ استاد وویل: ډېر، لکه د لمانځه په منځ کې په ګوتو لوبې کول، آسمان ته کتل، د جامو سره بې ځایه حرکت، د خیراتو مخلوط نیت، د امام څخه مخکې کار کول، د ښځې لپاره لوړ آواز، دا ټول مکروهات دي چې ثواب کموي، خو لمونځ نه فاسدوي.

ځوان د تعجب په ژور سکوت کې وویل: استاد، دا ټول علم یوازې د یو ساده لمانځه د جوړښت بنسټونه دي؟ استاد ځواب ورکړ: هو ځوان ، دا د عبادت د روح هندسه ده، خو اصلي ښکلا هغه وخت راښکاره کیږي چې موږ د هر فرد د لمونځونو په زړه کې ورننوځو، لکه د سهار سپینه رڼا، د ماپښین د لمبو سکون، د ماځیګر د سرو وړانګو هیبت، د ماښام د نرمو ژیړ رڼاوو نرمه دعا، او د ماخوستن د شپې په تیاره کې د زړه بې‌خوبۍ.

کله چې موږ د عبادت د ښار په منځ کې د لوی منار د زرینې سیورې لاندې ودرېدو، د ښار د مؤذن غږ په هوا کې داسې ګډېدو لکه د سپینو وریځو په منځ کې د رڼا د یوه بلبل غږ چې د ارامۍ څپه راوړي، استاد خپل عصا په ځمکه ډک وواهه، موږ دواړه ودرېدو، او هغه په ټیټه خو ژوره لهجه پیل وکړ: ځوان ، نن به د پنځو وختونو د لمانځونو د زړه سفر کوو، دا هغه سفر دی چې د بندګي هر ورځنۍ لحظه د آسماني نظم په تار نښلوي. هر لمونځ د یوې ځانګړې

ketabton.com - The Digital Library


فضا، ځانګړي نیت، ځانګړي روح او ځانګړي ادب لري. راځه د فجر په سپینه رڼا کې قدم ږدو.

## فجر ده سهار لمونځ– د رڼا لمرینه دانه

کله چې د فقه ښار ته د فجر یا سهار رڼا د سپین څراغ په څېر پر غره ولوېده، موږ د فجر د محراب مخې ته ودرېدو، استاد وویل: ځوان ، فجر دوه رکعته سنت لري او دوه رکعته فرض، سنت یې د پیغمبر ﷺ د ټینګ تاکید له کبله له ټولو سنتونو نه افضل دی، او فرض یې د ورځې د عبادت دروازه ده. نیت په زړه کېږي، په زړه کې وایي: د فجر فرض لمانځم، او که غواړي په ژبه هم داسې وایي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلَّهِ تَعَالَى فَرْضَ الفَجْرِ»، خو شرط نه دی. سنت د فجر د لمانځه د روح یوه ښکلي بڼه ده، په دې کې د حمد وروسته په لومړۍ رکعت کې «قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ...» یا «قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ»، او په دویمه کې «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ» لوستل مستحب دي. موږ د سنت دوه رکعتونه ادا کړل، شامیلا ورو وویل: استاد، د ښځې لپاره سنت او فرض دواړه یو شان دي؟ استاد وویل: هو، خو د ښځې تسبیحات په ارام، د بدن راټول حالت، او د غږ نرمي سنت دي.

وروسته موږ د فرض په قیام ودرېدو، استاد وویل: د فجر سهار فرض په دوه رکعتونو ولاړ دی، په دواړو رکعتونو کې سورت لوستل واجب دی، په قیام کې به لومړی «أَعُوذُ بِاللَّهِ» او «بِسْمِ اللَّهِ» وایي، وروسته الفاتحه، او پسې یو سورت، او د فجر سهار په فرض کې اوږد قرائت سنت ده. ځوان په حیرت وویل:

ketabton.com - The Digital Library


استاده، اذکار يې څنګه دي؟ استاد په نرم غږ وويل: د رکوع ذکر «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ»، د سجود ذکر «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى»، د قعدې تشهد: «التَّحِيَّاتُ...»، درود: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ...»، او بیا دعا: «رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا...» یا «اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي...». د فجر فضیلت داسې دی چې رسول الله  ویلي: د فجر دواړه رکعتونه د دنیا او څه چې پکې دي تر ټولو غوره دي.

## ظهر یا ماپښین

کله چې د فقه ښار د لمر سر زرین شو او ښار په ارامه هوا کې ډوب شو، موږ د ظهر د لوی تالار مخې ته درېدو. استاد وویل: ځوان ، د ظهر لمونځ څلور سنت، څلور فرض، دوه سنت او دوه نفل لري، دا ترتیب د ورځې د عبادت نظم دی. لومړی څلور رکعته سنت ادا کیږي، په دې سنت کې د قرائت اوږدول مستحب دي، په هر رکعت کې د حمد وروسته يو سورت لوستل سنت دی، موږ سنتونه ادا کړل. بیا استاد وویل: اوس فرض دی، د فرض د څلورو رکعتو نیت داسې دی:

" نیت کوم د زړه د اخلاصه چې د ماپښین څلور رکعته فرض لمونځ د الله جل جلاله د رضا لپاره ادا کوم. الله اکبر"، په لومړۍ دوو رکعتونو کې سورت واجب دی. ځوان چې د رکوع او سجود حالت نیوه، استاد ورته وویل: په

ketabton.com - The Digital Library


فرض کې د ادب دا دی چې د بدني سکون مراعت شي، ځکه تطمئین واجب نه دی خو د سستي مخنیوی شرط دی.

وروسته مو دوه سنتونه ادا کړل، شامیلا ووېل: د دې سنتونو ثواب څه دی؟ استاد ووېل: دا د فرض ساتندویان دي، لکه د سپر سپین رنګه وزر چې بدن ته سیوری جوړوي. بیا دوه نفل دي، کوم چې د دې وخت د خیر تکمیل دی.

## عصر د ماځیګر لمونځ

کله چې د فقه ښار اسمان د سرو رڼو نازکو کرښو څخه ډک شو، د ماځیګر د لمانځه وخت راورسېد. استاد ووېل: د ماځیګر مخکې سنت نشته، خو نفل شته، چې ثواب لري، خو سنت مؤکد نه دي. د مازیګر فرض څلور رکعته دي، نیت یې داسې دی: «نَوَیْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلَّهِ تَعَالَى فَرْضَ العَصْرِ»، د قرائت ترتیب د ظهر په شان دی، په لومړۍ دوو رکعتونو کې سورت واجب دی، په وروستیو دوو کې نه. استاد ووېل: د عصر د فرض ادا کول سخت تاکید لري، په ځانګړې توګه د دې وخت د رنګ له امله چې د ورځې د حساب دروازه ورته وایي. شامیلا د سجود په وخت کې ووېل: استاده، د عصر په وخت کې کوم مکروه عمل شته؟ استاد ووېل: د عصر له لمانځه وروسته نفل کول مکروه دي تر غروب پورې، ځکه دا وخت د مکروه وخت یو ډول ته نږدې دی.

ketabton.com - The Digital Library


## مغرب‌ماښام لمونځ

کله چې لمر د فقه ښار شا ته پناه یوړه او اسمان د ژیړ رنګ پټه سره ووهله، موږ د مغرب د محراب مخې ته کیناستو. استاد وویل: د مغرب درې رکعته فرض لري، نفل وروسته سنت دي، د مغرب وخت ډیر لنډ دی، نو ترتیب او چټکتیا په ادب سره پکې غوره دي. نیت داسې دی: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلّٰهِ تَعَالَى فَرْضَ المَغْرِبِ». په درې رکعتونو کې په لومړۍ دوو رکعتونو کې سورت واجب دی، په دریم کې نه دی. د مغرب سنت دوه رکعته دي، بیا دوه نفل په اختیار. د مغرب د فرض ادا کول د زړه نرمي راولي، ځکه د ورځې په وروستۍ لحظه کې د بندګي ختمه د زړه له نازک تارونو جوړیږي.

## عشا د ماخوستن لمونځ ، د شپې د سکون لمونځ

کله چې د فقه ښار په تیاره کې د ستورو نرمه رڼا خپره شوه او د ښار سکرین په نرم آسماني رنګ بدل شو، استاد وویل: ځوان ، عشا څلور سنت، څلور فرض، دوه سنت او درې وتر لري، چې وتر په حقیقت کې د شپې تاج دی. لومړی څلور سنت دي، بیا د فرض څلور رکعته، نیت یې دا دی: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلّٰهِ تَعَالَى فَرْضَ العِشَاءِ». د فرض وروسته دوه سنت دي، بیا نفلونه، او تر ټولو وروسته درې رکعته وتر دي، چې د وتر د نیت الفاظ داسې دي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ لِلّٰهِ تَعَالَى صَلَاةَ الوِتْرِ»، په وتر کې قنوت واجب دی، قنوت په دریم

ketabton.com - The Digital Library



رکعت کې د رکوع نه مخکې ویل کېږي: «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ...» تر پایه پورې، او که څوک هیر کړي نو د سهو سجده واجب ده.

عشا د شپې د عبادت دروازه ده، او وتر د شپې د بندګي نښه، او سنت یې د روح صفا ده. استاد وویل: ځوان ، هغه څوک چې د عشا او فجر لمونځ په جماعت وکړي د ټوله شپې عبادت ثواب لري، او هغه څوک چې وتر پرېږدي د رسول الله □ د تاکید مخالفت کوي.

استاد په پای کې وویل: ځوان ، دا پنځه لمونځونه د ورځې د روح پنځه ستنې دي، که د دې یو هم کمزوری شي، روح د سکون ښکلا له لاسه ورکوي، خو که پیاوړي وي، د انسان په زړه کې داسې رڼا پیدا کوي چې د ژوند په هر ګوټ کې یې اغېز ښکاري.

استاد موږ دواړه د هغه لرغوني انګړ خوا ته بوتلو چې د عبادت د نفلونو ښار ورته ویل کېده، او د زړو محرابونو په دېوالونو یې د زمانې د عابدانو رڼې څېرې لا هم پرتې وې. استاد په ډېر نرم دننهه موسکا وویل: ځوان ، عبادت یوازې فرض واجب نه دی، بلکې د روح هغه نازک تارونه چې د بنده او رب تر منځ خاموشې اړیکې جوړوي، په سنتونو، نفلونو، او د شپې په پټو رازونو کې زېږي. راځه نن شپه او ورځ د همدې مخفي خزانو په کوڅو کې سفر وکړو.

ketabton.com - The Digital Library


## سنتونه

لومړی استاد د سنتونو د ښار دروازه خلاصه کړه او وې ویل: سنتونه د پیغمبر ؏ د ژوند د رنګونو تقلید دی، په دې کې سنت مؤکد شته، لکه د سهار دوه رکعته، د ماپښین څلور مخکې او دوه وروسته، د ماښام دوه وروسته، د ماخوستن دوه، او غیر مؤکد سنتونه شته، لکه د ماځیګر مخکې او د ماښام له سنتو وروسته نفلونه. د سنت د نیت اصل په زړه کې دی، او په ژبه که څوک وایي نو مثلاً د سهار د دوو سنتو نیت دیووایي: «نَوَیْتُ أَنْ أُصَلِّيَ رَكْعَتَیْنِ سُنَّةَ الفَجْرِ أَدَاءً لِلّٰهِ تَعَالَی...»استاد وویل: سنت د محبت عبادت دی، هغه څوک چې سنتونه پرېږدي، د محبت لویې دروازې تړلي پرېږدي.

## نفلونه

وروسته موږ د نفلونو په ښار قدم کېښود، هغه ښار چې خاموشه کوڅې یې د شپې د عبادت د پټ رازونو نه ډکې وې. استاد وویل: نفل د قربت د لارې یوه آزاده رڼا ده، په دې کې د انسان زړه یوازې د خپل رب په حضور کې ولاړ وي، پرته له دې چې د فرض د پابندۍ مسؤلیت پرې وي. په دې ښار کې د اشراق، چاشت، او اوابین درې ښکلي محرابونه ولاړ وو. اشراق هغه لمونځ دی چې د لمر له راختلو لږ وروسته ادا کیږي، دوه یا څلور رکعته، په نیت کې بنده وایي: «نَوَیْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ الإِشْرَاقِ»، دا لمونځ د رزق پراخي سبب دی.

ketabton.com - The Digital Library


چاشت بیا د ورځې د منځنۍ رڼا لمونځ دی، دوه، څلور، شپږ یا اته رکعته، او د دې ثواب د پیغمبر ع د سپارښتنو له ښکلا نه ډک دی. شامیلا ورو وویل: استاده، د چاشت په لمونځ کې کوم ذکر ځانګړی دی؟ استاد وویل: ذکر په زړه دی، خو د سجود اوږدول یې د شکر نښه ده. بیا استاد د اووابین محراب ته اشاره وکړه او ویې ویل: دا د ماښام د نفل عبادت محراب دی، د مغرب وروسته شپږ رکعته، چې د زړه نرمښت پکې پیدا کیږي.

## تهجد

ورو ورو موږ د شپې د عبادت د ښار په منځ کې ورننوتو، هغه ښار چې د تهجد د سپینو څراغونو رڼا د فقه په کوڅو نرمه خپره شوې وه. استاد وویل: ځوان ، تهجد د بندګي د مینې ستوری دی، دا هغه لمونځ دی چې په نیمه شپه کې، په هغه وخت کې چې د دنیا شور بند وي، او د آسمان دروازې د دعا پر لور خلاصې وي، ادا کیږي. د نیت الفاظ یې داسې دي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ التَّهَجُّدِ»، دوه دوه رکعته ادا کیږي، او هر څومره چې زیات شي ښه ده. شامیلا ورو وویل: استاده، د تهجد دعا څه ده؟ استاد وویل: ډېرې دعاګانې کیږي، خو د زړه غوښې دا ده چې بنده د خپل رب سره یوازې شي. په رکوع کې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ»، په سجده کې «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى»، او په قعده کې تشهد، درود، او دعا، په هر ځل د زړه په ژړا سره.

ketabton.com - The Digital Library


# صلاة التسبيح

کله چې موږ د ښار په منځ کې يوې زاړې ګنبذ ته نږدې شو، استاد وويل: دا د صلاة التسبيح محراب دی، هغه عبادت چې د ګناهونو د پاکېدو لپاره د يوې ځانګړې طريقې په بڼه نازل شوی. د دې نيت داسې دی: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ التَّسْبِيحِ»، دا څلور رکعته دي،

وروسته له تکبير تحريمه

"·سُبْحَانَكَ اللَّهُمّ..." لوستلو وروسته

·تسبيح ۱۵ ځله وايه.

د سورې وروسته

·الفاتحه + يوه سوره ولوله

·بيا تسبيح ۱۰ ځله وايه.

په رکوع کې

·درې ځل د رکوع معمول اذکار (سبحان ربي العظيم(

·ورپسې تسبيح ۱۰ ځله

له رکوع نه د پورته کېدو حالت

"·رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" وايه

ketabton.com - The Digital Library



·تسبيح ۱۰ ځله

په لومړي سجده کې

·درې ځل د سجدې معمول تسبيح (سبحان ربي الأعلى

·بيا تسبيح۱۰ ځله وايه.

د دواړو سجدو تر منځ

" ·رَبِّ اغْفِرْ لِي"

·بيا تسبيح ۱۰ ځله

په دوهم سجده کی

·درې ځل د سجدې معمول ذکر

·ورپسې تسبيح ۱۰ ځل

په هره رکعت کې به ټوله تسبيح ۷۵ ځله ويل کيږي.

په ۴ رکعتو کې ټول ۳۰۰ تسبيح کيږي.

تسبيح دا ده

سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ

ketabton.com - The Digital Library


که وغواړې "وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ" هم ورسره زیاتولی شې، خو مشهور صورت یې همدا څلور کلمې دي. استاد موږ ته د دې طریقه هم په نرمه لهجه وښودله، چې څنګه په هر رکوع، هر سجده، او د قیام وروسته یې وایی. ځوان په حیرت کې غرق شو او وې ویل: استاده، په دې کې دومره تکرار ولې دی؟ استاد وویل: ځکه چې دا د زړه پاکول دي، او زړونه د تسبیح په تکرار صفا کېږي.

## تراویح

وروسته موږ د تراویحو د ښار په دروازه ورسېدو، د روژې د شپې هغه مبارک عبادت چې د ایمان د خوږوالي نه ډک وي. استاد وویل: د تراویح سنت مؤکد دي، شل رکعته، په دوو دوو رکعتو کې، د قرآن تلاوت پکې کېږي، د نیت کلمات یې داسې دي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ سُنَّةَ التَّرَاوِيحِ». شامیلا په نرمه موسکا وویل: استاده، ولې د تراویح تلاوت دومره اوږد وي؟ استاد وویل: ځکه چې دا د قرآن میاشت ده، او د قرآن د تلاوت رڼا د تراویح له محرابه ځلېږي.

## استخاره

په پای کې موږ د استخارې محراب ته ورسېدو، هغه محراب چې د ژوند د پرېکړو د رڼا سرچینه بلل کېږي. استاد وویل: ځوان ، استخاره د زړه د مشورې

ketabton.com - The Digital Library



عبادت دی، دوه رکعته، د نیت الفاظ یې داسې دي: «نَوَیْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ الاِسْتِخَارَةِ»، وروسته دعا کیږي، د دې دعا عربي متن داسې دی: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ...» تر پایه پورې، او بنده د زړه ارام او د لوري رڼا ته ګوري. شامیلا ورو وویل: آیا خوب شرط دی؟ استاد وویل: نه، بلکې د زړه پرېکړه د استخارې لویه نښه ده.

استاد په وروستی ځل وویل: ځوان ، دا ښارونه د عبادت د ښکلا نازکې دروازې دي، څوک چې سنت او نفل پرېږدي، هغه د عبادت د محبت نیمایي له لاسه ورکوي، او څوک چې

د شپې عبادت وکړي، د ورځې رڼا یې هم په زړه کې ښکاري.

کله چې د فقه ښار اسمان د جمعې د غرمې په رڼا کې داسې ځلېد لکه د یوې سپینې ورځې پر مخ د رحمت دروازه پرانیستل شوې وي، استاد مور دواړه د ښار هغه ستر تالار ته بوتلو چې د زرینو ګنبذونو سیورې پرې پروت و او د پرېوتلو لمر وړانګې یې د محراب له سرې ښکلا سره ګډېدې.

## جمعه

استاد مخکې لاړ، مور دواړه ورپسې، او هغه وویل: د جمعې غسل سنت مؤکد دی، پاکي، خوشبويي، پاک کالي، او د مسجد ژر تلل د ادب برخه ده. کله چې

ketabton.com - The Digital Library


موږ د تالار غولي ته ورننووتو، استاد وویل: ځوان ، د جمعې د اذن نه مخکې نیت دا دی چې سنتونه ادا کړل شي، څلور رکعته، په نیت کې وایې: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ سُنَّةَ الجُمُعَةِ قَبْلَ الخُطْبَةِ.«

شامیلا په موسکا وویل: استاده، ولې د جمعې سنتونه د نورو له سنتونو لوړ ګڼل کیږي؟ استاد ځواب ورکړ: ځکه چې دا د خطبې د عزمت پرده ده، او د زړه د تیارۍ مرحله

ورو ورو د خطبې د اذان غږ په هوا کې خپور شو، موږ چوپ شو، او استاد وویل: د خطبې په وخت کې سکوت واجب دی، څوک چې خبرې وکړي یا سړی ته ووایي چې چوپ شه، د هغه جمعه نه نقصانیږي خو ثواب یې کمیږي. خطبه دوه برخې لري، لومړۍ برخه د حمد، صلوات، تقوا، او نصیحت له رڼا ډکه ده، دویمه برخه هغه دعا ده چې د آسمان د دروازو پر لور خپژي. استاد د عربي خطبې یوې برخې ته په اشاره وویل: «إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ...» او د دعا برخه چې تر پایه: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ...». شامیلا وویل: استاده، د خطبې په منځ کې کوم ذکر ویل کیږي؟ استاد وخندل: یوازې سکوت، ځکه همدغه سکوت د ادب آواز دی. خو که نوم د محمد صلی الله علیه وسلم راغلي ، نو صلی الله علیه وسلم په زړه کی وایه

وروسته موږ د جمعې د فرض لمانځه لپاره ودرېدلو، دوه رکعته، نیت یې داسې دی: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ الجُمُعَةِ»، امام په لوړ غږ قرائت کوي، په لومړۍ رکعت کې سورت، په دویمه کې هم. د جمعې وروسته دوه سنت دي، بیا څلور سنت، او بیا دوه نفل، هر یو د زړه په نرمو قدمونو ادا کیږي. استاد وویل:

ketabton.com - The Digital Library



ځوان ، د جمعې د ورځې په اخیر کې یوه قبولونکې لحظه شته، چا چې دعا په کې وکړي، نه ردیږي. شامیلا په حیرت وویل: کومه لحظه؟ استاد ورته موسکا وکړه: یا د امام د سلام نه وروسته د ماښام تر وخت، یا د عصر تر غروب پورې، او دا دواړه د رحمت د زمانو دروازې دي.

## اخترونه

وروسته موږ د فقه ښار له منځ نه د اختر د لوی میدان په لوري روان شو، د هوا بوی بدل شو، د خوشحالۍ، تکبیر، او د رڼا د غږونو بوی خپور و. استاد وویل: اختر د امت د خوښۍ ورځ ده، په دې ورځ د ورځنیو غمونو څخه د زړونو پاکول یو ډول عبادت دی. د اختر په سهار د تکبیر غږونه پورته کیږي: «اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ...». د اختر غسل سنت دی، پاک کالي، خوشبویي، او د میدان پر لور د تکبیر په وردونو تګ د سنت ښکلا. موږ د اختر محراب ته ورسېدو. استاد وویل: د اختر لمونځ دوه رکعته دی، د قربانۍ اختر او د کوچني اختر دواړه، فرق یې په تکبیرونو کې دی. د کوچني اختر تکبیرونه درې درې مخکې دي، د قربانۍ اختر هم همداسې، امام په لوړ غږ قرائت کوي، د نیت الفاظ یې داسې دي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ الْعِيدِ». د خطبې لپاره خلک کیني، او خطبه د دعا، حمد، او نصیحت له بوی نه ډکه وي

## جنازه

څو قدمه وروسته موږ د جنازې د محراب مخې ته ورسېدو، هغه ځای چې د زړه نرمښت پکې د خپلو ورونو د وداع له درد سره یوځای کېږي. استاد وویل: جنازه لمونځ د ژوند او مرګ تر منځ یوه د رحمت معامله ده. په دې کې رکوع او سجده نشته، یوازې څلور تکبیرونه دي. نیت داسې دی: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ عَلَى هَذَا المَيِّتِ». په لومړي تکبیر کې «الثَّنَاءُ» ویل کېږي، دویم کې درود: «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ...»، دریېم کې دعا: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ...»، او څلورم کې سلام. شامیلا په غمګین غږ وویل: استاده، د ښځې منزل څوک دی؟ استاد وویل: د ښځې جنازه د پردې په ادب کې ده، او دعا یې د مومنانو د زړونو په سکون پورې تړلې.

## استسقاء

وروسته استاد موږ د ښار له ټولو کوڅو راوتلو، او د دښتې هغې پراخې صحراء ته یې بوتلو چې د استسقاء د دعا ځای بلل کېده، هلته چیرې چې د خلکو زړونه د باران د قطراتو د هیلې په اوښکو ډک وي. استاد وویل: ځوان ، کله چې وچکالي شي، امت د استسقاء د دعا له لارې د آسمان د باران غوښتنه کوي، دا لمونځ دوه رکعته دي، د نفل په شان، د نیت کلمات یې داسې دي: «نَوَيْتُ أَنْ أُصَلِّيَ صَلَاةَ الاسْتِسْقَاءِ». د لمانځه وروسته خطبه کېږي، د خطبې په منځ کې

ketabton.com - The Digital Library



د دعا په لوړ غږ سره ویل کېږي: «اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا هَنِيئًا مَرِيئًا...». خلک خپل کالي اړوي، د عاجزۍ نښه ښيي، ماشومان او زاړه هم راځي، ځکه چې باران د رحمت د سترې معجزې نښه ده

استاد په وروستي ځل د اسمان په لور وکتل او ویې ویل: ځوان ، د استسقاء راز په دعا کې نه، بلکې د زړه د ماتېدو په صدق کې دی، ځکه چې باران د ځمکې دعا نه، بلکې د انسان د زړه د

توبې ثمره ده.

کله چې د فقه د ښار د ټولو دروازو په اوږدو سفر کې زموږ ګامونه ورو ورو د یوې داسې غونډۍ په سر ورسیدل چې له هغې نه د ټول ښار محرابونه، ګنبذونه، منارونه، د اذان د غږونو څپې، د شپې د عبادت د شمعو رڼاوې، د جنازو چوپتیا، د اختر میدانونه، د استسقاء د دعا د خاورې بوی، او د جمعې د تالار عظمت ټول په یوه تصویر کې راټول ښکاره کېدل، استاد په نرم قدم په همدې غونډۍ پورته شو، زموږ دواړو خوا ته ودرېد، او داسې چوپتیا خپره شوه چې د باد هم ساه ورو شوه، لکه د وخت ساعت هم د احترام په چوپ کې د استاد د خبرو انتظار

کوي. استاد وویل: ځوان ، زویه، هر څه چې دې د فقه ښار په کوڅو کې په ماپسې لیدلي، اوریدلي، پوښتلي، او په خپلو سترګو د عبادتونو په هر محراب کې احساس کړي، دا ټول یوازې د حکمونو لیست نه و، بلکې د بندګي د زړه نقشه وه. فقه یوازې څه کول او څه نه کول نه دي، فقه د روح هغه هندسه ده

ketabton.com - The Digital Library


چې بنده د خپل رب په حضور کې نبغ او ښکلی دریږي. زه تاسو دواړو ته وایم چې د عبادتونو په دې ښار کې تر ټولو لوی درس، د اخلاص درس دی.

شامیلا ورو وویل: استاده، موږ د فرض نه تر نفل، د سنت نه تر استخارې، د جنازې نه تر تراویح، د جمعې نه تر استسقاء پورې هر څه زده کړل، نو دا ښار څه راز لري چې پای یې نه ښکاري؟ استاد موسکی شو: ځکه چې د عبادت ښار پای نه لري، د انسان د زړه د اړتیا په اندازه ژور دی. عبادت لکه یو سمندر دی، تاسو یې څپه څپه سفر کړ، خو تل د یوې نوې څپې غږ پکې وي. ځوان په چوپتیا کې د ښار لور ته کتل، د محرابونو رڼا په سترګو کې ورننوتله، او وې ویل: استاده، که دا ښار د عبادت د روح تصویر وي، نو موږ به څنګه دا رڼا له ځان سره وباسو؟ استاد د ځوان په اوږه لاس کېښود او وویل: د رڼا ساتلو راز په عمل کې دی، نه په یادولو کې. فقه هغه وخت ژوندی کېږي چې په زړونو کې سپین شي او په ورځني ژوند کې په عمل بدلې شي.

استاد د اسمان په لور وکتل، لکه د رحمت د دروازو پرانستل یې په خپلو سترګو لیدل، او بیا یې په ارام غږ وویل: ځوان ، د عبادت ټول رازونه په درې ټکو کې راټولیږي: نیت، خشوع، دوام. نیت د عمل روح دی، خشوع د عمل ښکلا ده، او دوام د عمل ثبات. څوک چې نیت پاک کړي، د زړه د حضور په نرمو څپو کې ودریږي، او عبادت پرې نږدې ، هغه د رب د رحمتو په باران لمدیږي.

ketabton.com - The Digital Library


ورو وروسته استاد خپلې سترګې لږې ټیټې کړې، داسې چې د زړه غږ یې په کلمو مخکې روان و، او ویل: اوس راځئ چې د دې ټول سفر روح په یوه دعا کې وتړو. استاد خپل لاسونه پورته کړل، موږ دواړو ورسره، او د اسمان خاموشي د دعا په بوی کې ډوبه شوه، استاد وویل: «**اللَّهُمَّ اجْعَلْ هَذَا العِلْمَ نُورًا فِي قُلُوبِنَا، وَبَرَكَةً فِي أَعْمَالِنَا، وَهُدًى فِي طَرِيقِنَا، اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَلَا يَعْمَلُونَ، وَاجْعَلْنَا مِنَ الَّذِينَ إِذَا عَلِمُوا انْتَفَعُوا، وَإِذَا عَبَدُوا خَشَعُوا، وَإِذَا سَارُوا إِلَيْكَ وَصَلُوا**». د دعا په منځ کې د باد یو نرمه څپه راپورته شو، لکه د رحمت نښه چې دعا یې واخسته.

شامیلا چې د دعا په منځ کې د سترګو اوښکې په پاڼو وځلېدې، وویل: استاده، که موږ له دې ښار ووځو، ایا بیا به یې لار ورکه نه کو؟ استاد موسکا شوه: د فقه ښار د لارې نښه د کتاب په مخونو کې نه ده، په زړه کې ده. تاسو دواړو ته مې دا ښار زده کړ، خو د زړه د ښار دروازه یوازې په توبه، په ذکر، او په دوامداره عمل خلاصیږي.

ځوان په وروستي ځل ښار ته مخ واړاوه او داسې احساس یې کاوه لکه د عبادتونو ټول رڼاګانې د زړه په حافظه کې د تل لپاره د نقش په څېر کېښودل

ketabton.com - The Digital Library


شوې وي. استاد ورو وویل: اوس تاسو د فقه ښار له ټولو محرابونو تیر شوئ، د مسجد له ادب نه تر تهجد، د فرض نه تر نفل، د جمعې له خطبې تر د باران د دعا پورې، نو زما وروستۍ خبره دا ده: هر عبادت چې په محبت وشي، عبادت کیږي، او هر عبادت چې بې محبته وي، یوازې حرکت دی. عبادت د عشق عمل دی، د رب د حضور جوتېدل دي، او د زړه پاکول دي.

ورو ورو د لمر وروستۍ وړانګه په ښار خپره شوه، او موږ درې واړه په چوپتیا کې روان شوو، داسې چوپتیا چې دا اوږد سفر یې په یوه سپېڅلې تنده بدل کړ، او داسې احساس یې راکاوه لکه د فقه ښار رڼا زموږ له زړه نه بیخي نه جلا کیږي

کله چې د علم ښار د رڼو برجونو له منځه د سپوږمۍ سپین رڼا په نرمۍ خپرېده، ځوان او شامیلا د خپلو علمي سفرونو، د کرهنې د رازونو، د خاورو د ډولونو، د اوبو د سیستمونو او د نباتاتو د ژوند له عجایبو وروسته، په یوه عجیبه او زړه‌رابښکونکې مینه کې سره وتړل شول.د علم ښار خلکو د هغوی واده داسې په شور، مستۍ او رنګینو څراغونو ولمانځه، لکه چې اسمان ته نوي ستوري ورزیات شوي وي.

د دوی واده عادي واده نه و د ودونو تالار د شنو باغونو ترمنځ جوړ شوی و، چې دیوالونه یې له زرغونو ونو، ځلېدونکو ګلونو، او د اوبو له شفافو څاڅکو جوړ ښکارېدل.

د تالار په منځ کې یوه لویه شنه حلقه وه چې له هغې څخه د رڼا وړانګې پورته کېدې، او هره وړانګه د علم، محبت او امید یو نوی فصل بیانوه.

ketabton.com - The Digital Library


په هوا کې د مرغانو له سندرو سره د مینې نغمه ګډه وه، او د سپوږمۍ له رڼا سره داسې جادويي ذرات ورېدل لکه د ستورو سپین زر.

ځوان به چې شامیلا ته کتل، نو د علم ښار د ټولو کرهنیزو درسونو ښکلا به یې په زړه کې تازه کېده.

شامیلا به په موسکا ورته ویل:

مور یوازې د خاورې، اوبو او فصلونو رازونه زده نه کړل، بلکې دا مو هم زده کړل چې مینه هم د یوې ونې په شان روزنې ته اړتیا لري.

له څو کلونو وروسته، الله تعالی دوی ته درې اولادونه ورکړل: یو زوی او دوه لونې، ماوا، سون، او اسرار

د هغوی کور د خندا، علم، او مهربانۍ کور شو.

ماشومانو به هر سهار د پلار او مور ترڅنګ د باغ پر لور منډې وهلې، د ګلانو نومونه به یې زده کول، د اوبو څاڅکي به یې شمېرل، او د شګو، خټې او لومې خاورې توپیر به یې د لوبو په رنګ کې پېژنده.

ځوان به خپلو اولادونو ته ویل:ښه انسان هم د ښې ځمکې په شان وي؛ که په علم، اخلاقو او محبت اوبه ورکړل شي، نو ښه مېوه به ورکړي.

شامیلا به ورته ور زیاتوله:او د کور شتمني په مال نه، بلکې په پوهه او سوله کې ده.

ketabton.com - The Digital Library



کلونه تېر شول، او د دوی کور د برکت، علم او محبت په یوه ښکلي باغ بدل شو.

خو د کیسې تر ټولو عجیبه شېبه هغه مهال راغله چې یوه ورځ شامیلا وویل ځوان نن غواړم ستا د خوښې خواړه پاخه کړم (شلین ماشلین)چې د دوی د یادونو ځانګړې خواړه وه، ځوان ویل په پوره مینه او خوند سره یې تیار کړې. او زه به هم شلومبی جوړی کړم ،

دوی ټول له یوه لوی، رنګین دسترخوانه چاپېرکښیناستل.ماشومانو خندل، ځوان شامیلا ته په مینه وکتل، د شلومبو خوند او د شلین ماشلین بوی له واقعیت نه ورهاخوا یو عجیب سکون خپور کړ.

هماغه شېبه، هر څه ورو ورو ګډوډ، سپین، او رڼا ته ورته شول...

او ناڅاپه!

ځوان له خوبه راویښ شو.

هماغه ځای کې ویده و، چې د کیسې په پیل کې پروت و.

شاوخوا یې چوپتیا وه.

نه د علم ښار برجونه وو، نه د واده شور، نه د ماشومانو خندا، او نه هم د شلین ماشلین بوی...

ځوان ورو ورو موسک شو او په ځان کې یې وویل دا ټول یوازې یو څو ګړۍ خوب و؟

ketabton.com - The Digital Library



خو په دې خوب کې هغه داسې څه لیدلي وو چې د ټول عمر لپاره به ورسره پاتې وي:

علم، مینه، کور، اولاد، او د یوې پاکې، هوسا او فانتزي نړۍ خوږه هیله.

او له هماغې ورځې وروسته، ځوان  پوه شو چې ځینې خوبونه یوازې خوب نه وي

ځینې خوبونه د ژوند د جوړېدو لپاره پیغام وي.

پای

ketabton.com - The Digital Library




| شماره | فهرست | صفحه | شماره | فهرست | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۲ | ۲۷ | د جغرافيې ښار | ۶۰ |
| ۲ | شروع | ۴ | ۲۸ | حکومت | ۶۳ |
| ۳ | د سپینږیري اوستاد کیسه | ۱۱ | ۲۹ | اقتصاد | ۶۵ |
| ۴ | د طب زدکړه | ۱۵ | ۳۰ | ادبیات | ۷۰ |
| ۵ | مغز | ۱۵ | ۳۱ | شعر | ۷۲ |
| ۶ | زړه | ۱۶ | ۳۲ | د روح ښار | ۷۴ |
| ۷ | پښتورګی | ۱۷ | ۳۳ | د لمانځه ښار | ۷۹ |
| ۸ | معده | ۱۸ | ۳۴ | طهارت | ۸۱ |
| ۹ | اینه کبد | ۱۸ | ۳۵ | غسل | ۸۲ |
| ۱۰ | یوناني طب | ۱۹ | ۳۶ | تیمم | ۸۲ |
| ۱۱ | د انسان د بدن درې مهم سیستمونه | ۲۰ | ۳۷ | نجاست | ۸۳ |
| ۱۲ | د ناروغیو پیژندنه او درملنه | ۲۲ | ۳۸ | وختونه | ۸۳ |
| ۱۳ | د زړه ناروغي | ۲۳ | ۳۹ | نیت | ۸۳ |
| ۱۴ | شکر | ۲۳ | ۴۰ | قیام | ۸۵ |
| ۱۵ | سرطان | ۲۴ | ۴۱ | ثناء | ۸۶ |
| ۱۶ | ریاضي ښار | ۲۵ | ۴۲ | رکوع | ۸۷ |
| ۱۷ | د کرنې او زرعت تالار | ۲۹ | ۴۳ | د رکوع قیامه | ۸۷ |
| ۱۸ | د وچکالۍ او د خاورې د ساتنې علم | ۳۴ | ۴۴ | سجده | ۸۷ |
| ۱۹ | د شاتو عسل مچی | ۳۷ | ۴۵ | قاعده | ۸۸ |
| ۲۰ | د تخمونو علم او د نبات د نسل اصلاح | ۳۸ | ۴۶ | سلام | ۸۹ |
| ۲۱ | د اوبو ساتنه او راتلونکي کرنه | ۴۰ | ۴۷ | سجده سهوه | ۸۹ |
| ۲۲ | ټکنالوژۍ ښار | ۴۲ | ۴۸ | هغه شیان چې لمونځ خرابوي | ۸۹ |
| ۲۳ | د تاریخ او تمدن ښار د انسان د سفر موزیم | ۴۸ | ۴۹ | هغه شیان چې مکروه دی | ۹۰ |
| ۲۴ | د تاریخ او تمدن ښار د انسان د کیسې پیل | ۴۹ | ۵۰ | د سهار لمونځ | ۹۱ |
| ۲۵ | کائنات | ۵۰ | ۵۱ | د ماپښین لمونځ | ۹۲ |
| ۲۶ | د حکمت کور | ۵۶ | ۵۲ | د ماخیګر لمونځ | ۹۳ |

ketabton.com - The Digital Library




| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۳ | د مابشام لمونځ | ۹۴ | ۶۰ | استخاره | ۱۰۰ |
| ۵۴ | د ماخوستن لمونځ | ۹۴ | ۶۱ | جمعه | ۱۰۱ |
| ۵۵ | سنتونه | ۹۶ | ۶۲ | اخترونه | ۱۰۳ |
| ۵۶ | نفلونه | ۹۶ | ۶۳ | جنازه | ۱۰۴ |
| ۵۷ | تهجد | ۹۷ | ۶۴ | استسقاء | ۱۰۴ |
| ۵۸ | صلاة التسبيح | ۹۸ | ۶۵ | پای | ۱۱۱ |
| ۵۹ | تراويح | ۱۰۰ | | | |

ketabton.com - The Digital Library





## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*